# ځانګو

ناول

Ketabton.com

یار محمد سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځانګو

(ناول)

لیکوال:

**یار محمد سهار**

**۱۳۹۴ کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ځانګو

لیکــــوال: یارمحمد سهار

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیـزایـن: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۷)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

دا کتاب خپلې خدای ښښلې مور ته چې د لومړي ځل لپا ره يې زما زانګو ځنګولې ده او خپل خواږه عــز تمــن خــدای ښښلي عالم پلار ته چې د لومړي ځل لپاره يې زما په ګوتــو قلم او په لاس کتاب راکړی او هم هغو يتيمــا نــو تــه چــې پلرونه يې په کارتوسو، بمونو او ځانمرګو له خــوا شــهيدان شويدي او هغو خلکوته چې د قلم او کتاب خاوندان دي او همدارنګه يې هغوی ته ډالۍ کوم چې د خپل مور، پلار، د هېواد د يتيمانو د قلم او کتاب د خاوندانو په چوپړ کې دي.

په ډېر درنښت

يارمحمد سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) كال په پيل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهير كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد كال د كب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ كې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې كړل. ملي تحريك په ياده غونډه كې ژمنه وكړه چې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهير كې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه كار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ كړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي كوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه كړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته كړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليكوالو، ژباړونكو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير كې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا كړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى كړى، د زړه له كومې مننه كوي او كور ودانې ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځانګو

د هغې اصلي نوم شاه پيرى وه خو مور او پلار يې له ډېره نازه ورته شـاه پرو ويل د هغې مور او پلار خپله يوه دانه لور داسې ساتله لکـه د ګـلاب ګل.

شاه پرو هم په ښکلا او ښا يېست کې نوم درلود تورو بادامى ستر ګـو او تورو زلفو يې په سيمه کې ا نګازى خپرى کړى وى .

شاه پرو و پيغلتوب ته د رسيدو سره سم يې ديوه ښا يسته ،ښـکلى او د ښو اخلاقو در لو دونکې يوه ځوان سره چې نوى د انجنيرى له فـاکولتى څخه خلاص شوى وه واده وکړ .

د شاه پرو دواده پنځه کاله تير شوه چې يوه لور او يو زوى يې درلودل په هېواد کې هم جنګ او جګړو زور اخيستى وه ، د شا ه پرو مېړه هم ډېرى هلى ځلې وکړى چې له کلى څخه ښار ته لاړ شى خو بخت او وخت يارى ورسره ونکړه ، جګړه په قراره ، قراره زور ونيو ان تر دى چې دا جنګ او جګړې د شاه پرو تر کلى ورسيدى .

ددې سيمې قوماندان څو ځلې پخوا د شاه پرو مېړه جنګ ته را بللـى وه خو د شاه پرو مېړه پوهيده او تل به يې د خپلې مېرمنې سـره ددې بـې مانا او بې ګټې جنګو په باره کې ديوه او بل سره خبرې کولې نو ځکـه د شاه پرو مېړه د سيمې د جنګي قوماندان د جنګ او جګړو خبرې ردولې او ورته ويل به يې دا جګړه نه ده دا ورور وژنه ، زوى وژنه، قـوم وژنـه او هېواد وژنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وه چې په ډېر لیږ وخت کې په سپینه ورځ د شــاه پــرو پــر کلــي د سیمې قوماندان او د هغه جګړه ماران ننو تل په کلي کې اول د شاه پــرو پر کور چپه ولوېده.

د شاه پرو مېړه يې په دې ګناه چې ګواکې فا کولته يې ويلې او په جګړه کې برخه نه اخلی نو قوماندان په خپلو کسان امر وکړ چې لا ورته ګوری، شاه پرو چې هر څومره عذر او زاری ورته وکړې ، قران کريم يــې ورتــه پيش کړخو د سيمې د قوما ندان پر بکړه او امر د قران څخــه دلتــه ډېــر بهتره او با لا تره وه او دغو ټو پکېانو قران کريم ته پــه ســپکه ســترګه وکتل او قران کريم يې ټوټې ،ټوټې کړ او په څو کارتوسو يې د شاه پــرو مېړه سوری ، سوری کړ .

خو کله چې دغه جګړه ماران د شاه پرو له کوره وتل يو وار يو نــا څاپــه يوه جګړه مار غږ کړ قوماندان صيب په ځانګو کې د شــاه پــرو کــوچنی ماشوم چيغې او بغارې وهي قوماندان يو ځل په خپله خيرنه ږيره لاس را کش کړ د ځانګو خواته يې ردې، ردې وکتل او وه يې ويل هغــه هــم وو ژنــئ ځکه چې غټ شي هغه هم فاکولته وايي او انجنير کېږي.

د قوماندان ټو پکيانو په ځانګو کې پراته ماشوم باندې ډزې پيل کــړی او ددې تنکې ماشوم تنکې او پاکې وينی د ځانګو څخه څک، څک تو يیــد لی .

شاه پرو چې يوې خواته د خپل مېړه شهيد جسد ته کتــل او بيــا يــې د خپل کوچنی ماشوم د ځانګو څخه د پاکو ، معصومو او نازکو وينو ته کتل بنه يې تکه ژيړه لکه زيړه نارې ير له اوښتی داسې ښکاريده تا بــه ويــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جنت حوره ده او ددې پاکو شهیدانو له وینو په خپل مخ خا لونــه وهی.

شاه پرو د خپل معصوم کوچنی زوی او د خپل مېړه تودی وینی پــه دوو کو چنیو بوتلانو کې جلا ، جلا واچولی او سرونه یې کلک ور وتړل .

شاه پر و څو شیبې د خپل شهید مېړه جسد ته او د خپل ماشوم زوی بې ساه او بې نفسه جسدو ته په ځیر ، ځیر کتل ژړا او واویلا ورځېنی هیــره وه په یوه بله دونیا کې ګر ځیدله هیڅ نه پوهید له چې څه وکړی یــوازې یې دومره وکو ل چې د خپل معصوم زوی جسد له ځانګو را کوز کــړی او د خپل شید مېړه په سینه یې وا چاوه د دواړووینی یو ځــای بهیــدلی او شاه پرو خپل دواړه لاسونه په دواړو جسدو داسې اچولی وه لکه چې پــه دواړو لاسو یې د ګلاب ګلونه نیولی وی کله به یې دیوه ګل ننداره کولــه او کله به یې د بل ګل ننداره کوله او د شاه پرو په زړه او خیال کې داسې راتله چې ګواکې زما کورته د اسمان ملکې ځي او راځي او کله چې بــه د فکرونو په دریاب کې ولویده داسې به ورته ښکاره شوه چې لــه اســمانه ملایکې راځي او دا دواړه جنازې په خپلو اوږو د اسمان پــه لــور پورتــه کوي.

د شاپر و کوچنی لور چې تازه په خبرو راغلی وه او خبــرې یــې داســې ښکلی او خوږې وې لکه مینا چې خبرې کوي خو اوس، اوس چې یــې د تو پکو ډز هار د کوچنی ورور او مهر بان پلار یې په وینو کې لژنده ولیدل بلکل یې زبون وهل شوی یوازې دوو شیدو جسدو او مورته په فکر کــې ډوبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښه ځنډ نه وروسته نوره شاه پرو هم د فکرونو لــه دریــابو خځــه بــل دریاب یعني د بې هوښی په دریاب کې ډوبه شوه .
د کلي خلک تر اوسه لا هیڅ نه وه خبر خو کله چې دسیمې قوماندان له کلی ووت او د خوښی ، خوشحالی ډزی یې پیل کړی دوی ته ډېــره خــو ښی وه دوی ته خوشحالی وه چې نن یې بیا یوه خور کونډه ، بوره او یــو ماشوم یې بې وروره او بې پلاره کړ دا دوی ته یو افتخــار وه او دا دلیونــو زمرو ستر ګی سری پرله او ښتی وی . ټول
کلیوالو چې دا ډزی واو ریدلی او د سیمې قومانــدان او د هغــه ټــو پــک ماران یې ولیدل و پو هیدل چې بیا یې د چا په کور ټکه اچولی ده .
خو په دی وخت کې چک ،چکه شور او زوږ جوړ شو چې انجنیر صیب او د هغه زوی یې شهیدان کړیدی د کلی سپین ږیری او سپین سری د شاه پرو کورته ورغلل ګوری چې زوی او پلار دواړه لکه د ګلاب ژیړ ګلان پــه سرو وینو کې لژنده پراته ده کوچنی لور او شاه پرو بې هو ښه دی .
ځوانان هدیری ته لاړل چې قبرونه جوړ کــړی ، ملایــان د کلــی ســپین ږیری او سپین سری د کفن او کفن کولو سره بوخت شول هغــه وه چــې ددواړو ژیړو ګلا نو جنازې د شاه پر و له کوره د کلی د هدیری پــه خــوا پورته شوی .
څو ساعت وروسته شاه پرو په هوښ راغله د زوی او مېړه جنازې یې نــه وی هغه یې څو شیبې مخکې د کلی په هدیره کې خاوروته سپارلی وی
.
یواز ی د کلي څو سپین ږیری او په عمر پخی ښځې ددې په شامخوا پــه لمدو او سرو ستر ګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نا ستی وی .**

**د کلی څو ښځې څو ورځې د شاه پرو سره د غم شریکۍ پــه ډول ورتــه کښته پورته کېدلې .**

**درې یا څلور ورځې لا نه وې تېرې شوې چې د شاه پرو مور او پلار هم را ورسېدل او همدا نن بیا د شاه پرو پر کور یې بیا د مېږه او زوی غم نــوی شو د کلی سپین سری او سپین ږیری**

**دشاه پرو مور او پلار ته راغلل.**

**نن بیا دشاه پرو په کور ان لکه چې د هغې اولی ورځې په ډول بیا داســې چېغې او بوغې جوړې وی لکه چې همدا اوس هر دواړه جنازې د شاه پرو مخته ایښی وی د شاه پرو ستر کې بیا د خپل وړوکې شهید ماشــوم پــر ځانګو چې لا هم داسې ځړیدله وکتل او خپلې مور ته یــې پــه چېغــو او بغارو کې وویل مورې ؟ځانګوته وګوره زما ماشــوم شمشــاد ارام او قــرار بېده دی په زوره خبرې مکوې چې شوشاد زوی می را ویښ نشی .**

**مورې هغه بېده  نه دی ؟ هغه نه را ویښیږی هغه خوب وړی؟**

**خو د شاه پرو لور که څه هم په هر څه پو هیږی خو هیڅ نه وایــې ، کلــه خپلې مور ته ، کله دکلی ښځو او کله هم خپلې انا ته په خپلو بــادامي او ږلی وهلو ستر ګو وګوري .**

**خو شاه پر و لکه لېونی همدا یوه خبره کوي ، شمشاد پروتدی پــام چــې هغه ویښ نشي مورې ریښتیاهم هغه بېده دی ؟**

**د شاه پرو مور چې خپلې لور او خپلې لمسی ته وګوری لــه زړه یــې یــو خدای خبر دی چې ددې خوارکې په زړه څه تیریږي زړه یې بې سیخه او بې اوره کباب کباب شي ،خو د خپلې لور شاه پرو د ډاډینی د پــاره یــې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوه خبره له خولې ځخه نه وزي یوازې دومره وایې خدای دې په خپله په غم اخته کړي .**

**کله چې د شاه پرو مور دوه یا درې شپې تیرې کـړې شـاه پـرو د کلـی پیغلی او سپین سرې سره را ټولې کړې هیڅو ک نه پو هیده چې ولی یې مورې را غوښتی یو کله چې د شاپرو کور د پیغلو او سپین سرو ځخـه ډک شو شاه پرو هغه دوه بولتان چې د خپل مېړه او زوی وینی یـې پکښـی اچولی وی د کلی پیغلو او سپین سرو ته ور و ښو دل او ورته یې وویل دا زما د شمشاد**

**او د شمشاد د پلار وینی دی ټولی راغلی پیغلی او مېرمنې هکـې پکـې شوی چې دا وینی نو څه کوي .**

**هغه وه چې شاه پرو ددواړو بوتلا نو وینی د رانجو سره ګـډې کـړی او د خپلې لو پر تنندی یې ورته خال وواهه د کلی پیغلو او سپین سرو وویـل شاه پرو دادی څه وکړل د وینو ځخه هم څوک خال ږدی .**

**شاه پرو د زړه له جوشه په داسې حال کې چې د خپل شهید ماشوم زوی ځړیدلی زاګو یې وزنګوله داسې وویل ؟**

**خال به یې د پلار او ورور له وینو ورته کېږدم**
**چې ټول وطن کې ټو پکښان و شر مو ینه**

**بس د شاه پرو د لور په  تندی د وینو خال کېښودل شو او د کلی پیغلو او سپین سرو په او ښکو ډکو ستر ګو یوی اوبلی ته وکتل .**

**د شاه پرو لور چې اصلي نوم یې مرغلره وه له دی شیبې ټولو په یو ه اواز سره شینخالی دی خدای درته شمشاد کړی پس د مر غلری نوم نور نـو شینخالی شوه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څو ورځو په تیر یدو نور نو شاه پرو او د شاه پرو لور شـــینخالي تــه دا کور او دا کلی سور اور شول او د کور هغه کالي چې د قوماندان حضــر ت خان او د هغه د ټو پکېانو نه په کور کې ورته پا تی شوی وه را ټــول او د ولایت پخوا رهی شول کله چې دوی له کوره و وتل د شمشــاد ځــانګو لا هما غسی ځړیدله او د هغې ځانګو په زنګولو سره یې د خونــو دروازی را وتړلی او د شمشاد ځړیدلی ځانګو یې همداسې ځړ یدلی پر ینبوده او د کلیوالو نه په پټه له کلی ووتله .

د څو ورځو نه وروسته دادی ولایت ته را ورســیدل د شــینخالي مــور او شینخالي دلته په ولایت کې د یوه چا په کور کې په یوه خونه کې داســې ګذاره کوله چې د کور د خاوند د میر منی سره به یې د کالیو په مینځلــو او د کور په نورو کارونو کې یې ور سره مرسته کوله شاه پرو خپله لور هم ښو ونځی ته شامله کړه .

د ورځو نه یوه ورځ د کور د میر منی سره شاه پرو بازار ته لا ړه او د کــور مېرمنې په ښار کې څو ښا یسته تعمیرونه او ودانی ورته په ګوته کړی او وه یې ویل دا ودانی وینی دا ودانی ټولی دلته یو انجنیــر وه چــې کبصــر خان نو میده هغه یې نقشه کړی او هغه جوړې کړیدی.

د کور مېرمنې نوری هم خپلې خبرې زیاتی کړی او وه یې ویــل انجنیــر کبصر خان ډېر پوخ ، با تجربهاو ډېر لا یقه انجنیر وه په ټولو ښــار یــانو ډېر ګران وه او ټولو یې قدر کاوه ، دا نیمه ودانــی ګــوری دا ودانــی هــم انجنیر صیب کبصر خان جوړه کړی خو کله چې هغــه کلــی تــه لاړ ټــو پکېانو هغه په ګولیو سوری ، سوری او شهید یې کړ دا ودانی اوس نیمــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ودانه پا تی ده کوم د مور بل زیږولی که پیــدا شــی او دا ودانــی ســرته ورسوی .**
**په دی وخت کې د کور میر منی چې شاه پروته وکتــل ، د شــاه پــرو لــه دواړو ستر ګو په لپو ، لپو او ښکې روانی دی او زړه یې په جوش راغلــی وه .**
**د کور میر منی ورته وویل شاه پرو ولی ژاړی څه پیښه ده مور او پلار خو به دی نه وی در په یاد شوی .**
**شاه پرو ورته وویل انجنیر کبصر خان زما مېړه وه هغه یې زمــا تــر مــخ وواژه زما ماشوم زوی شمشاد چې په ځانګو کې وه هغه یې هــم وواژه او نوره خپله ټوله کېسه یې د کور مېرمنې ته وکړله.**
**د کور میرمن چې کله کورته راغله د شاه پرو ټوله کېسه یې خپل مېــړه ته وکوله د کور څښتن چې د شاه پرو څخه خبر شــو چــې شــاه پــرو د انجینیر کبصرخان کونډه ده نو شاه پرو ته راغی او داسې یې ورته وویل ؟**
**شاه پرو ښه غوږ ونیسه انجنیر کبصر خان زما د ښوونځی اند فاکولتی تر خلا صیدو پوری دواړه سره یوځای وهغه پــر مــا ډېــر ګــران وهلــه دی وروسته په دی کورکې داسې اوسه لکه چې خپل کوردی وی کبصر خان زما د ورور غوندی وو نور نو ته کو ښښ وکړه چې په شینخالی ښه تعلیم وکړی .**
**شاه پرو په شینخالی ډېر کو ښښ کاوه چې یو څه زده کړی د نورو خلکو جامی به یې په مزدوری مینځلې په ښار کې به یې سوال هم کاوه خــو د هغو ودانیو خواته به ډېره ورتله کومی چې د شاه پرو مېړه انجنیر کبصــر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان جوړې کړی وی په ډېر لیږ وخت کې ډېر خلک خبر شـول چـې دا سوالګره د انجنیر کبصر خان میرمن ده ډېـر و دوکانـدارانو او د ودانیـو خاوندانو به ورته په ډېر ه ښه سترګه کتل .

خو شاه پرو دا ټولی خواری او زحمتونه د شینخالی د پاره کول په څـو ، څو وارو د ښار

ښو ونځی د قوماندان حضرت خان او د هغه د ټو پکېانو لخوا و سو ځـول شول خو شینخالی هم خپل درسونه په ډېر شوق سره ویل هر کال به په خپل ټولګی کې اول نمره بر یالی کېدله او

شینخالی به به د شپی لخوا له خپلې مور سره هم مر سته کوله ځکه چې د شینخالی  د مور

خو لیکل او لوستل نه وه زده نو ځکه شینخالی به خپلې مورته لیکـل او لوستل ور زده کول .

د شینخالی مور شاه پرو به هر کال په هغه ورځ چـې مېـړه او زوی یـې شهیدان شوی وه هغه ورځ به یې کلی ته رسوله ، د خپل کور دروازه بـه یې خلاصه کړه د شمشاد ځړیدلی ځانګو به یې و زنګوله او بیابه دکلی د سپین سرو پو ښتنی ته ورغله د کلی پیغلو  سپین سـرو او د شـینخالی همزولو به د شینخالی پو ښتنی ور ځینی کولی د شـینخالی د لیاقـت او ادب خبرې له ښاره ان تر کلی را رسیدلی وی .

د شینخالی نورو همزولو هم غو ښتل چې لکـه شـینخالی غونـدی ښـو ونځی ووایېاو داسې ښه نوم ځانوته پیدا کړی او داسې لکه شینخالی نـا مورې او مشهوری شی ، خو چېـری دوی کـولای شـولځکه دلتـه خـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوپکپانو ښوونځيو ته اورونه اچول ، انجونې څه د هلکانو ښوونځيوته بــه يې اورونه ور اچول.

بس همدا شاه پرو پر ځان يو نذر ايښی وه چې په کال کې يو وار کلی ته راشي د شمشاد ځانګو وزنګوی او د کلی په هديره کې د خپل ماشــوم او خپل مېړه قبر ته لا سونه پورته کړی هغه هم په پټه راتله که قومانــدان حضرت خان او يا دده نور ټو پکېان ور باندې خبر شوی وای وينه به يــې ځمکې ته لا نه وای رسيدلی .

څو کاله تير شول چې شينخالی له دوولسم ټولګی څخه خلا صه شوه او د کانکور په ازموينه کې تر ډېرو بريالی شوه او د ډاکتری فاکولتی ته بــر يالی شوه په ټول ولايت ، کلی او بانډوکې يوه داسې چک، چکــه جــوړه شوه چې شينخالی د ډاکټری بيا د مرکز يعنی د پايتخت د طب فاکولتی ته بريالی شويده دا اوازه په ټول ښار ، ولايت ان د شينخالی د زيږيــدنی تر کلی پوری ورسيدی.

کله چې د شينخالی همزولی خبرې شوی ديوی او بلی سره به يې کېسی کولی ان تر دی چې په ګودر باندې هم د پيغلو همدا کېسی او خبرې وی چې شينخالی ډاکټره کېږی .

د شينخالی کليوالی همزولی خو دومره خوښی او خوشــحاله ښــکاريدی چې د شينخالی په نوم باندې به يې فخر کاوه او د نورو کليو پيغلو پوری يې ځانونه يو بل ډول احسا سول او د نورو کليو پيغلو ته به يــې داســې ويل چې ز موږ کليواله زموږ زموږ همزولی شينخالی ډاکټره کېږی.

د شينخالی ټولو کليوالو همزولو به خپلو پلرونو ته ويل ګــوره شــينخالی چې کوچنی له پلاره پاتی شوه د سهار او ماښام ډوډی يې نه درلوده مور

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ښوونځی وربانديې ووايه هغه ده نن سبا به ډاکټره شی مور چې پلرونه درلودل ښوونځی خو لا څه ليکل او لوستل خو لا څه قران شريف مــو لا نکړ زده چې د قران شريف لوســتل او تــلاوت کــول ځــومره ثوابونـــه او اجرونه لری.

قوماندان حضرتخان چې دا اوازی واوريدلی چې د شاه پرو لور شينخالی د طب فاکولتی ته بريالی شويده په ټوله سيمه کې يې اعلان وکړ چې نور شاه پرو خپل کور او د خپل مېړه او زوی قبر تــه هــيڅ نشــی راتــلای د قوماندان حضرت خان دا پر يکړه ان تر شاه پرو ورسيده نور نو شاه پــرو هم خپل کلی او د کلی هديری ته نشوای تلای او نه يې شوای کولای چې د شمشاد او د خپل شهيد مېړه قبر ته ددوی د شهادت په تلين لاړه شی او يا دشهيد ماشوم شمشاد ځړيدلی ځانگو وزنگوی.

د شاه پرو لو ر شينخالی د هېواد مرکز کابل ته لاړه او د ليلی په ډول يې خپله زده کړه کوله

د ډوډی، اطاق، قلم،او د کاغذ ټول مصر فونه ددولت په غاړه وو.

شاه پرو چې د خپلې لور څخه ليکل او لوستل زده کــړی ووهغــه هــم د خپل ولايت په مرکز کې د سواد د زده کړی په ښوونځی کې د ښــوونکې په تو گه مقرره شوه او دومره تنخوا ورته ورکېدله چې ددې گوزاره ښــه وربانديې کېدله او کله کله به يې خپلې لور شينخالی تــه جــامی او نــور سوغاتونه هم ليږل د شينخالی او ددې دمور شاه پرو تــر مــنځ د ليــک استولو او ليږلو اړيکه ټينگه وه او د ليک په وسيله يېــديو اوبلــی څخــه احوال اخيسته او د ليک په وسيله يې ديوی او بلی سره ارتباط ساته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی وخت کې څوکا له تیر شول شینخالی خپلې زده کړی پای ته نــه وی رسولی چې ددوبې د ګر می په رخصتی کې د خپلې مــور شــاه پــرو کورته لاړه دری ورځې وروسته شاه پرو د خپلې لور شــینخالی ســره د خپل پلار کورته چې د ښار نه یو څه لیری په یــوه کلــی کــې او ســیدل لاړلی د شاه پرو مور د روغ اوجوړ څخه وروسته وویل شــاه پــرو لــوری ښوونځی دی پری ایښی د خلکو د زامنو سبقونه نه پاتی کېږی.

شاه پرو وویل مورې څنګه چې شینخالی ددوبې د ګرمی رخصــتی لــری زموږ ښو ونځی هم همداسې د ګرمی ر خصتی لری ماهم وخت غنیمــت وګاڼه دا ډېر وخت مو نه وه سره لیدلی در پسی خفه شوی وم او بلدا چې وروسته له ډېری مودی شینخالی هم راغلی وه ما ویل چې دواړه سره یو ځای د تاسو زیارت وکوو ، مور یې وویل داسې چې ده او رخصت یا ستی نو هر کله راشی هر کله .

په هغه شپه چې شینخالی د خپل نیکه کورته ورسیده د کلی لــوی، واړه سپین سری او پیغلی چې یوازې یې د شینخالی نوم اوریدلی وه او خپله شینخالی یې نه وه لیدلی د شینخالی د لید و دپاره راغلی .

ټولو پیغلو او سپین سرو ښځو یوازې اویوازې د شینخالی خلی ته کتل او شینخالی هم د کلی د پیغلو او سپین سرو سره یې په کلیوالی ژبه خبرې کولی د کلی پیغلی او سپین سری د شینخالی دی خبرو ته هکــې پکــې وی او دیوی او بلی سره به یې ویل دا خو زموږ په شان خبرې کوي او پــه هره خبره یې مورږ ټول پوهیږو دا اوازی چې خلکو به ویل چې شــینخالی کافره شویده او یا په ښار کې ژوند کوي بل ډول ده دادی ښــه لمونځــاو اودس کوي د خدای (ج) ، رسول او د قران له ټولو مسلو خبره ده او پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه پو هیږی د کلی پیغلی خو ان تر نیمــو شــپو د شــینخالی ســره ناستی وی خوږی خبرې او مرکې یې سره کولی .

د کلی د پیغلو اول وار وه چې شینخالی یې لیدلی وه خو شــینخالی پــه خپلو نر مو، نازکو او ښو،ښو خبرو د کلی د ټولو پیغلو په زړه کې داســې ورته ګرانه شوی وه چې هری پغلی غو ښتل چې شینخالی یــوازې ددې سره خبرې وکړی.

نیمه شپه وه چې در وازه وټکېدله د کلی پیغلــی او دشــینخالی مــور او نیکه ډېر وار خطا شول د شاه پرو پلار ، مور او د کلی پیغلی خــو داســې شوی ادی چاخبره زبون یې ووهل شو او په زړونو کې وایې چــې حتمــی قوماندان حضر ت خان خبر شوی او خپل ټو پکېــان یــې را وســتی دی ځکه قوماندان او د هغه ټو پکېانو یوه اونی مخکې د ولسوالی کلنیک ته اور اچولی وه او هغه یې دخاورو سره خاوری کړی وه نو ځکه ټــول هــک پک ودریده خو د شاه پرو پلار ددروازنه ورته غږ کړ چې څوک یاستی او د څه د پاره راغلی یاستی .

ددروازی د باندې لخوا یوی سپین سری غږ وکړ د خــدای د پــاره دروازه خلاصه کړی چې نږور می په اولاد نا روغه ده که د شاه پرو مــور راســره کومک وکړی .

ځکه چې د شاه پرو مور ســپین ســری ښــځه وه د ښــځو د اولادونــو د زیږیدنی کې یې ښه تجر به درلوده په کلی او شاوخوا سیمه کــې د شــاه پرو مور د هر ماشوم ز یږیدنی ته خلکو وړه او یا یې هــم دلتــه ورتــه را وستلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاه پرو پلار په خپلې مېرمنې غږ وکړ هله ژر شه کومه میــر مــن پــه اولاد ناروغه ده کومک وکړه .

د شاه پرو پلار دروازه خلاصه کړه ناروغه میرمن یې بلی کــوټی تــه ننــه ایستله د شاه پرو مور ژر را ولا ړه شوه ناروغه میر من یې وکتله .

نو یې ورته وویل د ناروغ وخت کم دی ماشوم یــې پــه نــس کــې چپــه شویدی ژر یې ولسوالی یا ولایت ته ورسوی چې عملیات کیــږی او کــه عملیات نشی ماشوم هم له منځه ځی او د ماشوم مورهم .

د شاه پرو پلار له در وازی را ووت د ناروغی مېرمنې سره چــې کــوم نــا رینه راغلی وو هغوی ته یې همدغه د شاه پرو د مور خبره وکړه دوی یوه اوبل ته سره وکتل چې ځنګه کوو د ولسوالی کلنیک خو هم یــوه اونــی وړاندی مورِ سو ځولی دی .

په دی وخت کې د شاه پرو مور په شینخالی غږ وکړ کله چې شــینخالی راغله نو یې خپلې انا ته وویل څه خبره ده د شاه پرو مور شــینخالی تــه وویل لوری دا میرمن په اولاد ناروغه ده او زما له وسه نه کیــږی ماشــوم دمور په نس کې چپه دی هر څه چې می وکول هیڅ نه کیږی .

شینخالی ژر په ناروغه میر من تاو را تاو شوه د ناروغی میر منی نس یې وکوت ، فشار یې هم وکوت، د شینخالی سره چې کومی سره چې کومی دواوی او نور ډېر لیږ د طب سامان الات وه، شینخالی د ناروغی مېرمنــې خواښی ته وویل ورشه له مېړه څخه یې اجازه واخله چــې میــرمن یــې عملیات کړو توکل په خدای (ج)اول دواړه ژوندی پاته کیږی کنــه انشــا الله و تعلی یو خوبه وژغورل شی سپین ســری هــم لاړه او د خپــل زوی څخه یېاجازت تر لاسه کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شینخالی هم په ډېرو لیږو سامانو سره په داسې حال کې چـې څـودانی ګیسونه یې په کوټه کې ولګول ، سپینی ټو تی ، صـابون او ځینـی نـور ضروری شیان یې سره برابر کړل یواز ی خپله انا یې له ځانـه سـره پـه کوټه کې پر یښودله او ناروغه میرمن نوری ټولی یې له کوټی و ایسـتلی شینخالی په څو د قیقو کې خپله انا داسې پوهه کړه ته به وایې چې د نر سی کورس یې ویلی وی ؟

شینخالی خپله پزه او خوله په سپین ټو کر وتړله یوازې دوی سـتر ګـی یې ښکاری او بس

ناروغی ته یې د ببهو ښی پیچکاری کولو څخه څو ثنی وروسته عملیا ت پیل شول .

شینخالی هم داسې ژر؟ژر او په چټکې سره لا سونه ښوروی ته به وایـې چې د څو کسانو لا سونه دی چې کته پورته کېږی .

هلته ددروازی شاته ولاړ کسان د شینخالی مور ، نیکـه ، او د شـینخالی همزولی هم لاس په دوعا ولاړدی .

لیږ شیبه لا نه وه تیره شوی چې شینخالی د باندې را ووتله او د ناروغی مېرمنې په خوا ښی او خپلو همزولو پیغلو ته یې د عملیاتو د بریالی پای ته رسیدو او د هلک د پیداکېدو زیری یې ورکړ .

د باندې ولاړ کسان چې د هلک پیدا کېد ل د هلک او د مـور د دواړو د ژوند خبره او د عملیاتو د کا میابې خبره واوریدله خپلو د ټو پکو خولوته یې کارتو س ور تیر کړل داسې ډزی وشوی تا به ویل چـې د کـوم ښـه جشن شپه وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناروغی مېرمنې خوابنی د شینخالی له انا څخه پو ښتنه وکړه چې دا پیغله څوکده چې په دا خپل کم عمر باندې داسې پوهیږی د شاه پرو مور وویل دا زما لمسی شینخالی ده ، هغه دداکتری په فاکولته کې ده دا یو یونیم کال وروسته له فا کولتی څخه خلا صیږی د ناروغی مېرمنې خوابنی چې دا خبره واوریدله پټه خوله شوله او هیڅ یې ونه ویل ځکه دا پوهه شوه چې دا د انجنیر کبصر خان لور ده چې انجنیر کبصر خان زما زوی قوماندان حضرت خان هغه وواژه او د شینخالی کوچنی ورور شمشاد یې هم ورسره شهید کړ.

په دی وخت کې شینخالی په ډېره خوشحالی داسې را ووتله چې خپل لستونی یې پور ته کړی وو او سپین تندی یې ورین نیولی وه او شینخال یې په تندی ځلېده د ناروغی مېرمنې خوا ښی چې شینخالی او بیا ددې شین خال ته وکتل له ډېره شرمه یې کښته و کتل او داسې شر میدله چې له ډېره شرمه یې پورته نه کتل .

د شینخالی همزو لی پیغلی هم داسې خوښی او خوشحاله وی چې دوی په خپلو منځکې یوی اوبلی په غیږو کې کلکې سره نیولی وی او کله چې شینخالی ددوی منځته راغله ټولو پیغلو د مخ په یوه او بله خوا ښکلوله .

شپه تیره شوه سهار په ټول کلی کې او نژدی سیمو کلیو کې داسې اوازی خپری شوی وی

چې د شاه پرو لور دیوی ناروغی مېرمنې نس خیرلی ماشوم یې روغ رمټ را ایستلی او د ناروغی مېرمنې د نس پر هار یې بېر ته ګنډلی ټولو خلکوته یوه نه منو نکې خبره وه هغه ورځ تر مازدیګره پوری ناروغه میر من د شینخالی تر څارنی لاندی وه او مازدیګر یې خپل کورته رخصت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه په د ریمــه ورځنــاروغی مېرمنـــې یــوه دســرو زرو د لاس ګــوتمی شینخالی ته ددې د پاره چې ددې سره یې مرسته کــړی دا اوددې زوی یې له مرګه بچ کړی د سوغات په ډول ورته راوړه ، خــو شــینخالی ددې دغه سو غات نه مانه اخیر وروسته له ډېرو زاریــو شــینخالی شــینخالی ګوتمی وا خیستله او کورته ننو تله د شینخالی مور شاه پرو له خپلې لور څخه و پو ښتل چې په دروازه کې څــوک در ســره ولاړه وه ، شــینخالی وویل د هغې بلی شپی ناروغه میرمن وه دا دسرو زرو ګوتمی یې سوغات راوړی وه ما نه اخیستله خو ډېری زاری یې وکړلی نو ځکه می واخیستله .

شاه پرو چې ګوتمی واخیستله دی خوا ها خوا یې پر له واړوله له ستر ګو څخه یې او ښکې د سپینو مر غلرو په څیر را توی شولی، شینخالی فکر کاوه چې د مور می دا او ښکې د خوښی او خوشحالی او ښــکې دی چــې ګواکې زما په بریالیتوب او زما په کمال او پوهه باندې چــې زه دومــره لا یقه شوی یم او نن دادی چې تر اوسه له فاکولتی څخه خلاصه شوی هــم نه یم تر اوسه می لا تنخوا هم نده اخیستی چې دومره ښه تحفه زما پــه برخه شوی ده نو یې مورته وویل څنګه ښه ګوتمی ده ډېره دی خو ښــه شوه .

د شینخالی مور شاه پرو په داسې حال کې چې په لپو، لپو او ښکې یې له ستر ګو تو یېدلی خپلې لور شینخالی ته یې په ډک ستونی وویل هوکې.

هوکې دا ګوتمی می ډېره خوښه شوه.

مورې نو ولی ژاړی،؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوری ځکه ژاړم چې دا ګوتمی زما وه ســتا پــلار د خــدای و بخښــی دا ګوتمی ستا پلار انجنیر کېصر خان ماته د واده په اوله ورځراوړی وه .
شینخالی وویل مورې دا نو څنګه کېدای شی دا ګوتمی تا په چا خر څــه کړی وه ؟
نه لوری دا ګوتمی ما په چا نه وه خر څه کړی ما بــه ســتا د پــلار د لاس نشانی څنګه خر څوله دا ګوتمی هغه ورځ چې قوماندان حضر ت خان او د هغه ټو پکېان زموږ کورته راغلل او د کور هر څه يې يو وړل او ستا پلار او ستا ورور شمشاد يې شهيدان کړل د کور پيسی ، کالی ، او ګا ڼی يــې يو وړی همد غه ګو تمی هم په هغو کې دوی وړی وه.
شینخالی وویل مورې دا ګوتمی ددې ښځې لاس ته څنګه رســيدلی ده ؟
شاه پرو وويل لوری دا ناروغه ميرمن د قوماندان حضرت خان ميرمن ده ، نه دی ليده په هغه شپه چې ددې ښځې زوی پيدا شو د ټو پک ډز هــار د نه اروېده دا ډزی چې يې کولی داد قوماندان حضر ت خان ټو پکېان وه .
شینخالی چې د خپلې مور څخه دا کېسه واوريدله څو شــيبې چــو پــه پاتی شوه او په فکرونو کې ډوبه ولاړه خدای خبر چې شينخالی بــه څــه فکر کاوه چې د شينخال مور شاه پرو خپله لور د فکر له ټاله راکوزه کړه او ورته يې وويل؟
شینخالی لوری په څه فکرونو کې يې هيڅ فکر مکوه ښــه شــو چــې دا ناروغه ميرمن جوړه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبدو پر ځای ښه کول د هوښیارانو کاردی او بل دا نه وینی چې ستا د پلار د لاس نښانی مو هم ګوتو ته راغله .
شینخالی او مور یې د کوټی په در وازه ننو تلی او هره یوه د ځانه سره سوچونه او فکرونه وهی په دی فکرونو کې دواړه ښېده شوی وی او سهار وختی یې له مور او پلار څخه رخصت شولی ، شاه پرو خپلې دندی ته او شینخالی د هېواد مرکز خپلې د زده کړی ځای ته لاړی .
شینخالی څو اونی که په ټو لګی کې به ناسته وه او کـه د فـاکولتی پـه چمن کې د خپلې مور کېسی به یې په غوږونو کې انګازی کولی نژدی وه چې لېونی شی هغه وچې د خپلو خوررڼو همزولو او هم صنفیانو د هغې فکر په بله کړ.
اوس نو دشینخالی فاکولته چې پای ته یې ورسوی پوره یو نـیم کـال لا پاتی دی چې د یوه ښایسته
ځوان (میوند)سره چې د شر یعاتو په پو هنځی کې یې تحصیل کاوه او د هغه هم یو نیم کال پاتی وچې خپلې زده کړی پای ته ورسوییږند ګلوی پیدا کړه .
شینخالی له دی موضوع څخه خپله مور شاه پرو د لیک په واسطه خبره کړه هغه و چې شاه پرو خپلې لور شینخالی ته د لیـک پـه ځـواب کـې داسې ولیکل.
شینخالی لوری دا چې ته خو ښه یې او داچې تا په لیک کـې د میونـد د لیا قت او ښه سړ یتوب لیکلی زما هم در خوښه ده خو کـه زمـا نظـر او مشوری ته ګوری یوازې دومره صبر وکړی چـې تحصـیل مـو پـای تـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسیږی او تنخوا خواره شی او بیا کوزده وکړی نور نو ستا سو خو ښه ده .

کله چې دا لیک شینخالی ته ورسیده نو یې دا خبـره لـه میونـد سـره شریکه کړه نو میوند هم دا خبره ورسره ومنله او د شینخالی دمور خبره یېپه ځای او ښه و بلله .

اخیر یې په دی پریکړه وکړ له چې کله مو زده کړی له خیره سـره خـلا صی شوی په دندو و ګمارل شوبیا به له خیره سره د کوژدی بند وبسـت کوو .

او ستا دمور دا خبره ډېره او ډېره پر ځای ده مشران تجربه لری د ژونـد په مسا ییلوتر موږ دوی ښه پوهیږی

او له بلی خوا ستا دمور خبره په دی هم صححده چې که زه او ته همـدا اوس کوزده سره وکړو بیا به له تا هم درسونه پاتی وی او له مـا بـه هـم پاتی وی ، اودا خبره تر دی پوری درته کوم چې زموږ په کلـی کـې یـو ځوان وه او هغه هم همداسې په فاکولته کې وه فاکولتـه یـې دوه کالـه وویله په دریم کال یې پلار ورته کوزده وکړه بس له کوزدی سره تحصیل او فاکولته پاتی شوه او بېچاره اوس موټروانی کوي که یې په هغه وخـت کې کوزده او واده نه وای ورته کړی اوس به دحکومت غټ سړی وای نـو ځکه وایم چې ستا دمور خبره می په زړه کلکه ولګیدله.

شینخالی او میوند دواړه په زده کړو بوخت ول او پـه هـر سمیسـتر بـه شینخالی او میوند د یوه اوبل سره سیالی کوله او دا شرط یې سره ایښی وه چې په هر سمیستر کې که د هر یوه نمری ډېری وی هغه بل به ورتـه ملمستیا ورکوي او یا هره تحفه چې وغواړی هغه بل به یې ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی ددواړو تر منځ سیالی روانه وه په دو سمیســتر ونــو کــې ددواړو نمری یو ډول یعنی سره مساوی وی په دریم سمیستر کــې د شــینخالی نمری د میوند څخه ډېری او زیاتی یې وړی وی .
نو شینخالی میوند ته وویل اوس څنګه شو په خپل قول ولاړ یــې او کــه څنګه .
میوند وویل د میړو یوه خبره ده زه درته حاضر یم ملمستیا غواړی او که تحفه غواړی ؟
شینخالی وویل زه به د ځانه سره فکر وکوم سبا در ته وایم .
دواړه سره جلا شول میوند خپلې لیلی ته لاړ او شینخالی خپلې لیلی ته لاړه .
میوند چې لیلی ته لاړ نو یې له ځانه سره وویل که شینخالی سبا راغلــه او تحفه یې وغوښتله
او هغه هم داسې تحفه چې ددې په درد وخوری نو رینښــتیا هــو ښــیاره انجلی ده او که یې ملمستیا و غو ښتله نو بیا هسی .....
په دی سبا شینخالی راغله او میوند ته یې وویل د ملمستیا څخــه تیــره یم خو یوازې او یوازې دری ټوکه د داکتری کتا بونه د کتابو نمونه یې هم ورته ورکړل چې دا راته واخله چې په را تلونکې کال کې هودغه کتا بونه وایو .
کله چې شینخالی د تحفی خبره یاده کړه میوند په خپل زړه کې وویــل چې والله انجلی خو
هو ښیاره ده خو چې د کتابو یې ورته وویل نو میوند ډېر،او ډېــر خــوښ شو او په زړه کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وويل شينخالي د هر څه وړتيا لري .**
**ميوند ورته وويل فقط دوه اوني وخت راکړه ، شينخالي ور سره ومنله .**
**يوه اوني لا نه وه تيره شوي چې د جګړې اور د هېواد تر پا يتخته چېرته چې شينخالي فاکولته واى را ورسيدله دوه ورځې کې د ښار په کوڅو او واټونو کې د ټا نکونو درزهار د ځمکې لخوا او د جنګي الوتکو غړ مبهار د اسمان لخوا پيل شو ښار د جنګ په لمبو کې تک سور**
**ښکا ريده او د اور لو ګی اسمان ته پورتــه کېــدل مکتبونــه او فــاکولتی وتړلي شوی ټول زده کوونکې او محصلين په کورنو کېنا ستل .**
**شينخالي هکه پکه وه چې اوس څه وکړی په ښار کې خو کــوم خپلــوان هم نلری چې هلته ورشي او د ميوند کور هم دلته نشــته چــې د هغــوی کورته لاړه شي او په دی هم نه پو هيږی چې دا جنــګ بــه څــه وخــت دريږی چې د فا کولتی زده کړی پيل شی هغه وو چې د جنګ په دريمــه شپه دولت اعلان وکړ چې د زده کړی مو سسی تر بلــی خبــر تيــا تــړل شو يدی .**
**شينخالي نو اوس په دوه کې ده چې که د خپلې مور خواته لاړه شي پــه مو ټرو کې خو ښځه شرعی محرم څخه په ښار کې نشی ګرځيدلای نو په لينی موټرو او بيا له مرکزه د مور تر ښاره پوری تګ په يــوازې ســر خــو ښځی ددوی په ژبه او قانون کفر دی کفر اوددې د ولايت چې هلتــه يــې دمور کور دی دهغه ولايت خو په فاکولته کې نه انجونی محصيلی شته او نه هم هلکان چې له هغوی سره يو ځاى لاړه شي او دا هم بده وه چې له ميوند سره د ميوند ولايت  او کورته لاړه ته لاړه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه و چې میوندته ورغله دواړو دا و پتیيله چې میوند به لــه شــینخالی سره ددوی یعنی د شینخالی تر کوره لاړ شی دا به ورسوی او میوند بــه بېرته راشی.

خو دوی دواړو سره وویل چې که کوم چا پو ښتنه کوله چې تــا ســو دوه څه سره کېږی موږ به ورته وایو چې موږ سره خوند او میر من یو .

هغه وه چې د سهار لمنځونه يې اداکړل په مو ټر کې سپاره شول او مخ د شینخالی د مور د ولایت پخوا يې حرکت وکړ د یوی ورځې لاره یــې پــه دریو ورځو ووهله ځکه چې له یوی خوا سړ ک خراب وه او له بلی خوا هر یو میل بېرته پا ټکونه پراته وه په هر پا ټک کې تلا شی وه په یــو او بلــه بهانه به يې یو ساعت یا زیات وکم درولی وه .

کله ، کله به يې ځوانان کښته کړل او په دی پلمه چې ږیره نلری داســې او داسې نور خو کله چې به د سپرلیو او یا دریور لخوا یو څه پیسی د پــا ټک قوماندان ته ور کړل شوی بیا به يې مو ټر ته د حر کت اجازه ورکوله .

کله چې د  شینخالی دوی ښار ته  را ورســیدل پــه دی ښــار کــې هــم جنګونو زور اخیستی وه ښوونځی تړل شوی وودلته هم هر واټ او هــری کوڅی یو پا چا او څو قوماندانا نو په واک کې وه ،

کله چې دوی د شینخالی کورته را ورسیدل شاه پرو چې د خپلــې لــور څخه دا خبره واوریدله چې دا میوند نومیږی او د شریعاتو په پو هنځــی کې زده کړی کوي شاه پرو پوهه شوه چې دا هــم هغــه هلــک دی چــې شینخالی راته په لیک کې لیکلی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې يوځه چرتې غوندې شوه چې دوی لکه چې سره کوزده کړې وی ، خو شينخالي پوهه شوه چې زما د مور په زړه کې څه دی نو يې خپلې مورته وويل مورې مورې ستا خبره ومنله له هغه وروسته شاه پرو پوهه شوه چې تر اوسه يې ديواوبل سره کوزده نه ده کړې .

ميوند وروسته له دوو شپو ځخه چې ستړيا يې وختله د شينخالي او د هغې د مور څخه و غو ښتل چې نو ر ده ته اجازت ورکړی ځکه چې دده مور او پلار هم په انديښنه کې دی د شينخالي مور د ميوند پيسې دده د بو ټو د تلی په منځکې ځای پر ځای کړی یوازې د موټر کرايه او د ډوډې پيسې يې په جيب کې ورته کېښودلې ميوند ورته وويل ادی جانی دا پيسې د بوټو په منځ کې ولی راته وګنډلی ؟

د شينخالي مور ورته وويل زويه کا شکې يوه پا چا هی وای بيا نو چې هره پيښه شوی وای هغه ته به ورغلی وای او خپل شکا يت به دی ورته کړی وای وينی چې په هر واټ کې يو پا چادی نو په دی اوږده لار خو تر سلو پا چا هيو څخه هم ډېری دی او بل دا هغه بله ورځ زموږ د يوی معلمی ورور له هغه بل ښار څخه راته په لاری يې موټر ځو ځايه تلاشی کړی دده په ګډون د ټولو سپر ليو څخه يې پيسې او نور قيمتی شيان د پو ستو ولاو ور ځينی اخيستی نو

ځکه مې پيسې د بوټو په تلی کې درته و ګنډلی ، په دی وخت کې شينخالي وويل ؟

ميونده کله چې ورسيد لی احوال به را کوي چې زړه مو په قرار شي.

ميوند ورته وويل چې ورسيږم دستی ليک درته را ليږم تيليفونونه خو خراب دی او لکړی يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړولی دی خو لیک حتمی درته را لیږم.
شاه پرو وویل زویه پام چې لیک را ونه لیږی ځکه چې په نوم لیکلی کـا غذ له چا سره نه پر یږدی او وایې چې دا لیک وړونکې جاسوس دی نو دا موټروان بېچاره په وهلو او ډبولو مه ورکوه .
شینخالی وویل میونده دا زما قلم واخله کله چــې ښــار تــه ورســیدلی همدغه موټر وان چې تا وړی هغه به یې موږ ته ببرته راوړی بیــا نــو پــو هیږو چې ته رسیدلی یې.
شاه پرو وویل دادی لا بل غم وایې چې زه دی په دین کې شک لرم او ته راته مو ریدان نیسی
هغوی لیکلی کاغذ نه پر یږدی ته قلم ورباندې وړی اوراوړی قلم چې لــه چا سره ووینی هغه خو بې سواله او بې جوابه وژنی ګوره میونده زویه که ته هم په جیب کې قلم لری هغه دلته
پر یږده او له ځانه سره یې مه وړه او بل دا چې که پر لاری پاټک والا یــا بل چا در نه پو ښتنه کوله چې په لیک لوست پو هیږی ورتــه منکرشــه ځکه د لیک لوست والا خلک ددوی په نظر
غټ کا فر دی پام چې په کومه بله بلا وانه وړی.
اخیر شینخالی میوند ته وویل دا زما د زلفو تار در سره واخله په دی خو ځوک شک نکوي
کله چې ورسیدی همدغه ددې مو ټروان په لاس را ولیږه ، ددې خبــرې په اوریدو سره د میوند تندی تریو غوندی شواو ورته یې وویل زه ســتا د زلفو یو تار ددوی په دی ټوله پا چا هی نه ورکوم او بل زه یو پښتون یم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنې شیدی می رودلی دی دومره بې غیرته نه یم چې ستا د زلفو تار د بل چا په لاس ورکړم ؟
شاه پرو پوهه شوه چې د شینخالی دا خبره په میوند بده ولګیدله نو یې وویل میوند ه زویه د شینخالی مقصد دا نه وه یوازې د ځان او مور د ډاډینی د پاره یې دا خبره وکوله .
په اخیر کې میوند وویل زه یوه چاره کوم او تا سوته په هر ډول چې وی ډاډ در کوم چې زه ورسیدلم او ددې ډیور په لاس احوال درته را لیږم.
میوند د شینخالی او د هغې دمور سره مخه ښه وکړه میوند په موټر کې کېنوست شینخالی د خپلې مور سره د موټر له څنګه ودریدلی کله چې موټر حرکت وکړ دوی هم دلاس په ښورولو سره یې یو وار بیا مخه ښه ورسره وکوله په دی وخت کې شاه پرو خپلې لورته تندی تریو غوندی کړ او ورته یې وویل لوری تا زده کړی هم کړی یوه پښتون ته څوک داسې خبره کوي
ودی لید ه چې میوند هم هغه د چا خبره کلک پښتو ن دی څومره بده ورباندې ولګیدله .
مورې زما مقصد دانه وه چې تا او میوند بر داشت ور ځینی وکړ .
لوری بیا دی پا م نیسه چې بله ورځ داسې بېکاره خبره دی له خولی ونه وزی .
مورې خبره تیره شوه پوهه نشوم او د ښځې خو ته پوهیږی چې عقل یې کم وی زما عقل هم دومره رسیده او بس .
نه لوری ته د نورو ښځو سره ډېر فرق لری ته خو نو اوس هم تحصیل یافته یې او بل ډاکتره یې سبا به ناروغان درته راځی ته باید له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولی او ژبې سره ډېر احتیاط وکوي چې کومه خبره ښه ده او کومه بــده خیر په هر صورت میوند هو ښیار سړی دی په زړه کې یې نه ساتی او زیاته یې کړه لوری دا میوند خو ماته ډېر ښه با اخلاقه او پوهه ســړی ښکاری خدای د وکوي چې په خیر سره ور سیږی او ارامی شــی چــې دا ستا واده په خپلو ستر ګو ووینم.

میوند دهغې ګړی نه چې د شینخالی څخه یې رخصت واخیست دلاری د پاټکونو په چرتونو کې شو لیږ ببر ته نه و تللی چې میوند را ولاړ شو او خپله کرایه یې موټروان ته ورکړه ځکه ببریده که په لاری پا ټک چېــان دا پیسی ورنه واخلی او کله چې دریور کرایه و غواړی په هغه ګــړی خــو بوټ نشی څیرلای چې کرایه ورکړی یوازې لیږ پیسی یــې د خــوراک د پاره په جیب کې پر یښودلی .

میوند چې لاری او دلاری پا ټکوته و کتل ر یښتیا هم پــه دی دوو دریــو ورځو کې سړک بل ډول شوی ووپاټکونه ډېر شوی وو او هر پاټــک ډول، ډول امرونه کول او ډول، ډول څیرو څخه یې بد راتله .

یوه پاټک ته به چې راغلو چا چې به ږیره خریلی وه هغه یــې واهــه او ډ باوه بل پا ټک ته به چې راغلو هغه چا چې بیا ږیره درلوده هغه یې وهــل او ډ بول په یوه پاټک کې خو خپله میوند هم څو قنداغه ووهل شو چــې ولی ژیره لری که څه هم دمیوند ږیره کوچنی وه ځکه چې هغه ځوان وه ادی چا خبره په مخ یې اوس نوی د ږیری یو تور خط ښکاریده .

په یوه بازار کې چې سپر لی د ډوډی خوړلو د پاره کښته شــولی میونــد هم کښته شو او د یوه دوکان څخــه یــې د ږیــری د خریلــو یــوه چــاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیستله او بېرته موټر ته راغی په موټر کې کېنوست دمخ نیما یې خما
ړیره یې وخریله او د نیما یې مخ ړیره یې همداسې پریښودله
او خپله لنګوټه یې داسې وتړله چې د مخ خواته شمله یې اوږده کـړه او
مول یې وواهه .
کله چې به داسې پا ټک ته را ورسیدل چې د ړیرې والا به وه ده به هم د
خپل مخ خریلی خوا پټه کړه او د ړیرې خوا به یې ښکاره کـړه ، او چـې
داسې پاټک ته به راورسیدل چې  ړیرې یې خریلی وی ده به هـم دمـخ
خریلی خوا به یې ښکاره کړه تر خو چې ښار ته را ورسیدل هر یـوه کـه
ړیره یې درلوده او که یې نه درلوده په وارو ،وارو یې وهل او ډبول وخړل
خویوازې میوند وه چې یوازې یو وار یې وهل وخو ړل .
وروسته له څلورو ورځو د هېواد مرکزی ښارته را ورسیدل میونـد چـې
کله له موټر څخه کښته شو نو یې دریور ته وویل کله چـې بېرتـه لاړی
هغه زما مورته ووایه چې د تاسو دری ټوکه
کتا بونه پور وړی یم.
کله چې میوند له موټره کښته شو نو منتظیر وه چې کوم تکسی پیداشی
او خپل مقصد ځای ته ځان ورسوی خو یو ه ورته وویل وروره د تکسـی
په انتظار مه دریږه ځه خپله لاره وهه تکسی مکسی نـور نشـته او هـر
چېرته چې ځی پلی به ځی .
میوند هم پلی روان شو ګوری چې دلته هم همداسې حال وه لکه د هغـه
اوږدی لاری پاټکونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادی اته ورځې ورو سته هغه دریور چې میوند یې رسولی وه د شاه پرو کورته راغی شاه پرو او شینخالی ته یې وویل چې هغه ستا سو خپلــوان می ورساوه او نښه یې داده ویل یې زه دری ټوکه کتابونه پوروړی یم .
شاه پرو وویل کتا بونه دری ټوکه ؟
شینخالی وویل صحح ده صحح ده خیر یوسی راځه یــوه پیالــه چــای و څښه بیا لاړ شه ډریور ورته وویل نه وخت نا وخته دی تا ســوته د ډاډ د پاره راغلم چې د تاسو خپلوان په خیر سره ورســیده شــینخالی بیــا ور څخه مننه وکوله.
بیا مور له خپلې لور شینخالی څخه وپوښتل کتا بونه د څه شی کتابونــه بیا شینخالی خپلې مورته ددې او د میوند دشرط ټوله کیسه وکوله مــور یې وخندل او په ټوکو یې خپلې لورته وویل بله وار اوبل وخت له چاسره شرط مه وهه چې خدا ی مکړه کومه ورځ به دی له چا سره شرط وهلــی وی او شرط به وبا یلی بیابه پښیمانی کوي .
مورې ته بلی خواته لاړی دومره بې عقله خونه یو چې له هــر چــا ســره شرط ووهم دا خو زما او د میوند تر منخ یوه سیالی وه او بس او تا هم ور ځینی د ادم او درخانی نکل جوړ کړ دادی مورې ستا خبره می په غــوږو واوریدله بیا به تردی چې له تا سره هم په کومه خبره شرط نه وهم چــې مور می یې بل څوک لا هلته پریږده .
اوس نو میوند د خپل مور او پلار سره په یوه ولایت کــې او شــینخالی د خپلې مور سره په بل ولایت کې ژوندکوي .
پوره دری کاله تیر شول چې میوند او شینخالی دیوه او بل څخــه هــیڅ احوال نلری ځکه د تیلیفون لکړی خو لا څو کاله پخوا د غــو ......نړولــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی او لیک هم د یوه او بل ځای ښخه نه وړل کېده او نه هم چا ددې وس درلود چې کوم لیکلی کاغذ په خپل جیب کې وا چوی ځکه چې پـا چـا هی دی داسې خلکوپه لاس کې وه چې د قلم ، کاغذ،سواد،زده کړی،علم او فر هنګ
دو ښمنان وه .
پوره دری کاله او څو میاشتی تیری شوی چې د مر کزی دولـت لخـوا د ی‌و ونځیو او د لوړو موسیسو د زده کړو دبیا پیل خبر ورکړ .
شینخالی هم له دی خبر تیا خبره شوه او میوند په دی سبا د خپل کـور او کلی ښخه د هېواد مرکز ته ځان را ورساوه دری ورځـې تیـری شـوی شینخالی معلومه نشوه .
میوند ته دا اندیښنه پیداشوه چې شینخالی تـه حتمـی کـوم مشـکل پیداشوی او یا هم خدای مکړه کومه پیښه نه وی ورته رسیدلی د هغـې خو د زده کړی سره ډېره مینه درلوده نه چې چا خطا استلی نه وی چـې تحصیل په درد نه خوری خو شـیطان ډول ، ډول فکرونـه پـه زړه کـې وراچول او کله به یې بیا وویل هغه خو عاجزه ده له چا سره راشی .
هلته شینخالی هم په دی فکر کې وه چې ځنګه لاړه شم د لاری پاټکونه خو همداسې لا په خپل ځای پراته دی د ډېری خواشینی ښخه یې چـې درسونه ور ښخه تیر نشی د ډېرو اندیښنو ښخه یـې شـونډو تنـا کـې وکړی (شونډی یې ووتلی ).
په ښلورمه ورځ میوند تصـمیم ونیـو پـه هـر ډول چـې کېـږی بایـد د شینخالی ولا یت او ددوی کورته ورشی که کومه پیښه خدای مکړه نه وه شینخالی به له ځانه سره راولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ شینخالی او مور یې په دی بحث او خبرو کې وی چې څنګه او د چا سره شینخالی مرکز ته لاړه شی چې دسرای در وازه وټکېدلـه کلـه چې شاه پرو دروازه خلا صه کړه ګوری چې میونــد ددروازی شــاته ولاړ دی .

شاه پرو د میوند په لیدو سره ډېره خو شحاله شوه بېله دی چې له میوند سره روغ او جوړ وکوي په شینخالی یې غږ وکــړ ، لــوری راشــه وګــوره څوک راغلی هله ژر شه  شنخالی په بېــړه راغلــه  دروازی تــه لا نــه وه رارسیدلی د مور څخه و پو ښتل مورې څوک دی مور یې ورته وویل ستا ستا د کتا بوپور وړی دی پوروړی.

شینخالی راغله په میوند یې ستر ګی ولګیدلی د روغبړ په وخت کې یې ورته وویل میوند جانه

څه در باندې شوی څنګه خراب شوی یې.

میوند ورته وویل دا انقلابونه نه وینی دا انقلابونه په یوه حال پاته شــوی چې زه بیا په خپل

حال پاته شوی وای او تا  هم خپل ځان ته په اینه کــې کتلــی چــې تــه څنګه شوی یې شونډان دی داسې تڼاکې لکه د بزګر لاسونه .

په دی وخت کې د شینخالی مور میوندته ادی چا خبــره د ســوداګر پــه ستر ګه په ځیر ، ځیر وکتل چې څنګه زما دلور او دده جوړه بــه څنګــه وی .

خیر په هر صورت د شپی میونــد تــه مــخ را واړاوه او ورتــه یــې وویــل شینخالی سبا باید وختی حر کت وکوو ،د شینخالی مور وویل زویــه نــن

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی يې ستړ يا چې دی خلاصه شوه بيا به لاړ شی ،خو ميونـد ټينګــار وکړ چې بايد لاړ شو چې درسونه پيل کېږی .

سهار د خدای په امانی په وخت کې د شينخالی موربو څه وچـه ډوډی ، پراټی ، او يو پوخ کړی چرګ چې په يوه کڅوړه کې يې اچولی وه ميونـد ته ورکړل او ورته يې وويل دا په لاری بيا سره وخوری .

ميوند وويل مورې اوس هغه پخوا وختونه نه دی چې يو څوک به په سفر تله د کور والا و به ډوډی او خوراکې شيان ورکول چې په لاری وږی شی بيا يې وخوری اوس خو هر چېر ته هو ټلونه دی هر څه پکښی پيداکېږی .

د شينخالی مور ورته وويل دا د غم هو ټلونه يې کړی په ټولـو کــې يـا د سپيانو غو ښی پخوی او يا د کار غانو غوښی بيا وايې چې دا د پسه غــو ښی دی يا هم د چرګ غو ښی دی مسلمانی چېری پاته ده مقصد پيسی پيداکړی نور سر نه پسی ګرزوی چې حلالی دی که حرامی .

ه ه ه ه

ه ه ه ه

دادی د څو ورځو نه وروسته ميوند او شينخالی خپلــې فــاکولتی تــه را ورسيدل

شينخالی چې خپله فاکولته او د فاکولتی چمنونه وليدل هکه پکه شـــوه، د فاکولتی ديوالونه په کارتو سو سوری، سوری شوی وه د کړ کېو شيشی خو يوه لا روغه نه وه پا تی دروازی ځينی جوړې ، ځينی ورکې او ځينــی نوری دړی وړی پرتی وی د فاکولتی په چمنو کې هم لو حی درول شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وی او ور باندې لیکل شوی وه پام چې د ما ین خطر دی لنډه دا دا د زده کړی**

**مو سسه د زده کړی د مو سسی په ډول نه بلکې د کر بلا د جنګ د ډګـــر په ډول ښکا رید له**

**شا وخوا سیمه ټوله ډارونکې او له وهمی څخه ډکه وه او شاوخوا کورونو کې هم څوک نه ښکاریدل او سیدونکې یې ټول بلی خواته مها جر شوی وه او ټوله فاکولته د هدیری په ډول ښکا ریدلــه او هـــره ورځ بـــه یـــې د فاکولتی له چمنونو څخه یو یا دوه د مړیو جسدونه له خاورو را کښل.**

**د فاکولتی درسونه پیل شول خو داسې درسونه نه وه لکه هغه دری کاله وړاندی ځکه چې له یوی خواډېر استا دان مهاجر شوی وه ،محصلین هم لکه د استادان په ډول یا مها جر شوی وه او یا هم  د جنګ له ببــری فــا کولتی ته نه راتله دوی هم ګرم (ملامت ) نه نه وه هره ګـــړی د جنـــګ د پیل امکان وه همداسې څو واره پیښه هـــم شـــوه خپلـــه  ځینـــو ، ځینـــو محصلینو هم سلاح ګانی درلودی او په خپل منځکې به سره پـــه جنـــګ شول په یوه نا چېزه خبره به چې لیږ سره لاندی او باندې به شوه مړی او ټپیان به د لیلی په دهلیزو کې په وینو سره ، سره پراته وه څوک وه چې پو ښتنه وکوي هر محصیل په یوه تنظیم او حزب پری تړلی وه نـــو ددې له مخی هم ډېر استادان او محصلین خپلو درسوته نه حاضریدل موږ ډېر لیږ شمیر محصلین او استادان چې بل ځای مو د شپی د تیـــر  ځـــای نـــه درلود له مجبوریته مو شپه په لیلیه او ورځې مو په صنفونو کې تیر ولـــی د رسونه  هم هغه د پخـــوا پـــه ډول نـــه اســـتادانو تشـــریح کـــول او نـــه محصیلینو زده کولای شول ځکه چې دفاکولتی کتا بخانی د کتابو ســـره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جګړه کې داور په لمبو کې ايرى ، ايرى شوى وه دا پا ته يـونيم کـال تحصيلى دوره يې ادى چا خبره د زړه په وينو پاى ته ورسوله

په دى وخت کې شينخالى خپلې مور ته احوال وليـږه چـې يـوه اونـى ورسته زموږبرى ليکونه ويشل کېږى او دى مراسموته د ټولو محصـيلنو پلرونه راځى د ميوند پلار هم راځى ،کله چې شـينخالى لـه دى خبـرې خبره شوه دستى يې تصميم ونيو او وه يې ويل شينخالى خو پلار نه لرى په هغه ورځ چې برى ليکونه ويشل کېږى زما دلور غاړى ته به ځـوک د ګلو نو اميل ور اچوى نو يې و پتيله چې خپله لاړه شى او د شـينخالى دبرى ليک دا خيستلو په وخت کې بايد دهغې غاړى ته په خپلو لاسـونو د ګلونو هار ور واچوى.
دا دى هغه ورځ را ورسيدله چـې شـينخالى او ميونـد خپـل تحصـيلى سندونه تر لا سه کوي
په هغه ورځ چې د شينخالى او ميونـد بـرى ليکونـه و يشـل کېـدل د شينخالى مور شاه پرو هم په دى مراسمو کې ګډون وکړ دميوند مور او پلار دواړه ودى مراسموته راغلى وه ميوند د شينخالى مور خپل مـور او پلار ته ور وپيژندله دوى درى واړه ديوبل سره د پيژنکلوى ځخه خـوښ او خوشحاله شول او شنخالى وويل دادى د خپلو اولادو له برکته مـوږ او تا سو وکولاى شول چې يواو بل سره و پيژنو ميونـد لکـه چـې پخـوا د شينخالى په باره کې خپلې مورته ويلى وه
په دى وخت کې د ميوند مور د شينخالى مورته په خندا کې وويل خداى د وکوي چې زموږ دا پيژند ګلوى مو په اوږده دوستى بدله شى د ميونـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار که څه هم یوی خواته ولاړ وه او نه یې غو ښــتل چــې د ښـځو پــه مجلس کې ځان ور ګډ کړی د میوند دمور ددې خبرې په اوریدو چــې د میوند مور د شینخالی مور ته وویل چې دا پیژنــدګلوی د ی خــدای پــه اوږده دوستی بدله کړی غوړنه یې څک شول او په زړه کې یــې یــو څــه ورتیر شول او له ځانه سره یې په زړه کې وویل چې والله تــر دی کاســی لاندی کومه بله نیم کاسه شته ځکه دلته خونور هم د محصیلینو پلرونه او میندی ډېر راغلی دی له نورو سره خو یې موږ معرفی نکړو او یــوازې یې دشینخالی سره و پیژندلو،دلته خو حتمی یوه خبره شته خیر په منــا سب وخت کې به ورنه تپوس وکړم دلته شاپرو د خپلې لور خواته ورغله او په خبرو ورسره بوخته شوه .

دمیوند پلار دخپلې مېرمنې څخه و پوښتل چــې ای دمیونــد مــورې د شینخالی مورته دی داخبره څنګه وکړه چې دا زموږ پیژندګلوی دخدای په اوږده دوستی بدله کړی هغې ورته وویل سړیه او س ددې خبرو وخت نه دی بیابه په ارامه او قراری دا خبره درته وکړم.

د شینخالی مور شاه پرو د بری لیکونو د ویش په مرا سمو کې د خوښــی او خو شحالی او ښکې تو یولی او په ز ړ ه کې بــه یــې ویــل کاشــکې د شینخالی پلار ژوندی وای او په دی مــرا ســمو کــې ناســت وای او د زړه ارمان یې ختلی وای .

د بری لیکونو د ویش په مهال د لوړړو تحصیلا تو وزیر وویل د هر څه نــه مخکې هغو ته چې نن د بریالیتوب بری لیکونه اخلــی ټولوتــه د زړه لــه کومی مبا رکې وایم او داهم باید ووایم هغه چا چې لوړی نمری اخیستی د بری لیکونه سره یو ځای دویته د مقرری مکتوب هم ورکولی کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې د برې لیکونو لړې پیل شوه د شینخالي د نوم په ویلو سره شـاه پرو راغله او د شینخالي په غاړه کې یې دګلو هار واچاوه ورپسې میوند د میوند مور او پلار هم د شینخالي په**
**غاړ ه کې  د ګلونو قطارونه یو په بل پسې ور و ا چول.**
**بیا د میوند نوم واخیستل شو دهغه په غاړه کې اول دمیوند مور ، پلار او بیا د شینخالي مور او خپله شینخالي یې غاړې ته ګلان ور واچول .**
**کله چې شینخالي خپل د برې لیک او ورسره د مقـرري مکتـوب ولیـد میوند او خپلې مور شینخالي ته یې وویل دادې زه دپایتخت د زیږنتـوې په روغتون کې مقرره شوې یم او میوند هم خپل مکتوب وکـوت ګـورې چې میوند هم د پایتخت په یوه محکمه کې د قـاّ ې پـه تـو ګـه مقـرر شویدې ټولو په ډېره خوښی او خوخوشحالي دواړو ته دمقرریو  مبارکې هم وویله.**
**په دې سهار شینخالي د خپلې لو شینخالي او میوند څخه رخصت شوله او خپل ښار ته چېرې چې د سواد د زده کړې په کورس کې د ښونکې په تو ګه دنده درلوده لاړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د میوند مور او پلار خو لا د بری لیکونو د ویش نه ځو ساعته وروسته د خپل کور او کلی په خوا تللی وو خو هغه وخت چې دوی کورته ورسیدل او دشپې ډوډی وخو ړله شوه د میوند پلار خپلې مېرمنې ته وویل ښه اوس نو ووایه ، د میوند مور ځان نا خبره واچاوه او وه یې ویل څه ووایم ؟**

**د میوند پلار ورته وویل څنګه بیا دی هیر شول هغه د شینخالی مورته چې دی وویل دا پیژندګلوی دخدای په دوستی بدله کړی ، د میوند مور وویل سړیه یوه خبره وه تیره شوه**

**نا رینه می نه لید او دومره په خبرو پسی ګر زیدل می نه لیدل.**

**د میوند پلار ورته وویل ښځې بار اوښ می تر سترګو په پټه مه تیره وه اخیر زه هم انسان یم ډوډی خولی ته وړم نه غوړوته.**

**دمیوند مور ورته وویل چې پو هیږی حاجت نه شته چې په دی نیمه شپه له سره تر پا یه ټوله کېسه در ته وکوم او که ډېر شله یې او غواړی چې درته ووایم نو غوږ ونیسه میوند او شینخالی مینه سره لری او غواړی چې کوزده او واده سره وکړی او میوند تر اوسه دیته معطله وه چې خپلې زده کړی پای ته ورسوی او وروسته بیا له تا سره په دی باره کې سلا او مشوره وکوي اوس چې یې زده کړی پای ته ور سولی که د ی خوښه وی نودا ګز او دا میدان دا سبا ورشه او میوند ته دا انجلی وغواړه .**

**د میوند پلار وویل بیا ونه وایې چې بزرګ نه یم زه په هغه ګړی لا پوه شوم چې حتمی کومه خبره شته او که ریښتیا در ته ووایم ما خپله چې دا انجلی څه نومیده نوم یې رانه هیر شو هو شینخالی که هلته خلک ډېر نه وای په هغه محفل کې می ورته خواستګار ی کړی وای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د میوند خوښه ده زما لا پرون خوښه وه .

څو ورځې تیرې شوې د میوند پلار دکلي څخه راغی او د میوند دفتر تــه ور غی وروسته له روغ او جوړ څخه د میوند پلار خپل زوی ته وویل ؟

زویه ستا مور د ستا او دشینخالې په باره کې ماته څه وویل چې ستا رضا وی زموږ هم خو ښه ده خودا کار که ژر وشی ښه به وی تر اوســه مــوږ لا ژوندی یو اوبل دا چې په ژوند هیڅ باور نشته بیا پــه دی خــدای وهلــی جنګ چې لانده او وچ یعنی ګناه کار او بې ګناه ته نه ګوری ړندی مرمی دی د هر چا په تقد یر چې برابره شوه هغه له منځه وړی که خدای وکړی ی ستا سو ما شومان په خپلو سترګو ووینو دا به لا بله خو شحالی وی .

میوند وویل پلار ه ستا خبره بلکل ټیک ده خو یو څو موده صــبر وکــړو چې موږ خپلې تنخوا ګانی مخواګانی واخلواو خپــل بــار پــه خپلــو اوږو پورته کړو نه دا چې زموږبار ستاسو په اوږو بارشی ، زویه دا کوم بــار نــه دی چې موږ یې نشو پورته کولای خدای (ج) دومره د حلا لو راکړی چې دا بار پورته کړو او بیا دا چې هر زوی په پلار حق لری چې خپل زوی پــه کوزده او واده کړی ، زویه زه او ستا مور دواړه ارمان او هوسونه لرو نــودا یو هوس خو ته کولای شی چې زموږ دا هوس ته پوره کړی .

میوند وویل پلاره چې داسې ده نو له خیره سره دبلی میا شتی په اخیره کې به داکار وکوو زه په له شینخالی سره وګورم چې هغــه پکښــی څــه وایې که مخی یا وروسته مو پر یکړه سره وکوله تاسوته حتمــی خبــر در کوو تلواره د شیطان کاردی .

پلار یې وویل هغه دی نه دی اروېدلی چې وایې په ښو تلوار پــه بــدو تــا مل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند وویل پلاره تر هر څه یې خیر بهتر دی زه حتمی تا سوته خبــر در کوم .

زویه زه خپله له شینخالی سره یو ځل ونه وینم ؟

نه پلاره له هغې سره مه وینه هغه بېچاره ډېره بې جرا تــه ده او پــه دی خبره شر میږی او له بلی خوا هغې ته کومه نا امیدی ونه دریږی او په زړه کې ونه وایې که زما پلار ژوندی وای هغه به هم زما خواســتګار کــونکې هلک ته ورغلی وای او د هلک سره به یې خبرې کړی وای نه پلاره چــې ور نشی ښه به وی .

د میوند پلار هم د خپل زوی سره ومنله او د شینخالی له لید وڅخه تیــر شو او د خپل زوی سره یې مخه ښه وکړله او د خپل کلی پخوا روان شو .

ما زد یګر نا وخته میوند د شینخالی دکار ځــای تــه ورغــی ځکــه چــې شینخالی په ښار کې کور نه درلود شپه ور ځ په روغتون کــې وه نــو یــه شینخالی ته یې دخپل پلار دراتګ په باره کې ورته وویل شینخالی ورته وویل ډېره ښه خبره دی ورته کــړی دادوه میــا شــتی تنخــوا چــې مــو واخیستله بیا به نو له خیره سره دا د خیر کار سره پر لپسی کــړو او تــر هغو به مورږ هم ځینی ،ځینی د اړتیا وړ شیان واخلو هــر څــه چــې تیــار شول بیا به دوی ته خبر ورکړو .

ه ه ه ه

ه ه ه ه

پوره یوه میاشت وروسته میوند خپل پلار ته تیلیفون وکړ چــې د را تلــو نکې جمعی په ورځ له خیره سره زمورږ د کوژدی ورځ ده مګر که را تلــی یوازې راشه مور دوی می مه په تکلیفه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل دا ډېره ګنه ګونه مو نه خو ښيږي او بل دا چې دلته نه زه کور لرم او نه يې شينخالي لري يوازې څو کسه همصينفيان دي او بس ځکه د شينخالي مور هم نه راځي ځکه هغه هم دولتي دنده لري وخت نه لري چې راشي او همدا ددې لاره هم اوږده ده .

هغه وه چې ميوند خپل يوځو د محصلي دوری انډيوالان خبر کړل او شينخالي هم څو همصينفياني خبرې کړی د جمعی په ورځ دميوند پلار د خپل کوچني زوی سره راغلل او

دښار په يوه هوټل کې سره کېنا ستل د شينخالي همصينفياني ديوی او بلی سره ويل ګوه د چا چې خدای سموی هغه ده شينخالي او ميوند هم دولتي دندی پيداکړی او هم اوس دادی کوژده سره کوي مور خو تر اوسه لا دندی ندی پيدا کړی هری اداری او وزارت ته چې د دندی د غو ښتلو د پاره ورځو يا کمبود نه لری او که ويهم واسطه او پيسی غواړی ، د ميوند همصينفيان هم همدا ډول خبرې کوي

د ميوند پلار خپل زوی ته وويل زويه دا څنګه کوژده ده د ساز او سروز شته نه هم خپل او خپلوان.

پلاره دومره بېر وبار ته ضرورت نشته نو که خلک ډېر وی له يوی خوا مصرف ډېريږی

نو دومره ډېر مصرف ته اړتيا نشته او بل مور او تا سوبايد د اسلامی شريعت سره ځانونه برابر کړو او بل بې ځا يه او ډېر مصر ف د شيطان کار دی لکه چې وايې المصر فون اخوان لشيا طين.او له بلی خوا که هر څومره خلک زيات راشي او ډېر مصرف وشي والله که څوک خير يوسي درته ووايې نو له خپل وس او طاقت سره بايد کار وشي نه دی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اروېدلی چې وايې سړی بايد له خپلې بړستنی سره پښې و غزوی زه چې بل څوک بې ځايه مصرف کوي**

**په ماغزو می ورته په درد کېږی نو دا خو می خپله معا مله وه غير د خپلې معا ملی موږ او تا سو بايد دا بې ځايه رواجونه او دا ملا ماتونکې رواجونه بايد او بايد له منځه يوسو .**

**همدغه بې ځا يه رواجونو دلاسه مو ځوانان او پيغلی بې ودنو پاته دی .**

**کله چې د کوژدی مراسم خلا ص شول د ميوند پلار د شينخالی مورته د مبا يل د تيليفون له لاری اړيکه ونيوله او يو او بل ته يې مبارکې سره وويله .**

**وروسته د ميوند پلار خپل زويته وويل ميونده زويه واده به څه وخت وی له خيره سره**

**ميوند وويل پلاره نور نو په دی بې ځايه مصرفونو موملا مه را ماتوه دادی نکاح وتړله شوه حجاب او قبول وشو خوشحالی مو وکوله بس همدا واده دی بل واده ته ضرورت نشته .**

**دميوند پلار وخندل او په ټو کو کې يې وويل که داسې اسانه واده وی ماته هم يو داسې اسانه**

**واده وکړه چې داسې بې جنجاله وی .**

**پلاره هر کار د سړی په خپل لاس دی که يې په اسانی کوي اسانه دی او که په جنجال کوي يې په جنجال کېږی تا سو او نور ټول خلک واده نه کوي بلکې جنجال ځان ته جوړوی.**

**دميوند پلار شپه د خپل زوی سره تيره کړه په سهار د خپل کور او کلی په خوايې حرکت وکړ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې کورته ورسیده د میوند مورته یې دروغبږ په وخت کې ورته وویل مېرمنې دزوی د کوزدی او واده مبارکې درته وایم ، کله چې سره کېنا ستل د میوند مور ورته د چای څخه پیاله ډکه کړه دمیوند مور ورته وویل سرېه خنګه مبارکې دی راکړه ستا دی مبارکه وی .
هو مېرمنې درته می وویل د زوی کوژده او واده دی مبارک شه ؟
سرېه واده له کومه شو دا خویوازې کو ژده وه کو ژده .
د میوند پلار وویل میر منی مورې او تا سو د پخوا زمانی خلک یو په دغو کارونو نه پو هیږو
دوی وای چې د ډېرو خلکو خبرول په واده کې ، بې ځا یه مصرفونه د شریعت خلا ف کار دی هغه وه چې کوژده او واده دواړه یو ځای سره وشول .
د میوند مور لیږ په لوړ اوز سره وویل ای میونده زویه لاس می توروه مخ می پری تور شو
څه کونډه خودی نه وه کړی چې بې له سازه ، جوش ، خروشه او زما په نه موجودیت کې دی داسې کار وکړ ، د میوند پلار ورته وویل ډېر ښه کار یې کړی مورې خو نا پامه خلک یو په یوه
واده کولو مو کو لمی ووزی او اخیر هم له ځانونه د شیطان وروڼه جوړ کړو تر خیر مو ځان ته شر ز یاتیږی او د خدای په قهر او غضب ځانونه اخته کوو ، ریښتیا ووایه دا دواده دا دومره مصر فونه په کوم کتاب کې راغلی هم د خدای بې امری کوو په لکونو ولور اخلو دزوم کورنی د ولور په خاطر پتې خرڅوی ځانونه وږی تږی کوي او د نورو خلکو د ګیډ و د ډکولو په خا طر دواده په ورځ ان خپلې د شیدو غوا حلا لوی خلکو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډی وخوړله په خپله مخه ځی نور یې په زوم خیلو پسی بـلا چـې لـه لوړی مری او که پاتیړی ددوی نسونه خو یوه ورځ ماړه شول.
د میوند مور وویل ای زما میونده زویه څنګه دی خطا کړو یوازې دومـره شوی وای چې ستا په واده کې می یواز ی او یوازې خپله نـږور تـر لا س نیولی وای او د مخ په دواړو خواو می ښکل کړی وای زما څومره ارمانونه دی په زړه کې راه ته پریښودل خیر خدای دی خیر کړی دا چـې تـه او شینخالی سره خوشحاله یاستی ستا سو خوشحالی زموږ خوشحالی ده .
په دی وخت کې یې دمیوند پلار ته مخ راواړاوه ورته یې وویل سبا به می حتمی میوند ته ورولی چې خپلې نا وکې ته یې خپله بر خه ورکړم .
یوازې دوه کوټی په کرایه نیولی دی په یوه کوټه کـې خپلـه میونـد او شینخالی اوسیږی او بله کوټه د میلمنو د پاره دی
د میوند مور وویل زما هغه یوه کوټه بس ده څه شالی خو پکښی نه کرم .
مېرمنې مقصد می دادی چې دوی نوی واده کړی ددوی ملګری دوی تـه د مبارکې دپاره راځی
په هغه یوه کوټه کې به ته کښینی او که به ددوی میلمانه ؟
سړیه ته ما ورسوه هلته به د یوی کپی ځای پیداشی څه د پـا چـا هـی تخت خو نه غواړم چې ماته دی د پا چاهی تخت جوړ کړی چې زه هلتـه کښینم، یو دیدن به یې وکوم خپله نږور به یو وار په غیږ کې و نیســم او خپل زوی به وګورم چې اوس به هغه د پخوا څخه هم ښــکلی شــوی وی که نور هیڅ نه وه خپل زوی او نږور خو به یو ځای سره ووینم شپه هم نه کوم ببرته را ځم یوازې له دوی سره دوه کلمی خبرې کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې لېونی شوی یېلیږ یې سړه خوره دومره توده یې هم مه خوره دا چې ددوی خبرو ته دی زړه کېږی وا خله دا زما مبا یـل خبـرې ورسـره وکوه اوس خو دادی په یوهٍ ثانیه کې ورسره په خبرو کېږی دوه کلمی نه سل کلمی خبرې خو ورسره وکوه .
سړیه دا شیطان ډبلی دی خدای ور ک کړی که دا نه وای بیا به دی څـه پلمه کولای راکړه ، راکړه دا د شیطان ډبلی چـې د خپلـې نـږور او زوی سره می خبرې وکړم .
د میوند پلار د خپل زوی نمره ووهله روغ او جوړ یې سره نه وه کړی چې مېرمنې یې ورته وویل
بس ده بس ده لا په خبرو نه یې موړ شوی راکړه چې زه ورسـره خبـرې وکړم .
زویه د خدای په امان مور دی شله ده نه می پریږدی چې در سره خبرې وکړم څنګه شینخالی هم ښه ده هو پلاره هغه هم ښه ده دادی له خپلې مور سره خبرې وکړه .
مورې یې هغه ددې په خبره د شیطان ډبلـی واخیسـت او وه یـې ویـل میونده زویه تر تا جار شم تر تا قر بان شم مبارک دی وی سل واره نه زر واره د مبارکوي درنه خفه یم خفه یم داسې خو څوک نه کوي اخیـر تـه می زوی یې نهه میا شتی می په خپله ګیډه کې ګر زولی یـې زحمتونـه می در سره ګا للی مور څه د میری په ستر ګه دی لا راته ونه کتل .
مورې خفه کېږه مه له دی ځایه د لا سونه ښکلو مه ، نه می غو ښتل چې په دی خرابه لارهاو په دی جنګو کې تا سوته زحمت در کړم که ژوند وه بیا به موږ دواړه ستا خدمت ته دالته درشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی و خت کې شینخالی کو تی ته را دننه شوه میوند ته یې په قــراره
وویل څوک دی له چا سره خبرې کوي ، میوند د ګوشی د خبرو په ځــای
لا س کېښود ا هسته یې وویل مور می ده مور ، شینخالی د خپلې پــزی
په نیما یې ګوته کېښوده او په قراره یې وویل پزه مــی پــری شــوه پــزه
.میوند خپلو خبرو ته اوږد والی ورکړ مورې خفه نشی لا ســونه او پښــی
دی ښکلوم.
زویه پروا نلی چې تل سو دواړه ســره ســره خــو شــحاله یاســتی مــوږ
خوشحاله یوچېری ده شینخالی لور می ،مور جانی داده ســلامونه درتــه
وایې زما له څنګه ولاړه ده .
الله د څنګ له دریدو یې لا ځار شم.
بلی، بلی مورې غږ دی ښه نه راځی سم ځای ودریږه ، مــور بېچــاره نــه
پوهیده چې سم ځای څنګه وی نو یې وویل زویه دادی سم ځای سات د
پلار له کټه سره ولاړه یم .
موی سم ځای مقصد لیږ په لوړ ځای ودریږه.
مور یې د بام په ځینو لیږ پورته شوه ، زویه اوس مــی غــږ اوری هــوکې
مورې او س صح شو.
په دی وخت د میوند مور وویل زویه شینخالی تــه ووایــه چــې راســره
خبرې وکړی .
مبوند د شینخالی خواته داسې وکتل چې یعنی راسه له مــور ســره مــی
خبرې وکړه شینخالی لکه چې شر میدله د لاس پــه ښــورولو یــې د نــه
ځواب ورکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیا یې مور وویل زویه شینخالی چېری ده ورکړه چې خبرې ور سره وکړم.**
**خو خیر شینخالی مجبره شوه تیلیفون یې واخیست نو یې په قراره میوند ته وویل څه ور ته ووایم ، میوند په قراره دوه ځلې ورته وویل سلام . سلام وکړه .**
**مورې سلام ، سلام .**
**د هغې خوانه د میوند مور وویل ، وی لوری ته یې سل واره وعلیکم سل واره ، واره ځنګه ښکلی غږ دی دی لوری جوړه خو یې ګوره ، ګوره ماته د خواښی په ستر ګه ونه ګوری زه دی مور یم مور خدای په تعویزو لور نه را کوله دا دی دلور مور هم شوم ، خو کاشکې**
**ستا سو په واده کې زه وای او هغه ارمان چې می په زړه کې وه هغه ارمان می ختلی وای خیر چې تیر شوه هغه تیر شوکه خیر وه بیا به وګوری چې زه دی خواښی یماو که په ریښتیا ستا مور یم ،**
**مورې له مانه خفه نشی میوند ته می ډېر وویل چې تا واده ته راولی ولی را سره یې ونه منله ما ملا مته نکړی .**
**په دی وخت کې د میوند پلار وویل مېرمنې د مبا یل پیسی دی ټولی خلا صی کړی ما ته هم وار را کوي چې د شینخالی سره خبرې وکړم، د شینخالی او د میوند د مور خبرې لا نه وی خلا صی شوی چې تیلیفون د میوند پلار ور ځینی واخیست .**
**د میوند پلار شینخالی ته وویل ځنګه یې لوری خفه شوی خو نه یې څو دقیقی یې خبرې لا نه وی سره کړی ببله دی چې د یوه او بل سره مخه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه وکړی چې د تیلیفون پیسی خلا صی شوی د میوند پلار وویل د تیلیفون پیسی خلا صی شوی .

د میوند مور وویل خاوری دی دا دشیطان په ډبلی شی دا هم لکه ددې دولت ما مو رین بې پیسو خبرې لا نکوي . د میوند پلار وویل اوس زمانه د پیسوده د میوند مور یې خبرې پری کړی او ورته یې وویل له یاده مې ووتل چې درته ووایم د شینخالی مور په واده کې دوه ؟

نه ، نه د شینخالی مور هم نه .،نو څنګه بیادی د شیطان په ډبلی کې خبرې ورسره وکړی .

نه با باهغه وخت می له ډېری خوشحالی ته لا له یاده وتلی وی ته دشینخالی د مور خبره کوي .

سړیه ولاړ شه ودی د شیطان ډبلی ته پیسی واچوه چې زه ور سره خبرې وکوم . میر منی د هغې لمبر راسره نشته چې ورته زنګ ووهم ،.

سړیه لمبر به یې له شینخالی واخلو ته لاړ شه پیسی ور واچوه .

د میوند پلار له کوره د وتلو په وخت کې وویل ریښتیا یې ویلی چې د واده نه په ډلو ډېری لاړی .

میر منی یې ور پسی غړ کړ فکر دی ونیسه چې ډېری پیسی ور وا چوی چې زه ډېری خبرې ورسره کوم ، هغه بېچاره کونډه ښځه ده په زړه کې کومه ګیله مانه ورته ونه دریږی .

وروسته د میوند پلار راغی د شینخالی مور ته یې زنګ وواهه اول د میوند پلار خبرې ورسره وکړی ، وروسته بیا د میوند مور د شینخالی له موره سره تر هغه خبرې وکړی تر څو هغه ددې په خبره چې د شیطان په ډبلی کې پیسی خلا صی شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه ه ه ه
ه ه ه ه

دلته نو پوره یوکال او څو میاشتی تیری شــوی چــې شــینخالی خپلــې مورته تیلیفون وکړ او ورته یې وویل چې په دی څو ورځو کې مور کېــږم ددې خبرې په اوریدو سره شاه پرو ډېره خو شحاله شوه ډېر ژر لاړه او د خپل زوی شمشاد په کارتوسو سوری ، سوری شوی څانگو یــې راوړه او دوه ورځې وروسته د خپلې لور شینخالی کورته یې ځان را ورساوه .

په دوهمه ورځ یې خپلې لور شینخالی ته وویل لوری دا دوه ورځې چــې درته گورم د ماشوم زیږیدو ته ډ یره وارخطا راته ښکا ری هــیڅ فکــر او اندیښنه مکوه باور وکړه له هغې ورځې چــې ســتا د امینــد واری څخــه خبره شوی یم هره چار شنبې د بابا صیب زیارته ته تلم ســتا او ســتا د ماشوم د پاره می د با باصیب په زیارت کې کا کونه پخول او خیراتول می باباصیب ډېر ښه شخص تیر شوی له خدایه را دوری په ده باندې عقیده لرو یوازې زه نه ټول خلک یې ننگوی د هر چا مشکل حل کوي هر څوک خپل مراد ته رسوی زما خو په زړه کې هیڅ اندیښنه نشته هر څــه مــی باباصیب ته پری ایښی خدای مهر بانه دی .

څلور ورځې تیری شوی په پنځمه شپه د شــینخالی زوی پیــدا شــو، د سهار د لمر ختلو نه وروسته شاه پرو ملا ر اوست او د کوچنی ما شوم په غوږ کې یې اذان وکړ شاه پرو هم ملا ته برابر کړی سوغات ورکړ.

د ماشوم د پیدا ینبت په دریمه ورځ باید ملا راغلی وای او پر ماشوم یــې نوم ایښی وای خو د شینخالی مور نور د ملا د راتــگ ســره مخــا لفــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وښوده او وه يې ويل چې پر ما شوم زه خپله نوم ږدم هغه وه چې ميونـد او شينخالي ورسره ومنله .**

**شاه پرو په کوچنی ماشوم لمسی د خپل شهيد ماشوم زوی شمشاد نوم ورباندې کېښوداو ماشوم يې را وا خيست د شمشاد په کار توسو ، سوری شوی ځانګو کې يې پری با سه پيغلو ، ا نجونو او سپين ســرو د نــوم پــه اېښودلو سره داريا و ته چمبې ور واچولی داسې دارياوی و هلی کېــدلی او داسې سندري ويلی کېدلی چــې د شــينخالی د روغتــون همکــارانی داکترانی او داکتران هم راغلی وه او د ميوند د فتر انډيوالان او قا ضــيان هم راغلی وه د خو ښی او خو شحالی سازونه غړيدل او په بله کوټه کــې ملا يانو او هغه چا چېقران کريم لو ستلای شوای د قران کريم ختم پيل شوی وه.**

**وروسته له څو شپو او ورځو شــاه پــرو د خپلــې لــور شــينخالی او زوم ميوندڅخه رخصت واخيست او د شمشــاد د مــخ پــه ښــکلولو ســره د شينخالی له کوره ووتله او خپل ولايت او سيمې په خوا يې حرکت وکړ .**

٥ ٥ ٥ ٥

٥ ٥ ٥٥

**کله چې شمشاد پنځه کلن شو نو يې خپلې مورته وويل دا هلکــان چــې ښو ونځی ته ځی ماته ډېر خوند راکوي زه به څه وخت ښونځی تــه ځــم مور يې ورته وويل زويکه کله چې له خيره سره اوه کلن شوی ښــوونځی ته شا ملوم تر اوسه لا کو چنی يې، خوشمشاد به داخبره هر وخت ورتــه کوله خو کله چې شپږ کلن شو مور او پلار يې ډېر په تکليف کړل اخيــر په شپږ کلنی يې په لمړی ټو لګی کې شامل کړ په ټول ټــولګی کــې تــر**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو هم کوچنی وه او هم په ونه تر نورو ټيټ وه ، شمشاد ښوونځی ته تر ټولو پاک ، پاک کالي اغوستل او تر ټولو به وختی يې ځان ښـــوونځی تـــه رساوه هغه د لمړی ټولگی څخه تر اتم ټولگی پوری تر ټولو لا يقه او هـــر وخت به اول نمره او د د رسی کال په اخير کـــې بـــه د اداری لخـــوا ســـتا ينليک هم ور کول کېده.

په اتم ټولگی کې وه کله چې شمشاد د ښوونځی پـــه لـــور روان وه چـــې دلوی واټ منځ کې

ځا نمرگی بر يد وشو او شمشاد هم په پښه باندې سخت ټپی شو مـــور او پلار يې تر ناوخته خبر نه وه خو کله چې ما زديگر کورته را نغلی د هغـــه نه وروسته يې مور او پلار په لټه کې شول چې وروسته لـــه ډېـــرو منـــډو ترړو يې شمشاد د ښار په روغتون کې د بې هو ښی په حا لت کـــې پيـــدا کړ په دوو ، دريو ورځوکې دميوند مور ، پلار او دشينخالی مور هم خبرې شوی وی دادی

بر ابر روغتون ته ورغلی ښه وو د شمشاد روغتيا يې حالت د پخوانه ډېر ښه شوی وه .

دشينخالی مور وويل کوم ځای يې ټپی شوی دی د ميوند مور وويل کېڼه پښه يې ټپی ده .

څو اونی شمشاد په روغتون کې وه وروسته له دريو اونيو څخه يې کورته يووړ خو پښه يې

ښه نشوه اخير يې بهر ملک ته يووړ دوه دری مياشتی هلته تر درملنـــی لاندی وه او چې کله ښه شو ببرته خپل هېواد ته راغلل کله چې شمشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خپل کورته راغی او د شاه پرو زړه صبر شوچې شمشاد اوس ښه دی بیا نو خپل کلی ته لاړه .**
**کله چې شمشاد له بهر څخه راغی د ښوونځیو کلنی ازمـوینی خلاصـی شوی وی په راتلونکې کال کې ببرته په اتم ټولګی کـې خپلـو درسـوته دوام ورکړ په دی کال کې هم اول لمبر بریلی شو**
**او په ژمی یې د نهم ټولګی کتا بونه وویل او د لیقت ازموینه یـې ورکـړه بریالی شو او د خپلو پخوانیوهم ټو لګیانو سره یو ځای شو.**
**شمشاد څو کاله وروسته له دوولسم ټو لګی څخه خلاص شو او د کانکور ازمو ینه یې هم په بری سره تیره کړه او د انجنیری پو هنځی ته بر یا لی شو**
**شینخالی خپل زوی شمشاد ته وویل دادی بیا هم زما د پلا ر ګنی نښـی نښانی په تا کې لیدلی کېږی دادی ته د خپل نیکه کېصر خـان غونـدی شوید انجنیری فاکولتی ته بریالی شوی خدای(ج) د وکوي چې تـه هـم لکه خپل نیکه کېصر خان داسې لایقه انجنیر شی او د خپل نیکه نوم را ژوندی کړی .**
**شمشاد هم هروخت که به په ټولګی کې ناست وه او که به یې لـه ځانـه سره مطالعه کوله او یا یې درس وایه د خپلې مور دی خبرو چـې خـدای وکوي چې ته هم د خپل نیکه په څیر لایقه انجنیرشی په مغزو کې سـره ګر ځیدله او را ګرځیدله تر څو چې د انجنیری فا کولته یې د لوړو نمـرو په اخیستلو سره پای ته ورسوله.**
**شمشاد په هغه ښار کې چې یې انا یعنی د شینخالی مور او سـیدله پـه هغه ښار کې د انجنیر په تو ګه مقرر شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمشاد په هغه ښار کې داسې نقشی جوړې کړی او داسې تعمیرونه یــې جوړ کړل چې ښار بلکل بل ډول شو ښار داسې ښکلی شو لکه پیغله چې دواده په شپه  په سینګار ښکلی شوی وی

ډېر سیلا نیان له نورو ښارونه دی ښار ته د سیل د پاره را تلل.

انجنیر شمشاد په ټول ښار او سیمه کې داســې مشــهور شــوچې ټولــو ښاریانو پیژا نده هر ځا ی او هر چېرته چې به دوه کسان سره ناست وه د انجنیر شمشاد صفتونه او تعر یفونه به یې کول او همدا رنګه کله چې بــه د ښاریانو په منځ کې د انجنیر شمشاد صفتونه کېدل د نا ســتو کســانو څخه به ضرور یوه نه یوه ویل انجنیر شمشاد به ولی لا یقه ، پوهه،او ښــه سړی نه وی اخیر د انجنیر کېصر خان لمسی دی .

انجنیر کېصر خان که دغو ټو پکېانو او بد ماشا نو نــه وای شــهید کــړی زموږ ښار به لا پخوا داسې ښکلی شوی وای .

نو څکه هر سوداګر او یا هر هغه چا چې به نوی مغازه ، مارکېټاو یــا هــم کور جوړاوه نقشی به یې انجنیر شمشاد ورته جوړولی نــو ددې ښــار او ددې سیمې ټولو وړو او زړو انجنیر شمشاد پیژانده که یې مخا مخ نــه وه لیدلی خو د نوم سره یېښه اشنا وهاو پیژانده یې .

خو د ورځو نه یوه ورځ انجنیر شمشاد د ښار په منځنی برخه کــې یــوه ودانی ولیدله چې د ښار په منځ کې نیمګړی ولاړه ده ډېــر خــوا ښــینی شوخو ددې ودانی له څنګه یې له یوه دوکانداره و پوښتل، حاجی کاکا دا ودانی د چاده او ولی نیمګړی پاته ده څنګه خاوند یې پیسی نلری او کــه بله کومه کېسه ده ؟

دوکاندار وویل ښه ته انجنیر صیب شمشاد خان یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجنیر شمشاد وویل هوکې حا جی کا کا زه انجنیر شمشاد یم.
دوکاندار ورته وویل، انجنیر صیب دا نیمګړی ودانی چې تــه وینــی ددې مانۍ نقشه هر څه ستا د خدای بخښلی نیکه کېصر خان جوړه کړی ، دا نیمګړی مانۍ یې هم جوړه کړی ډېر کلونه د هغه وخت نه را په دی هــوا تیر شول ددې مانۍ نقشه هم ستا د شهید نیکه سره وه هیڅوک په دی نقشه نه پو هیږی چې دا نیمګړی ودانی ودانه کړی .
انجنیر شمشاد چې دا کېسه واوریدله ډېر خوا ښینی شو او تما مــه ورځ په فکرونوکې تیره کړه او ما ښام نا وخته د شینخالی مور د شمشــاد انــا چې شمشاد ته وکتل یو څه خفه او اند یښمن غوندی ورته ښکاره شونو یې خپل لمسی شمشاد ته وویل شمشاده زویه نن ناوختــه هــم کورتــه راغلی او خفه غوندی ښکاری په خپل مور او پلار پسی خفه شوی یېــاو که دی د خپلو همکارانو سره کومه خبره لاندی باندې کړیده.
شمشاد وویل نه می له چا سره جنګ کړی نه په مور او پلار پســی خفــه شوی یم یواز ی اویوازې می نن په ښار کې یوه نیمګړی ودانی لیدلی نــو دهغې نیمګړی ودانی په لیدو سره یو څه پر یشانه شوی یم.
د شمشاد ان ورته وویل هغه د ښار په منځکې نیمګړی ودانی راته ښــی ،زه خپله چې هغه ووینم راته ژړا راځی د هغې ودانــی نقشــه خــو ســتا شهید نیکه کېصر خان جوړه کړی کله چې دا ودانی نیما یې ته ورســیده ستا نیکه شهید شو او دودانی تر اوسه نیمګړی پاته ده ځکه چې له یوی خوا دی خدای وهلی جګړی چاته وخت ورنکړ، واکدارانو هم څومره ســر پسی ونه ګرځاوهاو له بلی خوا ټول خلک د یوی ګولی ډوډی د پیداکولو پسی ورک او مها جر وه او همدارنګه یو یا څو کســه انجنیــران چــې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ته ددولتی کارنه په مو یسیسو او انجو ګانو کې ښه تنخوا ورکوله په دولتی ادارو کې انجنیر پــه دم او تعــو یزنــه پیداکېــدهچې نمــوړی نیمګړی ودانی نقشی مقشی یې سره برابــری کــړی وای او نــور د ښــار واکداران یې هم څومره په کېسه کې نه وه ځکه چې دوی هــم د خپلــو جیبونو د ډکولو او د ډالرو په پیدا کولو پسی یې پښی را لوڅی کــړی وی د ښار دابادولو، هېواد او خلکو ته د خدمت پــه خــوا بــلا وهلــی ووچــې قدمونه پورته کړی وای یوازې خپلې شپیاو ورځې یې تیرولی او په خپله ښه پسی ګر ځیدل همدا ادی چا خبره لو ته یې ایښــودله او تیریدلــد هېواد دراتلونکې په کېسه کې نه وه په هغو کارونو کې چې ډالری ورتــه پیدا کېدلی هغه کا رونه یې کول نو ددې مانۍ په جوړولــو کــې بــه څــه خاوری ورته پیدا شوی وای نو ځکه یې په فکر کې لا نه وه ،.

اوس چې ته راغلی یې د خپل نیکه په پله پل کېږده دا بهادری ته وکړه .

شمشاد خپل سر یو څه راپورته کړاو خپلې انا ته یې داسې وکتــل چــې نوزه یې دا دومره وخت نه خبرولم بیا یې د چای پیالــه راپورتــه کړهــاو خپلې انا ته یې وویل ښه ته چې ددې نیمګړی ودانی لــه کېســی څخــه خبره وی زه دی ولی نه خبرولم ؟

د شمشاد انا په دی چې ګواکې زما لمسی تــه پــه زړه کــې څــه ور ونــه ګرزینو یې ورته وویل .

شمشاده زویه زه اوس سپین سری شوی یم د شپی چې ډوډی وخــورم سهار می بیا په یاد نه وی چې تیره شپه می څه خوړلی وه خیر پــه هــر صورت شمشاد هم د خپلې انا په خبره یو څه پوهه شواو و پو هیــدهچې دانا می دا خبره د خولی وه نه د زړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمشاد هغه شپه تر سهاره و یښه تیره کړه او په دی سبا هیڅ خپلې دندی ته لاړی نه کله چې یې انا له کوره د سواد دزده کړی دندی تله نو یې شمشاد ته وویل زویه نن څنګه دندی ته تر اوسه لا نه یې تللی ؟
شمشاد ورته وویل نن می سر یو څه خوږیږی نن دندی ته نه ځم.
کله چې د شمشاد انا له کوره ووتله شمشاد پنسل،خط کش او کاغذ را واخیستل او د خپل نیکه نیمګړی ودانی یې په مغزو کې را وګرزوله او د نقشی په جوړولو یې پیل وکړما زدیګر لا نه وه شوی چې انا یې راغله او شمشاد نقشه جوړه کړی وه ښبله دی چې انا خبره کړی په دا بله ورځد هغه ښارواکمن ته ورغی او د نیمګړی ودانی نقشه یې تر مخ ورته کېښوده هغه وه چې ددولتی لوړو چار واکو څخه امر او د ودانی د مصرف امرونه واخیستل او د ښار د منځ د نیمګړی ودانی په جوړولو پیل وشو څو میاشتی نه وی تیری شوی چې دا نیمګړی ودانی د جوړېدو کار سرته ورسیده ټول ښاریان هک، پک پاته شول دا نیمګړی ودانی چې سرته ورسیده او جوړه شوه داسې ښکلی او ښا یسته ښکاریده چې په ټول ښار او سیمه کې یې ساری نه درلود په ټول ښار کې چوک، چوکه شوه ، اوازی شوی چې د انجنیر کبصر خان نیمګړی ودانی د انجنیر شمشاد لخوا جوړه شوی ده او داسې ښکلی ده چې ددې ودانی د ښکلیتوب خبرې د هر ښاری په ژبه پرتی وی ددې ودانی د پرانیستلو د پاره د ولایت واکمن را غو ښتل شوی وواو د ودانی ددروازی په دیوال کې یوه ډبرینه لیکله شوی وه او یوه سره ټوټه ور باندې ځړ یدله نو ددې ودانی د پرانیستلو مراسیم یوازې ددې سری ټوټی په ټولولو سره کېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د ښار واکمن د پرا نیستلو په مراسیمو کې ګـډون وکـړاو ددې سرې ټوټې په ټو لولوسره يې ولیدل چې په ډېرینه داسې جملــې لیکــل شوې وې.
ددې ودانی مهند سی او نقشه د شهید انجنیر کبصر خان لخوا تر تیب او دیزاین شوی او دده دلمسی انجنیر شمشاد پــه واســطه جــوړه او ګټــې اخیستنی ته چمتو شوه .
بس همدومره.
د پر ا نستلو د مرا سمو نه وروسته د ولایت واکمن لخوا انجنیر شمشــاد ته یې یو ستا ینلیک او یو څه نغدی پیسی یې د انعام په ډول ورکړی .
په همدی ورځانجنیر شمشاد ما زدیګر وختی په داسې حال کې چــې د خو شحالی څخه په جامو کې نه ځا ییده کورته راغی شاه پرو چې خپــل لمسی ولیده حیرانه شوه چې انجنیر شمشاد نن څومره وختــی کورتــه راغی او شمشاد خو ښاو خو ښحاله په ستر ګو ورته ښکاره شو.
نو شاه پرو ورته وویل؟
شمشاده زویه نن خو راته ډېر ښا یسته ، ښکلی او خوښ ښکاری .
شمشاد ښېله دی چې خپلې انا شاه پروته څه ووایې او یا خپــل بــو ټونــه وکاږید تلو یزیون خواته ور تیر شو تلو یزیون یې چالانه کړڅو دقیقی لا نه وی تیری شوی چې د تلویزیون د ماښام خبرونه پیل شول نو شمشاد خپلې انا شاه پرو ته وویل راشه غوږ شه چې خبرونه څه وایې ؟
د شمشاد انا شاهپرو وویل زویه د تلو یز یون په خبرو می سر مه خــوږ ه وهداسې خبره خو والله که واورو چې پــرې خوشــحاله شــوښېله د اســی خبرو چې پری خفه ، پریشانه او جګر خونه شو، اوس به بیا پــه خبرونــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زمونږ د هېوادوالو د مړینې او ژوبلې خبرې وی خدای را وستی ده څه وکړو له هری خوا چې وژل کېږی بیا هم همدغه افغانان دی چې یو د یوه په نوم بل د بل په نــوم ســره وژنـــی دوی تــه دی خــدای (ج) ســمه لار وروښیی او یا به یې هم مکتب ســو ځــولی وی او یــا بــه یــې روغتــون سوځولی وی او یا به یې هم کوم پل وران کړی وی او یا به یــې د ســړک جوړولو موټران په غنیمت وړی وی یا به یې هم د کوم هېواد وال تریــاک او چرس نیولی وی ولا که داسې خبره واوری چې زړه مو پــری را پورتــه شی.

خو انجنیر شمشاد خپلې انا ته عذر او زاری وکړی او ورته یې وویل همدا نن زما د پاره خبرونه واوره او هغه مازدیګر چې دی راته وویل چې ولــی نن دومره خو شحاله یې پریږده چې ستا ددې خبرې ځواب نن تلویزیون در کړی .

شاه پرو د شمشاد انا هم راغله تلو یزیون ته نژدی کښینا ستله که څــه هم په ستر ګو خو اوس لیږ ضعیفه او درنده شوی وه خو پــه غــوږو کــې اوس هم لا تکړه وه او خپل دوه غوږونه یې د تلو یزیون خبرونو ته ځلور کړی وه . کله چې د تلو یزیون خبرونه پیل شول د خبرونو پــه لــړ کــې داسې یو خبر واو ریدل شو، نن د ښار د واکدار لخــوا د ښــار د منځنــی برخی هغه ودانی چې د انجنیر کېصر خان لخوا څو کاله پخــوا نقشــه او دیزاین شوی وه او انجنیر کېصر خان شهید شود هغه د لمســی انجنیــر شمشاد په لاس یې نقشه دیز این جوړه او د ګټې اخیستلو د پاره چمتــو او پرانیستله شوه چې نموړی تکې د نموړی ودانی د پرانستلو پــه دېــره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم لیکل شوی انجنیر شمشاد ته ددې خدمت په ویاړ یو ستا ینلیک او یو څه نغدی پیسی هم د انعام په تو ګه ور کړلی شوی.
انجنیر شمشاد هغه ستا ینلیک او نغدی پیسی خپلې انا ته ور وښودلی ...
شاه پرو د شمشاد انا چې دا ستا ینلیک ولید او دا خبره یې د تلویزیون له لاری واوریدله ولاړه شوه شمشاد یېد مخ په دواړو خواو ښکل کړ او د خپل بکس څخه یېیوه د سرو زرو ګو تمی را واخیستله او ششمشاد ته یې وویل دا سوغات زما له خوا و منه .
شمشاد چې د سروزرو ګوتمی ته وکتل نو یې وویل ؟
انا دا ګوتمی خو ښځېنه ګوتمی ده په دی زه څه وکړم دا واخله دا بېرته زما لخوا تا ته سوغات ده قبوله یې کړه .
شاه پرو وویل زویه خیر دی چې ښځېنه ګوتمی ده د ښځې څښتن به شی بیا به یې هغې ته ورکړی او دا ګو تمی ډېره تا ریخی ګوتمی ده دا ډېره یاد ګاری ګوتمی ده دا لورونی درکوم او دا به له خیره سره ساتی هر وخت چې دی واده وکړدا به ستا د کو ژدنی وی او خپلې مورته به یې لا هم نه ورکوي ، څکه تا د خپل نیکه نوم را ژوندی کړدا ګوتمی هم ستا د نیکه انجنیر کبصرخان د لاس ده چې ماته یې راکړی وه او بیا یې د ګوتمی د غلا کېدو چې تړو پکېانو غلا کړی وه د انجنیر کېصرخان د شهادت د خپل زوی د شهادت او د قوماندان حضرت خان د میر منی د ناروغی او بیا د هغې جوړېدل او بیا د ګوتمی د سوغات په توګه یې ستا مور ته او ستا مور بېرته ماته راکړه ټوله کېسه یې ټکې په ټکې ورته وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمشاد چې د ګوتمی دا کېسه له سره تر پا یه واوریدله نو بېله ځنډه یې ګوتمی واخیستله او په خپل بکس کې یې قلف کړه.

په دی وخت کې د شمشاد انا شاه پرو خپل لمسی شمشاد ته وویـل تـا خپل پلار میوند او خپلې مور شینخالی ته تیلیفون ونه کړچې داسې بری می په برخه شویدی.

شمشاد وویل نه ما ورته تیلیفون نه دی کړی دوی به یې هم په خبرو کې واوری شاه پرو یووار شمشادته مخ راواړاوه او ورته یې وویل ته د مـور او پلار په قدر څه پو هیږی دوی چې خبر شی څومره به خو شـحاله شـی زوی نلری ځکه د مور او پلار په قدر نه پو هیږی .

شاه پرو شمشاد ودی ته و هڅاوه چې خپل مور او پلار ته تیلیفون وکړی کله چې شمشاد خپل پلار تـه تیلیفـون وکړمبـا یـل د شمشـاد مـور شینخالی واخیست او ورته یې وویل د انا سره خبرې وکړی شـاه پـرو د خپلې لور شینخالی سـره د روغ او جـوړ ښځـه وروسـته ورتـه وویـل شینخالی لوری میوند دشمشاد پلار چېری دی شـینخالی ورتـه وویـل دادی دلته ناست دی د تلویزیون خبرونـه خـو دلتـه اوس پیـل شـول خبرونه اروی.

شاه پرو ورته وویل ستا سو د زوی شمشاد د بریـالیتوب مبـارکې درتـه وایم هغه د خپل نیکه کېصر خان نوم ژوندی کړ .

په دی وخت کې شینخالی په تیلیفون کې په خپلې مور شـاه پـرو غـږ وکړهغه دی دلته یې هم په تلویزیون کې ښکاره کوي ، مورې هغه دی یو نفر چې ښکلی دریشی یې په ځان کې ده شمشاد زوی ته می یـو کاغـذ ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوموري مور يې هم وينو دا سړی څوک دی چې شمشاد يې په غيږ کــې کلک نيولی دی ؟
د شينخالي مور ورته وويل دا ددې ولايت والی دی چې شمشاد ته ســتا ينليک ورکوي نغدی پيسی يې هم ورکړيدی.
په دی وخت کې د تيليفــون غــوږی د شمشــاد پــلار قاضــی ميونــد وا خيستله د خپلې خوا ښی يعنی د شينخالی له موره ســره يــې د روغ او جوړ نه وروسته يې له خپل زوی انجنير شمشاد سره پــه تيليفــون کــې سره په خبرو شول د انجنير شمشاد پلار قاضی ميونــددا لانــدی ټکــې خپل زوی ته وويل.
زويه ددې بريا توده مبارکې درته وايم د تلويزيون په خبرو کې مې ســتا دبريا خبر واوريده د ولايت والي او نورو ښاريانو چې ته په غيږ کې نيولی وی او تا ته يې مبارکې در کوله ما د تلويزيون خبرونه پوره واوريدل زمــا شمله دی لوړه کړه زه له ډېری خو ښی په جامو څه په ټوله کوټه کــې لا نه ځاييد لم ستا د برياليتوب سره زما شمله د شمشاد د غره له څــوکې لوړه راته بريښيده ، زويه په تا او ستا غوندی د وطن با غيرته، با همتــه ، صا دقه او ريښتينو ځوانا نو چې د وطن او خاوری په ريښــتنی خــدمت کوي وياړم تا ته او ستا غوندی د نورو ځوانانو د لا زياتو بر يا ليتو بونو په هيله د خدای په امان ستا دعمر د اوږدوالی او خوشحاله ژوند په هيله.
د انجنير شمشاد مور شينخالی د تيليفون غوږی وا خيستله خپــل زوی انجنير شمشاد ته يې دده د بريا او برياليتوب د مبا رکې هيلی ورته څــر ګندی کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپه تیره شوه په دی سهار د هېواد پــه ټولــو ورځ پـاڼو کــو د انجنیــر شمشاد نوم او عکسونه چاپ شوی وه .

هلته د سواد دزده کړی په ښوونځی کې د انجنیر شمشادانا شاه پروته د ښوونځی زده کوونکــو، ښــوونکو،دلته پــه زیژنتــون کــې د شــینخالی همکارانواو قاضی میوند ته هم د دفتر همکارانو ، اشنا یانو ان تردی چې د انجنیر شمشاد همدوره او همصنفیانو چې دا ورځپا نې ولیدلی له هری خوا د شمشاد انا شاه پرو ، دشمشاد پلارقاضی میونداو د شمشــاد مــور شینخالی ته تردی چې د هېوادله نورو ښــارونود مبــارکې تلګرامونــه او تیلیفونونه کېدل.

څواونی وروسته قاضی میوندد خپلې مېرمنې شینخالی سره د خپل زوی شمشاداو د شینخالی د مور د لیدلو دپاره ځکه چې انجنیر شمشــاد تــه ددولت لخوا یو کور ورکړل شوی وه د کور د مبارکې دپاره او دده د بریاد مبارکې دپاره ورغلل.

قاضی میونداو شینخالی د خپل زوی شمشاد دبریااو د کور دمبارکې پــه ویاړیوه ښه دریشی د سوغات په ډول شمشاد ته جوړه کړی وه اوخپــل زوی شمشاد ته یې ورکړه .

د دوو ورځو په تیرولو سره خبر راغی چې د شاه پرو مور چې د شینخالی انا کېږی د هغې سختی نا روغی خبر راورسیده شاه پرو، میوند،شنخالی او شمشاد ټول په یوه ځای او ګډه سره

د شاه پرو دمور پو ښتنی ته روان شول.

کله چې دوی د شاه پرو د مور کورته ورسیدل د شاه پرو د مور پــه کــور کې د ښځو او نارینه و داسې ګڼه ګوڼه وه چې د تیریــدو او را تیریــدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره د پښی ایښودلوځای نه وه ،شاه پرو، شینخالی ،میونداو شمشاد ټول و پو هیدل چې څه خبره ده .
شاه پرو او شینخالی چې د ښځو کوټې ته ننو تلی د شاه پرو پر مور کفن غوړیدلی وه
د شاه پرو او شینخالی له خولی نا څا په چیغیا بغاری ووتلی.
په دی وخت کې د کلی د ملا صیب غږ شو او وه یې ویل هله ژر شی چې مازدیګر نژدی دی
جنازه د مازدیګر له لما نځه نه مخکې باید خاورو ته و سپارله شی هغه و چې څو شیبې لا نه وی تیری شـوی چـې د شـاه پـرو دمـور جنـازه وا خیستله شوه ان تر هدیری پوری د نارینه و سـره یـو ځایشـاه پـرو او شینخالی د خپلې مور جنازه بد رګه کړه .
کله چې جنازه خاورو ته و سپارله شوه کلیوال لـه هـد یـری را غلـل د مازدیګر د لما نځه اذانونه وشول ټولو خلکو او کلیوالو د مـازدیګر د لمـا نځه د ادا کولو نه وروسته خپلو کورونو ته ستا نه شول.
شاه پرو او شینخالی د خپلې مور او انا د غـم پـه ټغر(کمبلـه) لا نـه وی کېنستلی چې په کلی کې چو ک چوکه شوه چې هله د کلی ښوو نځـی ته یې اور اچولی د کلی سپین ږیری او ځوانان په منډه ، منډه د کلـی د ښوو نځی خواته لاړل کله چې کلیو ال ښوو نځی ته ورسیدل ګوری چې ښوونځی په تورو لو ګیو پټ دی د ښوونځی خد متګار هم په وینـو کـې تک سور پروت دی ښوونځی ته نژدی د ټو پکو ډز هار دی ، ملی پولیس سا حی ته ننوتی وو د ملی پو لیسو یو څو سربازان د ښـوونځی داور پـه وژلو بو خت وو او ځینی یې له مخا لفینو سره په توده جګړه لګیا وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پو لیسو امبو لانس راغی او د ښوونځی خد متګار چې ټپی وهغـه یـې روغتون ته ولیږ داوه**

**د ما ښام تیاره لا نه وه خپره شوی چې د ښوونځی اور هـم د پولیسـو او کلیوالو په مر سته مړ شو او جنګ هم ارام شـود مخـالیفینو څخـه دوه کسه وژل شوی وو او دری کسه یې ژوندی دپولیسو لاسـته ور غلـل او نور مخا لفین په تیښته بر یالی شوی و.**

**دری کسه مخا لیفین چې ژوندی نیـول شـوی وه پولیسـو د تحقیـق او پلټنی د پاره له ځانه سره وړی وو.**

**د ښوونځی خد متګار په روغتون کې کله چې دده له ورانـه څخـه یـې کارتوس و کېښ او وینه یې ودریده وروسته له څو سا عتونو پـه هـوښ راغی تر دی وخته پوری د پو لیسو د پلټنی کار کوونکې ورته ناسـت وه کله چې ټپی شوی د ښوونځی خدمتګار په هوښ راغی پـو ښـتنی او در ویزنی ورنه پیل شوی .**

**د ښوونځی خدمتګار د پوښتنو په ځواب کې داسې وویل ؟**

**د ا ټو پکیان پوره لس کسه د ښوونځی انګړ ته را ننوتل په اول کې یې زه د ټو پکو په قنداغونو ووهلم خو کله چې ما قر انکریم ورته را واخیسـت قران می ورته ونیو دوی هغه ټوټه ټوټه کړ**

**بل قران شریف ورته راواخیست هغه یې هم ټوټه کړاو پر ما یې د ټوپک ډز وکړ اول یې د ښوونځی کتا بتون ته اور واچاوه او نور نو زه هم په ځان نه یم پوه شوی او بې هوشه شوی وم او دادی چې اوس په هوښ راغلم او تاسوته می خپل د ستر ګو لیدلی حال ووایه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په دی وخت کې د پولیسو د جنابې امر ورتــه وویـل هغــه کســان چــې ښوونځی ته یې اور واچاوه او قرانکریم یې خیری،څیری کړهغــه کســان چې اوس ووینی پیژنی یې او که نه ؟**
**د ښوونځي خدمتګار وویل هو ولی یې نه پیژنم د هغو ځناورانو هغــه بــد مخونه می تر اوسه په ستر ګو کې ګرځی او را ګرځی ، د پولیسو جنــابې امر دښوونځی خدمتګار په خپل موټر کې خپل دفتر ته یوور چې په دی وخت کې شپه هم ډېره تیره شوی وه او چرګانو د سهار باکونه و ووهل.**
**د پولیسو جنابې امر چې دفتر ته ننوت د ښوونځی خدمتګار په چــوکې کېنوست د جنابې امر خپل عسکر ته وویل ورشی هغه جګړه ماران چې مو نیولی دری سره راولی .**
**څو دقیقی لا نه وی تیری شوی چې دری کسه د جنابې د امر پــه دفتــر ننوتل لاسونه یې ولچک او عسکر یې شاته وو عسکر ددروازی څخه غږ وکړ د جنابې امر صیب دادی رامی وستل.**
**کله چې دوی په دروازه ننوتل د ښوونځی د خــد متګــار ســترګی پــری ومښتلی نو بله دی چې د جنابې امــر ورڅخــه و پــو ښــتی د ښــوونځی خدمتګار وویل .**
**امر صیب هودغه ځناوران وه چې قرانکریم یې ټوټی، ټوټی کــړ همــدغو دریو واړو د قرانکریم پاڼی وشکولی او باد.. باد یــې کــړی هــو همدغــه لېونیان وه.**
**څوکسه نور هم ورسره ووزه یې ښه پیژنم ددغــو لیونــو پــر مــاهم ډزی وکړی، د ښوونځی خدمتګار کو ښښ وکړ چې ولاړ شی او دوی ووهی خو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښنو یې یاری ورسره ونکړه بېرته کېنوست، د جنا یې امـر ورتـه وویـل وروره بې غمه اوسه دا چې دوی قرانکریم ته په سپکه
ستر ګه کتلی او ته یې ټپی کړی یې او ښونځی ته یې اور اچـولی ددوی سزا ډېره سخته ده هغه ددوی نور ملګری هم یا په سزا رسیدلی او یا به هم ورسیږی.
د جنایې امر په څو ساعتو کې ددوی د تحقیق او پلټنی جریان بشــپړ او دوی یې له دوسیو سره لاس تړلی د هېواد مرکز ته ولیږدول.

ه ه ه ه

ه ه ه ه

اوس نو شاه پرو ، شینخالی، میونداو شمشاد همدا نن څلورمــه شــپه ده چې د شاه پرو د پلار په کورکې د شاه پرو د پلار سره د غــم پــه کمبلـه ناست دی په همدغه شپه قاضی میوند او انجنیر شمشاد دواړو وویل چې سبا به له خیره سره ټول ځو ځکه چې رخصتی مو په خلا صیدوده او موږ څلور واړه دولتی دندی لرو نه چې زموږ په دنده کې کوم وروســته پــاتی والی راشی دوی دا کېسی سره کولی چې سبا ځو او د شاه پرو پلار ورته وایې چې یوه شپه لا بله هم له موږ سره تیره کړی په دی خبرو اترو سره پوخت وه چې شپه تر نیمایې تیره شوی وه دوی نو نور د خــوب د پــاره تیاری نیوله چې ببده شی چې په دی وخت کې د کــلا در وازه پــه ډېــر خرپ و ټکېدله ، شمشاد او میوند یوه او بل ته سره وکتل او وه یې ویـل خدایه خیر پیښ کړی دوی دواړه له جګړه مارانو څخه په ویــره کــې وو چې د شاه پرو پلار ددوی په زړونو پوهه شو نو د شاه پرو پلار وویــل وار خطا کېږی مه هیڅ خبره نده اوس اوس ددې سیمې امنیتی وضع ښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټو پکېان او جګړه ماران نشته دا خبره يې يوازې ددوی د ډا ډينی د پاره وکوله ولی وضعيت هيڅ ښه نه وه ځکه يوه ورځ دوه مخکې يې ښوونځی هم سوځلې وه .

په دی وخت کې شينخالی وويل ولی قوماندان حضرت خان ؟

د شاه پرو پلار وويل هغه اوس قوماندان نه دی هغه اوس قا چاقبری کوي چرس، ترياک، او هيروپين يوی او بلی خواتــه وړی او راوړی ، هغــه اوس هغه د پخوا څخه سل واره پيسه داره شوی دی ، چې په دی وخــت کــې بيا در وازه څو واری کلکه ، کلکه و ټکېدله د شاه پرو پلار ورغی او د کلا له منځه يې وربانديې غږ کړخوک ياستی دا خپل غم ته مو هم نه پيــږدی چې خپل غم سوړ کړو ،ددروازی د باندې لخوا غږ وربانديې وشو، خپل يو خپل.

د خدای د پاره دروازه راته خلاصه کړی چې تباه شولو تباه .

دشاه پرو پلار دروازه خلاصه کړه او د راغلو کسانود هر يوه مخ تــه يــې ځراغ ونيوو پوهيده چې د قوماندان حضــرت خــان کســان دی ،خــو د قوماندان حضرت خان کسانو ورته وويل هله کورته ننوزه چــې حضــرت خان په ګو ليو سوری، سوری شوی ، د شاه پرو پلار ددوی ونځ ته وکتــل ګوری چې حضرت خان په وينو کې لژنده او تک سور پروت دی ، د شــاه پرو پلار وويل زه څه کولای شم ؟

د حضرت خان ټو پکېانو ورته وويل ته هيڅ نشی کولای موږ خبر يو چې شينخالی دلته ده که هغه څه وکوي .، د شاه پــرو پــلار دوی تــه اجــازه ورکړه چې کلا ته ننوزی د کلا په منځ کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټپی حضرت خان کېښوده ، د شاه پرو پلار پر خپلې لمسی شینخالی غږ وکړ او ورته یې وویل شینخالی زویه قوماندان حضرت خان سخت ټپــی شوی دی څه کو مک ورسره کولای شی.
شینخالی هم ډېر ژر جامی بدلی کړی د داکتری چې کوم سامان یې لــه ځانه سره راوړی وه هغه یې راواخیستل په حضرت خــان و ګــر ځیــده ، ټپونه یې وکتل که څه هم د شینخالی مسلک د ولادی او نسایې ځانګــه وه او دا ناروغ جراحی داکتر ته اړ تیا درلودهخو شینخالی ولیــدل چــې ګولی (کارتوس) د حضرت خان په بدن کې بند پاتی دی ډېر ژر یې د کار توسو ګولی د حضرت خان له لاسه او ورنو څخه و کښلی ټپونه یې ورتــه وګنډل او د وینو د ضا یع کېدو مخنیوی یې وکړ ، یو څه دوا یې وربانډې وکړه نور یې ناروغ د کلا په منځ کې پر چپرکــټ پریښــود او د حضــرت خان ټو پکېانو ته یې وویل پام چې ونه ښوری ځکه چې ټپونه یــې تــازه دی که کوم مشکل وه وماته ووایاستی .
د حضرت خان ټو پکېانو چې شنخالی ولیدله ددې غیرت ، همــت اوددې زړه سواندی زړه ته وکتل ګوته یې په غاښ نیولی وی او د شینخالی شنه خال ته چې به یې وکتل له ډېره شرمه به یې کښېنته کتل ځکه همدغه ټو پکېان وو چې د شینخالی پلار انجنیر کېصر خان او ددې کو چنــی ورور شمشاد یې شهیدان کړی وه .
کله چې شینخالی کوټی ته ننوتله شاه پرو د شینخالی مور خپلــې لــور شینخالی ته وویل همد غه قوماندان حضــرت خــان او دده همدغــه ټــو پکېان وه چې ستا پلار او ستا ورور یې شهیدان کړل همدغه دی وخــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو د خپل پلار او ورور غچ به دی ورنه اخیست بېله هغه ددولت پــه تــور تورن دی.

شینخالی وویل ، موږ دا د خدای بنده دی ، یو انسان دی او بیا یو بشــر دی زما دنده یوه پاکه او سپیڅلی دنده ده زه بایــد د یــوه انســان ژونــد وژغورم نه چې ژوند ورځېنی واخلم داچې دولت، حکومت، او خلکو تــه تورن دی دا د دولت دنده ده چې محکمی ته یې کش کړی .

په دی وخت کې د سهار اذانونه وشول ټول اودسوته لاړل شینخالی هــم اودس تازه کړ څلور رکعته لمونځ یې ادا کړ بیانو د ناروغ خواته راغلــه د ټپی حضرت خان سر او پښو ته دده ټوپکېان ناست وه شینخالی د ناروغ فشار وکوت ټپو نه یې ورته وکتل نو یې ناستو کسانو ته ډاډ ورکــړ چــې ناروغ مو ښه دی او ښه کېږی .

د حضرت خان ټو پکېانو خپل سرونه لوڅ کړل او شینخالی تــه لاس پــه دوعا شول.

شینخالی ورته وویل فرق نلری دا زمادنده ده چې د ناروغانو پا لنه وکړم که هغه هر څوک وی

په دی وخت کې شینخالی له نا ستو سړو له یوه څخه و پــو ښــتل چــې قوماندان حضرت خان څنګه او چېری ټپی شو؟

د حضرت خان له ټو پکېانو څخه یوه داسې وویل ، موږ په څو موټرو کې ، چرس، تریاک ،هیر و یین، قاچاق بار کړی وو چې ټــول تقریبــا پــنځلس ټونه کېدل د ښار نه لیری په یوه غرنی سیمه کې روان وو چې دولت تــه راپور رسیدلی و او زموږ لاره یې نیولی وه ما ښام نا وخته مــوږ وربانــدې ورغلو هغه وه چې ددولتی قواو په منځکې و لویدلو ډزی پیل شوی زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو کسان يې ژوندی ونيول ، څو کسان مو مړه شول ،چرس، تریـاک، او هيرو يين ټول ددولت لاسته ورغله موټری او قاچاق يې ټولــه لــه ځانــه سره يووړل او قوماندان حضرت خان چې دا مالونه هم ټول دده وه او موږ ورسره ګرځو ، دادی وينی يې چې حضرت خان ټپی شو تر څو مو تا تــه راورساوه تا او ستا زوی شمشادته دی خدای خيردرکړی چې زموږ ســره مو کومک وکړ، په دی وخت کې قوامندان حضرت خان ســترګی رونــی کړی شينخالی ته يې وکتل وی ليدل او پو هه شو چې د شاه پرو د پــلار په کلا کښی په چپرکټ پروت دی خپلو لاسونو او پښوته يې وکتل چــې پلستر دی او په کټ پوری يې کلک تړلی دی و پو هيده چې شينخالی له مرګه ژغورلی دی ښکه چې څو کاله پخوا يې دده مير من هم شينخالی له مر ګه ژغورلی وه په دی وخت کې شينخالی دده له ټوپکيانو سره پــه خبرو اخته وه او شينخالی د حضرت خــان ټوپکيــانو تــه وايــې دا زمــا اسلامی ، دينی ، او افغانی دنده ده تر څو چې زمــا تــوان ورســيږی زه د ناروغانو سره مرسته او کومک وکوم که د دونيا له هر ګوټ څخه وی او يا د نړی په هر ګوټ کې وی ځکه چې زه يوه ډاکتره يم او زه دا خپله دنده بولم چې د ناروغانو مرستی ته ور و دانګم او هر ناروغ ته د خپل تــوان ، قدرت او پوهی په اندازه ور سره مرسته وکړم که هر څوک وی ولــو کــه زما دوښمن هم وی او که زما ډير خوږ دوست هــم وی ، دا زه اوس ښــه پوهيږم چې حضرت خان د دولت ، قانون ، اسلامی شــريعت او دســيمې خلکوته يو تورن سړی دی مګر نه زه خپله دنده لــرم چــې بايــد دده د ناروغی پالنه وکړم دا چې ددولت او قانون منګلو ته ورشی هغه بيا ددوی کار دی چې د قانون سره سم چلند ور سره کړی او که ښنګــه زه خپلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ډاکتره یم او خپله انسانی دنده سرته رسوم ځکه ټول مخلو قــات د خدای بنده ګان او زه خدای د خپل بنده ګانو د پاره لویه کــړی یــم او د خپلو بنده ګانو د پالنی د پاره یې دا د داکتری علم را زده کړی او ښوولی دی .

قوماندان حضرت خان په داسې حال کې چې د شینخالی هیڅ ورته پــام نه وه د شینخالی دا ټولی خبرې یې یوه، یوه اروېدلی او په سوچونو کــې ډوب تللی وو او د ځان سره یې ویل دی کم عمره انجلی ته ګوره ځنګــه خبرې کوي ټولی خبرې لکه چې د خدای تعلا کلام له قرانکــریم څخــه کوي او په زړه کې له ځانه سره وایې پوهه ، زده کړه څومره ښه متا ع ده څومره ښه ده ، موږ خو چې له موره پیدا شوی یو یــوازې ټوپــک ،غــلا ، سړی وژنه ، قاچاق، مکتبونه

سو ځول ،روغتونونه سوځول ، سړک خرابول او نور ټول بــد بــد کارونــه داسې راته ښکاری لکه چې جنت د همدغو په ورانولو کې وی .

کاشکې موږ هم مکتب ویلای وای ، کاشکې مدرسه مو ویلی وای او یا مو هم په خپلو اولادونو زده کړی کړی وای ، ګوره دا انجلــی دا ښــځه ده دا یوه مور ده دا په هر څه پو هیږی دخدای په لاره په حقه او نــا حقــه لاره په ښه او بد پو هیږی موږ چې نارینه یو ، موږ چې پلرونه یــو مــوږ چــې مشران یو دخدای لاره مو پری ایښی ده حلال مــو پــری ایښــی دی پــه حرامو پسی سرګردانه یو ، د پیسو د پیداکولو خو نوری حلالی لاری هــم ډیری دی موږ خو هغه پری ایښی او په حرامو باندې مو سرونه ســپین او اولادونه مو هم په حرامو لوی او روږدی کــړل خــدای خبــر چــې زمــوږ اولادونه به حلالی وی او که به حرامیان وی حتمی که د ملایانو خبروتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځير شو هر څوک چې په حرامو لوی شــي حرامــي دی ، او بيــا دی تــه وګوره چې مورِ هغه د پخوا پښتنو خبرې چې ويلی يــې دی ( دبــدو پــر ځای ښه کول د هوښيارانو کاردی) مورِ خو هغه هم نه دی کړی هر وخت مو د ښو په مقا بل کې بد کړی .

دی شينخالی ته ګوره دا يوه ښځه ده دا يوه ميرمن ده او دا هم مورِ وايو چې د ښځې عقل

نا قص دی که د ښځو عقل نا قص وای نو همدا اوس ، اوس زمــا ژونــد د شينخالی په لاس کې دی هغه هر څه کولای شی چې همدا اوس د خپــل پلار او ورور غچ له مانه واخلی ؟

مګر نه دا هو ښياره ده ، دا زړه سوانده ده دی ته دی خدای (ج) رســول (ص) او قران لار او ليکه معلوم دی او هم د پښتنو دا متل چې د بدو پــر ځای ښه کول د هو ښيارانو کار دی .

دا ټولی خبرې د قوماندان حضرت خان په مغزو کې سره دی خــوا او هــا خواته تا ويدلی او راتاويدلی چې په دی وخت کې قوماندان حضرت خان پر شينخالی غږ وکړ .

شينخالی لوری؟

شينخالی قوماندان حضرت خان ته وکتل او ورته يې وويل.

قوماندان صيب حضرت خانه هيله لرم چې ماته لور ونه وايې او زه ببلــه کومی طمی او هيلی ستا د ناروغی علاج کوم.

په دی وخت کې قوماندان حضرت خان شر منده غوندی شو او شينخالی ته يې پورته نشوای کتلای نو په ټيټو ستر ګــويې لــه شــينخالی څخــه و پوښتل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شینخالی ولی داسې راته وایې ته زما دلور په ځای یې او بل دا چې زما لور له ما سره وا لا که دومره ښه کړی وی او یا یې وکړی لکه تا چې راسره وکړه ؟

شینخالی وویل زه دداسې سړی وژونکو ، بې رحمه ، قاچاقبرانو لور نه یم دا زه چې له تا سره کښته پورته کېږم او درملنه دربانـدې کـوم دا زما انسانی دنده ده او ته هم یو انسان یې او بیا د خدای (ج) بنده یی د هغه ذات بنده ییچې زه هم د هغه ذات بنده یماو دا بار هغه لوی څښتن تعـلا زما په اوږو ایښی دی چې زه او ته او ټوله نړی هغه پیداکړی.

کله چې شینخالی قوماندان حضرت خان ته دا خبرې کولی او قوماندان حضرت خان هم له ډېره شرمه ستر ګی پټی نیولی وی د شینخالی مـور شاه پرو هم ولاړه وه .

شاه پرو چې قوماندان حضرت خان ته وکتل نو یې په زړه کې وویل چې؟

خال به یې د پلار او ورور له وینو ورته کېږدم

چې ټول هېواد کې ټوپکېان و شرموینه

په دی وخت کې قوماندان حضرت خان په پټو سترګو شینخالی تـه پـه ډېره نیولی ساه او نفس

په ورو یې شینخالی ته وویل .

شینخالی بس کړه همدا یوی خبرې دی نور زه ډېر و شرمولم زه ډېر مـلا مت یم زه په دا خپلو کارونو او بیا چې می ستا پلار او ورور شهیدان کړی ډېر پیښمانه یم .

زه د خدای(ج)، رسول او خلکوته ډېر شرمنده یم نور می تو بـه ده کـه خدای(ج)را سره مرسته وکړی او له دی واری جوړ شم بیا به یـې درتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښیم چې زه څه کوم ا نشا ا لله بیابه په خپل اولاد حــرام ونــه خــورم او ورانی، قتل ، وژنه او قاچاق به نه کوم ، ستا دا خبرې چې راته ودی کــړی او راته دی وویل چې زه ستا او ستا په شان داړه مارانو لور نه یــم او لــور راته مه وایه باور وکړه چې دی خبرې پر ما دومره اثر وکړ لکه ډک ټوپک چې دی زما پر زړه تش کړی وی او داهم درته وایم چې زما دا پر هارونــه چې د ټوپکو په کارتوسو شوی دی دا به جوړ شی مګر دا ســتا دا دیــوی خبرې پر هار تر څو چې ژوندی یم روغ به نشی .

په دی وخت کې د شینخالی مېره قاضی میوند خپلې خواښی شاه پرو ته غږ کړ مورې نا وخته ده ورځ تیریږی ځی چې ځو خو د شاه پرو پر ځــای شینخالی ورته وویل نن نه ځو سبا به لاړ شو نن ورځ هــم ددې نــاروغ د پاره پاته کېږو تر ما ښام پوری به ورته وګورو که څه هم وضع یې ښه ده خو بیا هم احتیاط په کار دی .

قوماندان حضرت خان په کټ کې پروت دی د شینخالی دا خبــرې چــې یې واوریدلی چې همدا نن ددې ناروغ د پاره باید پا ته شو په زړه کې یې نوری خبرې پیدا شوی او سو چونه وهی او په زړه کې وایې ؟

اخ؟ زه نه پو هیدلم کا شکې می په خپلو لورانو او زامنومی مکتب ویلای وای مورې خو یې غلط کړی وو او راته ویل به یې چې څوک مکتب ووایــې هغه کافر کېږی ته وګوره چې شینخالی مکتــب ویلــی دی څــومره زړه سوانده او مهر بانه ده ددې څخه پاکه او سپیڅلی مسلما نی خو ما ولاکه په ډېرو، ډېرو خلکو کې لیدلی وی .

په دی وخت کې د قوماندان حضرت خان یو ټوپکې راغی او د شینخالی تر مخ ودریده او ورته یې وویل ډاکټر صیب دادی دوا می راوړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شینخالی ددوا پا کټ خلاص کړ دوا یې کښته پورته کړه او وه یــې ویــل هوکې همدا دوا ده
پیچکاری ګانی یې ورته ولګولی او د نورو ګولیو او شربتو د خــوراک ډول او طریقه یې وروښودله.
شپه تیره شوه سهار وختی شینخالی راغله او په ټپی حضرت خان و ګــر ځیدله د وینی فشار یې وکوت او د قوماندان حضرت خان لــه ټــو پکــې څخه یې و پو ښتل څنګه د شپی خو ناروغ په تکلیف نه وه ؟هغــه ورتــه وویل نه ډاکټر صیب د شپی ډېر ارام وه کــه پــه تکلیــف وای حتمــی او ضروری به مو زحمت درکړی وای او تا ته به مو ویلی وای خدای پاک دی تاته په دی دونیا او هغه دونیا اجرونه او ثوابونه در کړی .
نوره شینخالی ورځښنی رهی شوله د اوداسه او لما نځه نه وروســته یښــد خپل نیکه څخه ټولو رخصت وا خیست غو ښتل یې چــې لــه کــلا ووزی قوماندان حضرت خان ورته غږ کړ ؟
شینخالی ځی دا یو څه پیسی در سره واخله ستا او ســتا د مــور قاضــی صیب میوند او ستا د زوی انجنیر شمشاد د موټر کرایه ده څومره نه دی خو ته یې په ډېر څه ومنه .
شینخالی ورته نژدی شوه د جوړ تیا ډاډ یې ورکړ چې ا نشا ا لله جوړ ېږی پر هیز کوه وروسته له لسو پنځلسو ورځو په خپلو پښو کــو ښــښ کــوه چې ډېر و ګر ځی د لاسو او پښو ګوتو ته دی حرکت ورکوه او پیسی دی زه نه غواړم په دغو پیسو ځان ته دوا واخلــه او بــل دا چــې دا حرامــی پیسی دی او زه حرامی پیسی نه اخلم او کــه یــې تــه دا پیســی زمــا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت په پاداش کې راکوي نو دا درملنه زما یوه انسانی او مسـلما نـی دنده ده کوم احسان او منت نه دربانديږ باروم.

شینخالی، شاه پرو ،قاضی میوند،او انجنیر شمشاد یو ځای لـه کـوره را ووتل شپه یې د خپل زوی انجنیر شمشاد په کور کې تیـره کـړه او پـه دابله ورځ شینخالی د خپل مېړه قاضی میوند سره یو ځای د خپلې مـور شاه پرو او خپل زوی شمشاد سره مخه ښه وکړه او دخپل کـور او ښـار پخوا رارهی شول.

په دی ورځ چې قاضی میوند او شینخالی هر یو خپلـو دنـدو تـه لاړل د خپلو همکارانو له خوا ورته توده ستړی مشی وشوه .

خو کله چې قاضی میوند د خپلو همکارانو سره روغ او جوړ وکړ وروسته د میوند همکارانو ورته وویل ؟

قاضی صیب میوند خانه تا ته د نوی او لوړی دندی د سپارلو مبا رکې وایو قاضی میوند لیږ وارخطا غوندی شوخو یوه همکـار یـې یـو مکتـوب را واخیست او مکتوب یې داسې ورته ولوست، ددولت د لوړ مقـام لخـوا د محترم قاضی صیب میوند نوی مقرری چې د قضا د لوړ مقام په وړا نـدیز او د دولت د لوړ مقام لخوا تا یېد او منظوری چې قاضی میوند یو صـادق دینداره او په وطن مین او دده د ښو کارونوپه نتیجه کې ده تـه دا مقـام منظور دی.

قاضی میوند هم مکتوب را وا خیست او په نوی دنده یې پیـل وکـړ ځـو اونی لا نه وی تیری شوی چې قاشی میوند ته یوه دوسـیه راغلـه چـې قاضی میوند ددوسی پاڼی راواړولی و پو هیده چـې دا دوسـیه همغـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریو کسانو دوسیه ده چې د مکتب خد متګار یې په ګولیو و یشـــتلی وه او څو ټوکه قران کریمونه یې څیرلی او په سپکه ستر ګه یې ورته کتلی .
قاضی میوند څو اونی دا دوسیه ښه تر غور او څیړنی لاندی نیولی وه تــر څو یې یوه فیصله و لیکله او د قضا لوړ مقام ته یې پیشنهادکړه.
د قضا لوړ مقام چې دوسیه وکتله او د قاضی میوند فیصله یې ولیدلــه د قضا لوړ مقام هم د قاضی میوند پر یکړه تا ییډ کړه او بېرته یـــې دوســـیه قاضی میوند ته راغله .
قاضی میوند هم تورن کسان او نور خبر نګاران او نـــور مینـــه وال د پــر یکړی د اعلان په خاطر د محکمی تا لار ته را و غو ښتل پـــه هغـــه ورځ د محکمی په تا لار کې د خبر نګارانو او
د ښا ریانو څخه ځای نه پیدا کېده چې تا لار ته ننـــوزی تـــا لار د خلکـــو څخه ډک وه ان تر دی چې خلک ددې تورنو کسانو د محکو مولو د پـــاره د محکمی د تا لار نه د باندې و لاړ وو او د محکمی د تا لار په څلورو کـــو نجونو کې او د محکمی د باندې لاد و سپیکرونه درول شوی وو.
قاضی میوند د محکمی د تا لار د میز شاته لاړ په داسې حال کې چـــې د قضا جامی یې په ځان کې وی ودریده او د محکمی پریکـــړه یـــې داســـې واوروله .
دوستانو ، وطنوالو، اود اسلام په دین مینو مسلمانو ورونو، دادری کسان چې د ښوونځی خد متګار یې ټپی کړی ، ښوونځی ته یـــې اور اچـــولی او قرانکریم ته یې په سپکه سترګه کتلی ، او د ښوونځی خد متګار دوی ته ابرا ورکړی او ددوی ګناه یې بخښلی او دولت هم د ښوونځی د سوځیدلو له ګناه تیر شوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دوی ته یوازې په دې خاطر چې قرانکریم ته یې په سپکه سترګه کتلی او د قرانکریم څو ټوکه یې څیریلی او ټو ټه کړی دوی هر یو .

١. غلام ربانی د غلام نبې زوی په شل کاله قید.
٢. سیف الله دحاجی نو را لله زوی په شل کاله قید.
٣. عطا محمد د عبد الر شید زوی په اتلس کاله قیدمحکوم شول.

د محکمې ددې پر یکړې په اعلانولو سره په تا لار کې نا ستو کسا نو او د محکمې د باندې ولاړو خلکو په یوه اواز سره وویل تل دوی اسلام ژوندی د وی قاضی میوند.

محا کمه شوی دری کسان پو لیسو زندان ته ولیږدول نور نو په تالار کې داسې زوږ جوړ شو او د محکمې د باندې خلکو هڅه کوله چې د محکمې تا لار ته ننوزی او د قاضی میوند
غاړی ته د ګلونو هارونه ور واچوی.

د محکمې په تلار کې په قاضی میوند باندې د ګلانو د ګیډیو او ژوندی دی وی قاضی میوند دا ناری سوری وهلی کېدلې.

د شپې د رادیو او تلو یزیون لخوا د محکمې پی یکړه د هغو دریو کسانو په باره کې چې قرانکریم ته یې په سپکه ستر ګه کتلی اعلان شوی .

ټول هېوادوال خوښ او خوشحاله شول شپه تیره شوه په سهار یې ډېر عا لمان ، سپین ږیری او ښاریان د قاضی میوند دفتر ته ورغللاو دده دا پر یکړه یې ډېره ښه دین ته خدمت او قرانکریم ته په در نښت کتل یې و بلله او قاضی میوند څخه په مننې سره یې سو غاتونه او تحفې یې هم د ګلانو د ګیډیو په ورکولوسره یې وستا یه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالمان، ملا یان او د ښار سپین ږیری ددولت لـوړ مقـام تـه لاړل او ددولت له لوړ مقام څخه ییقاضی میوند ته د ښه قضـاوت او صـادق خد متګار په ویاړ یې دهغه ستا ینه و غوښتله .
ددولت لوړ مقام ، ملایانو ،عالمانو او د ښار سـپین ږیـرو تـه وعـده ورکړه چې قاضی میوند به ددولت لخوا و ستا یل شی.
په څو ورځو کې ددولت دلوړ مقام لخوا وزیرانـو تـه فرمـان ولیـږل شوچې وزارتونه د یو یو تن چې ښه خدمت یې کړی وی ددولت لـوړ مقام ته دی ور په ګوته شی او د یوی اونی په اوږدو کې د دولت مقام ته راوستل شی .

ه ه ه ه

ه ه ه ه

همدا نن هغـه ورځ وه چـې زمـوږ هېـواد ا سـتقلا ل ګټلـی وواو د استقلال د ورځې په ویاړ د هېواد نامتو او د ښو خـدمتونو پـه ویـاړ مډالونه ویشل کېدل دلته د هېواد ریس جمهور او نور د وطن دلاری دازادی نا متو غازیان هم را غونډ شوی وو .
او هغه کسان چې د وزارتونو لخوا د مډالونو د اخیستلو د پاره را غـو ښتل شوی وه
راغلی وه هغه وخت شینخالی او قاضی میوند هم راغلـی وو ګـوری چې انجنیر شمشاداو شاه پرو هم دغه وخت له مو ټر څخه راکښـته شول او ددې محفل په لوری روان دی چې شـینخالی یـو وار خپـل مېره قاضی میوند ته وویل هغه دی زما مـور شـاه پـرو او زمـا زوی شمشاد هم را غلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت ر یس په ډېرو ښو مراسمو یعنی عسکری مرا سـمو د تقـد یمولو نه وروسته چېر ته چې د مډالونو د ویشلو د پاره جوړ شـوی و راغی .

ددولت ریس وروسته له یوی لنډی وینا څخه وویل هغه څوک چـې په دی نن ورځ چې زموږ د هېواد د استقلال او ازادی ورځ ده تاسـو ټولو ته ددې ورځې او مخکې له دی چې مډالونه درته وویشـم ددې مډالونو د اخیستلو په منا سبت خپله د زړه له کومی مبارکې درتـه وایم ، خدای(ج) د وکوي چې  تاسو نور هم په خپلو کارونو کې بـری ومومی او زموږ نور هېواد وال هم داسې خدمت وکوي لکـه دا تاسـو چې کړی او وه یې ویل د مډالونو په ویش پیل کوو.

د مډالونو د ویش په لړی کې ؟

شینخالی د کېصر خان لور ته د ښه خدمت په ویاړ د ملالی مډال.

قاضی میوند ته د هېواد دښه قاضی او په دین مین قاضی.

شاه پروته د هېواد د ښی شوونکې مډال او انجنیر شمشاد د قاضـی میوند زوی ته دهېواد دابادی په خاطر د سـید جمـا الـدین مـډال ورکول شول.

دا مډالونه خپله ددولت ریس جمهور په لاس ددوی پـه اوږو ور وتـو مبل شول .

نور نو دوی څلورو واړو د یوه اوبل په غـاړو کـې د ګلونـو قطارونـه واچول او د غرمی ډوډی ټولو د هېواد ریس جمهور ، د کا بېنی د غړو او دهېواد د نا متو غازیانو سره وخوړله او بیا څلور سره ، شـاه پـرو، شینخالی، میوند او شمشاد ټول یو ځای د شمشـاد د پـلار قاضـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

میوند کورته لاړل هغه شپه هم ددوی په کورکې ادی چا خبره خړی خوښی وی .

شپه ډېره تیره شوی وه د سهار د لما نځه داذان وخترا نژدی شوی و چې شینخالی نا روغه شوه شاه پرو او شمشاد د شـینخالی سـره ز یژنتون ته لاړل دسهار اوه بجی لا نه وی شوی چې د شینخالی لـور پیدا شوه لوږ مازدیگر وه چې څلور واړه یعنی شینخالی ،شاه پـرو ، شمشاد، او د شمشاد کوچنی خور چې همدا نن پیداشوی وه کورتـه را غلل،شاه پرو وشینخالی ته وویل لوری ماته دی هیڅ نه وه ویلـی چې ستا د کوچنی موده دومره نژدی ده دا زما راتگ خو دلتـه یـو ه بې خبرې وه دا که دولت نه وای راغو ښتی زه دی نه خبرولم؟

نه مورې هغه خبره نه وه تا ته می زحمـت نـه درکـاوه اوس خـو زه خپله په همدی روغتون کې کار کوم همکا رانو می راته ویلی وه چې مور ته دی زحمت مه ورکوه سپین ساری ده په عذا بېږی نـو ځکـه می ته خبره نکړی دادی ښه شو چې هم ته راغلی او هم زما ناروغی ښه شوه په ټولو کارو یو خدای ښه پو هیږی دادی په سم وخت کـې خدای راورسولی دخدای تر خدایې جار شم څنگه مـور اولاد تـه او اولا د مور ته رسوی ،قاضی میوند وویل مورې درته ملا متـه ده اوس خپله ملا متی نه منی خدای شاهد دی چې څوواری می ورته وویـل چې د کوچنی د پیدا کېدو شپی نژدی دی مور دی خبره کړه خو دی نه منله ؟

وی میونده زویه ته هم ملا مت یې شینخالی چې نه خبرولم خیر دی تا به یوواری د تیلیفون

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنګ وهلی وای ، قاضی میوند و پوهیده چې ملامت خو یــم نــو یــې
وویل مورې تیر په هیر بیا به داسې نه کیږي .
په دریمه ورځ د شینخالی مور د جومات ملا راوست او د شینخالی د
لور په غوږ کې یې اذانوکړ په همد غه ورځ قاضی میوند، شــینخالی ،
شمشاد او شاه پرو ټول په کو چنی انجلی د نوم ایښودلو او په غــوږ
کې یې داذان کولو د پاره په کور کې وو.
ملا صیب وروسته تر دی چې د کو چنی ما شومی په غــوږ کــې یــې
اذان وکړ او د نوم اسښودلو د پاره یې څه ویل ، انجنیر شمشاد وویل
ملا صیب که ،ستا،زما د پلار، زما د مور او زما د انا خو ښه وی زما په
خور زه خپله نوم کیږ دم ټولو ورسره ومنله .
شمشاد وویل زما ددې کوچنی خور نوم ملالی ده ملالی .
ټولو په ډېره خوښی په داسې حال کې چې د ټولو خولی له خنــدا او
خوشحالی ډکې وی په یوه غږ سره یې وویل مبارک، مبارک خنګــه
زموږ د زړه نوم دی ورباندې کیښود.
قاضی میوند، شینخالی ،او شاه پرو په یوه وار خبــرې پیــل کــړی او
هر یوه او هری یوی وویل که مو ماته ویلی وای ما به هم همــدا نــوم
ورباندې ایښی وای.
شینخالی وویل باور وکړی چې دری څلور ورځې مخکې می چې کله
د میوند د ملالی مډال تر لاسه کاوه زما په زړه کې همدا تیــره شــوه
چې که خدای لور راکړه نوم به یې ملالی وی.
هغه وو چې ټول خوښ او خوشحاله سره کښنا ســتل او د جومــات
ملاصیب ته یې یو ښه دستمال چې نغدی پیسی او څه خــواږه هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې وه ورکړل ملا صیب دوی ته دوعا وکړه او دوی ته یې د ښه ژوندهیله له لوی خدای(ج)څخه وکړه .

وروسته له څو شپو او ورځو شاه پرو او شمشادورځېنی رخصت شولو او خپل ښارته لاړل کله چې انجنیر شمشاد او شاه پرو خپل کورته ورسیدل په هغه ورځ نه په دا بله ورځ

چې نژدی ګاونډیان او د دوی همکاران خبر شول چې دوی مډالونه اخیستی دی د همکارانو او ګاونډیانو لخوا نر او ښځې ډلی،ډلی دوی ته د مبارکې د پاره راتله او د ګلو ګیډی یې دوی ته راوړلی .

ددوی عکسونه د سیمې د تلویزیون، ورځپاڼو او نورو رسنیو لخواچاپاو خپاره شول.

دادی وروسته له څو ورځو قوماندان حضرت خان خبر شوی وه او د ښه سوغات سره په مازدیګر ی کې د انجنیر شمشاد دروازه و ټکېدله ګوری چې قوماندان حضرت خان سره د څو کسانو د انجنیر شمشاد په دروازه کې ولاړ دی وروسته له روغبړ څخه انجنیر شمشاد دوی ته بلنه ورکړه او خپل کورته یې ننه ایستل .

کله چې قوماندان حضرت خان په کو ټه کې کېنوست نو یې انجنیر شمشاد ته وویل ، ښه شو چې په خیر راغلا ستی زما عذر قبول کړی ځکه چې همدا پرون خبر شوم چې تاسو ، ستا پلار ،ستا مور او ستا انا د ښو خدمتونو په ویاړ بهادری اخیستی دی که وخته خبر شوی وای باور وکړی چې وختی به درته راغلی وای زه خو ستا سو منت باره یم زه خو تاسو ټولو ته ډېر شرمنده یم رښتیا درته ووایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس می هم یو زړه سل زړونه کړل چې تاسو تــه د مبــارکې د پــاره راغلم چې زموږ مبارکې ومنی ما ویل چې ما خو کوم ښه درسره ندی کړی نه لکه چې د شینخالی هغه خبره چې یې راته وویل چــې ماته لور مه وایه اوس هم بېر یدلم چې خدای مکړه تا سو مــا خپــل کورته در پری نږدی زما او زما د ملګرو مبارکې ونه منی بیا به څنګه کوو ، ستا دی کور ودان غله دی ډېره چې موږ د په خپل کور کې پــر ی ښودولو او زموږ دا نلولی قدمونه دی ومنل او مــوږ هــم دغــه یــو کوچنی سوغات تا سوته د مبارکې په نوم راوړی خدای(ج)د وکــوي چې قبول او منظور یې کړی بیا یې هغه بکس چې ددوی د پاره یــې جامی،او د لما نځه جای نما زونه راوړی ود انجنیر شمشاد تر مخ یې کېښودل او وه یې ویل دا حلال دی حرام می ندی راوړی ،

ا نجنیر شمشاد هم ددوی مبارکې ومنله او ددوی څخــه یــې مننــه وکړه دوی ته یې چای راوړی ، او پخپله راغی خپلې انا شاه پــرو تــه یې وویل چې قوماندان حضرت خان راغلی او څه سوغاتونه یې هــم موږ ته د مډالونود مبارکې د پاره راوړی دی .

شاه پرو وویل زویه هله ژر شه حکومت پری خبر کړه داسې وژونکې داړه مار او قاچاق بردی دولت ته یې په لاس ورکړه ، انجینیر شمشاد وویل انا هغه اوس تو به کړی او وایې د هغې ورځې نه چې زمــا مــور څه ورته ویلی دی هغه هم په خپل قول ولاړ دی اوس هغه کارونه نه کوي او که یې بیا کوي دا زموږ د پښتو رسم ندی چې دوښمن د چــا کورته ورشی هم قدر او هم یې عزت کوي نه دا چې په خپل کور کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقام ور ځيني واخلی خير په هر صورت نور نو د انجنير شمشــادانا وويل زويکه څنګه چې ته پو هيږی هغسی وکړه.

انجنير شمشاد خپلې انا ته سودا راوړه تر څو ما ښام تــه څــه برابــر کړی او په خپله راغی د ميلمنو سره په خبرو اترو بوخت شوماښــام نژدی ووچې قوماندان حضرت خان وويل انجنير صيب نور نو موږتــه رخصت راکړه چې لاړ شو.

انجنير شمشاد وويل څه کوي چېرته ځی په دی ما ښام خو څوک له هديری څخه لا نه ځی دا خو بيا ښار دی او بل دا چــې دا مــو خپــل کوردی موږ د هر څه بندوبست نيولی شپه تيره کړی سهار وختی به رخصت درکړو ، خو قوماندان حضرت خان چې هر څه بــانی وکــړی خو انجنير شمشاد ورته وويل ډېرو ويلو ته حا جت نشته همــدا نــن شپه زما ميلمانه ياستی .

انجنير شمشاد او ميلمنو چې ډوډی وخړله او چای راوړلی شوی تــر هغه وخته پوری هغه بکس چې قومانــدان حضــرت خــان دوی تــه سوغات پکښی راوړی وپه هغه خپل ځای ايښودل شوی وتر اوسه لا هما هغسی ايښی وه.

خو د چای خوړلو په وخت کې قوماندان حضرت خان ليږ اشتبا هــی غوندی شواو انجنير شمشاد ته يې وويل انجنير صــيب هغــه بکــس راواخله چې زه د تاسو سوغاتونه درته وښيمتاسو خو تر اوسه هــيڅ لا خلا ص کړی ندی بېغمه اوسه دهغه پخوانيو بدو کارو څخه می تــو به کښلی ماين ماين پکښی نشته د زړه له اخلاصه می درته سوغات راوړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انجنیر شمشاد لیږ مو سکا غوندی شواو وی ویل نه قوماندان صیبدا خبرې نشتهزه اوس پر تاسو پوره ډاډ لرم.
انجنیر شمشاد بکس را واخیست او قوماندان هغه خلاص کړ او د هر یوه سوغات یې ورته وښوده او بېرته یې په بکس کې ورته کېښودل انجنیر شمشاد ددې د پاره چې ګواکې د تاسو سوغات موږ قبول کړ بکس یې خپلې انا ته وروړ،انجنیر شمشاد او قوماندان حضرت خان یو څه ټوکې ټکالی سره وکولی او وروسته بیا بېده شول.
سهار د اوداسه،لما نځه او چای خوړلو نه وروسته قوماندان حضـرت خان انجنیر شمشاد ته وویل اوس لا سهار ده هوا سړه ده که موږ ته رخصت راکړی خوښ به شو؟
د رخصتیدو په وخت کې قوماندان حضرت خان انجنیر شمشاد تـه بلنه ورکړه چې د جمعی په شپه د خپلې انا سره زموږ کورته میلمانه یاستی راشی خو انجنیر شمشاد ډېر بها نـی او پلمـی وکـولی چـې کارونه ډېردی موږ تر اوسه لا ستړی یو بیا به په قراره سـره ووینـو فرق نلری ستا ملمستیا موږ ته ورسیده دا چې زحمت دی وکېښـاو دلته مبارکې ته راغلی دا هر څه دی ، خـو د خـدای پـه امـانی نـه وروسته کله چې قوماندان حضرت خان یو څو قدمـه واخیسـتل او موټر ته پورته کېده انجنیر شمشاد ته یې مخ راواړاوه او ورتـه یـې وویل ښه تاسو چې زما کورته نه راځی او ملمستیا می نه خوری څـو ورځې وروسته زه راځم او درسره یو پټ کار لرم ، انجنیـر شمشـاد لاس په نامه ورته ونیو او ورته یې وویل هر کله راشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې قوماندان حضرت خان او د هغه د ملګرو موټر حرکت وکړ انجنیر شمشاد خپل پلار او مورته تیلیفون وکړ او د قوماندان حضرت خان تبر یکېیې دوی ته وړاندی کړه او د سوغاتونو په باره کې یې هم ورته وویل چې د تاسو دپاره یې هم سوغاتونه راوړی هر څوک چې د تاسو خواته درتله بیا به یی در ولیږو.
پوره دوه ورځې لا نوی تیری شوی چې قوماندان حضرت خان یوازې او تنها د انجنیر شمشاد کورته راغی او انجنیر شمشاد ته یې وویل ،انجنیر صیب ته خو پوهیږی او خبر یې چې ماخو د ټولو بدو کارو څخه توبه کړی او غواړم چې ارام او ښه ژوند وکوم او په دی هم پوهیږی چې زه قوماندان وم او بیا قاچاقبر وم او یو څه درنده او سپکه وسله را سره شته که دا مرسته راسره وکوي چې یو چاته مې ور وپیژنی او دا سلاح ګانی دولت ته تسلیم کړم .
انجنیر شمشاد ورته وویل راځه کورته ننوزو یو چای وخورو دا خبرې د منډی نه دی او ستا دا تصمیم او پر یکړه ښه تصمیمدی د خیر او نیکېپریکړه ده.
قوماندان حضرت خان وویل،نه انجنیر صیب ددې سلاح له غمه مې خلاص کړه باور دی وشه چې دومره بد می له دی سلاح ګانو راغلی چې حسابونه یې په کتا بو کې لا نه
ځا یږی په خاصه توګه له هغې ورځې را په دی خوا چې د قوماندان جلال د کور په زیر خانه کې ساتل شویو سلاح ګانو او بمونو انفجار وکړ ټوله کورنی یی تباه او بر باد شولهنو ځکه می دا سلاح ګانی تر نظره بدی راغلی باور وکوه د هغې ورځې نه را په دی خوادومره لا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لها نده یم لکه چې لړم می په کالیو کې ننوتی وی ، نو ځکه وایم چې له خدایه به کېږی له تا به کېږی له دی لړم څخه می خلاص کړه.

انجنیر شمشاد ورته وویل په دی دو ورځو کې خبر درکوم.

ه ه ه ه

ه ه ه ه

هغه وه چې انجنیر شمشاد د هغې سیمې له والی او د پـو لیسـو لـه قوماندان سره ولیدل هغـوی ورسـره ومنلـه پـه دوهمـه ورځ یـې قوماندان حضرت خان ته خبر ورکړچې مورږ درځوسلاح ګانی او نـور مهمات راوړو ، دسیمې والی د پولیسو قوماندان او انجنیـر شمشـاد سره له امنیتی کسانو او څو مـوټرو او یـو څـه نغـدو پیسـو سـره قوماندان حضرت خان ته ور غلل قوماندان حضرت خان خپله ټولـه درنده او سپکه وسله د پو لیسوقوماندان ته و سپارله .

د پولیسو قوماندان چې سلاح او مهمات ولیدل ولایت ته یې مخابره وکړه چې نوری ډېری موټری د قومانـدان حضـرت خـان کلـی تـه راولیږی ځکه چې سلاح او مهمات ډېردی په دی دریو موټرو کې نـه ځا یږی هغه وه چې لس موټری نوری ورغلی او ټولی سلاح ګـانی او نور مهمات چې پوره دیارلس موټری پـری ډکـې شـوی موټرونـو د ولایت په خوا حرکت وکړ او د پولیسو قوماندان هغه پیسی چـې لـه ځانه سره یې راوړی وی قوماندان حضرت خان ته یې د ښه نیـت او غوره کار په خاطر ورکړی،خو قوماندان حضرت خان هغه پیسی نـه اخیستلی خو د قوماندان او د انجنیر شمشـاد پـه ډېـر ټینګـاریې پیسی واخیستلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې انجنیر شمشاد او د پولیسو قوماندان د حضرت خان څخه رخصت شولو او انجنیر شمشاد موټر ته پورته کېده قوماندان حضرت خان په شمشاد غږ وکړ او ورته یې وویل ، انجنیر صیب څو ورځې وروسته درځم کار در سره لرم .

انجنیر شمشاد په داسې حال کې چې یوه پښه یې د موټر په پایدان کې ایښې وه بېرته ځمکې ته را کښته کړه او ورته یې وویل قوماندان صیب زه هر وخت ستا چو پړ ته اماده او تیار یم نور نو موټر ته پورته شواو حرکت یې وکړ .

پوره دری ورځې تیری شوی چې قوماندان حضرت خان د انجنیر شمشاد کورته راغی انجنیر شمشاد د قوماندان حضرت خان سره په غیږ روغبړ وکې ډېر قدر او عزت یې ورځېنی وکړ قوماندان حضرت خان وویل انجنیر صیب په کور کې انا ته دی ووایه چې زحمت ونه کاږی تر اوسه لا وختی ده شپه کورته رسوم شپه تا سو ته زحمت نه درکوم زه یوه خبره له تا سره لرم نور ځم. انجنیر شمشاد وویل قوماندان صیب نن شپه خو دی هیڅ نه پر یږدم نن ته زما خاص میلمه یې نن چېری ځی حتمی نن زما سره یې هغه ورځ چې مونږ د سلاح د راوړلو د پاره درغلی و زړه می وچې تا له ځانه سره راولم له تا څخه مننه وکړم او ستا دا د ښه احساس درناوی وکړم او تا د ګلو په ګیډیو و ستایم باور ولره چې هغه ورځ چې د تاسو خواته درتلوبلکل می له یاده ووتل چې له ښاره د ګلونو ګیډی له ځانه سره تا ته راوړم او د هغې ورځې په مراسمو کې خو ښه داوه چې تا ته می په غاړه کې ګلونه در اچولی وای خو هغه کار چې ونشو نو د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې ملا متی خو باید درکړم نو ځکه درته وایم چې نن شپه به لــه ماسره یې ، کورته تیلیفون وکړه اوس خو هغه د چا خبــره دا شــیطا نکان ډېر شویدی په څو ثانیو کې خبر ورکولای شی او ورتــه ووایــه چې زه نن د انجنیر شمشاد سره یم چې په کور کې کــوم تشــویش ونکړی، اوهغه ورځ هغه د سلاح راوړلو په ورځ که رښتیا درته ووایم په کور کې می انا ویلی هم وه چې قوماندان حضرت خان می میلمــه دی د شپې د پاره یو ښه پاخه د خوړلو د پاره تیار کړه زما انا بېچاره ګی ډېر ښه خواړه،خواړه او خوندور شیان پخ کړی و ،خــو پــه هغــه ورځهغه د کلی سپن ږیری

ځوانان او ماشومان چې می ولیدل ځکه می درته ونه ویل چــې زمــا میلمه یې ما ویل ستا سو کورنی او کلیوال ونه وایې چــې قومانــدان حضرت خان ټوله سلاح هم دولت ته ورکړه او خپله حضرت خان یې هم له ځانه سره یو وړماویل دوی ونه وایې چې قوماندان صیب بندی کوي نو ځکه می تا ته ونه ویل چې زما میلمه یې ، اول که می تا تــه ویلی وای چې زما سره لاړ شه میلمه می یې خو ولا چې اول ستا پــه زړه کې هم دا خبره در تیره شوی وای ؟

قوماندان حضرت خان وخندل او ورته یې وویل ، یاره انجنیر صــیب زما دزړه خبره دی راته وکړه زه بېله هغه داسې وارخطاوم چې توبــه او که دی دا خبره هم راته کړی وای باور دی وشه چــې دزړه تکــان راته پیدا کېده او ځای پر ځای به مړ شوی وای خو ستا دپردی خبره هم کور ودان شی چې په هغه ورځ دی ماته د ملمستیا نه دی ویلــی او که دی راته ویلی وای نو باور ولره چې له بېری به اوس هــم ســتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورته نه وای راغلیځکه موږ او بیا خصو صا زه خوداسې یوسړی یـم لکه هغه پښتنا نه چې وایې(غل په غره کې نه ځایږی)
که څه هم اوس خو ما توبه کښلی ده د ټولو بدو اوناروااکارو څخه می لاس اخیستی ده او اوس غواړمچې پر غره کې څه چـې پـه هـواره کېځان ته ځای پیداکړم او په هواره ځمکه ځای شم.
انجنیر شمشاد وویل قوماندان صـیب کـور دی ودان زوی دی لـوی ددې سلاح ګانو په تسلیمولو سره دی دومره ښه کار وکړ چې د ښـه والی څخه یې په کتا بو کې لا ځای نه پیداکېږی ځان دی هم لـه دی بلا ګانو خلا ص کړ د سیمې خلک دی هم له لوی غم څخه وژغـورل او بل وګوره چې زما شمله لا څومره لوړه شوه ، دلتـه والـی صـیب ،قوما ندان صیب دغو ټولو زه وبېرولم او راتـه ویـل یـې چـې دا د قوماندان حضرت خان کوم نوی
چل ول ندی غواړی چې په دی تو ګه خپل تریـاک ،چـرس ، هیـرو یین او هغه کسان چې له ده سره یې قاچاق وړل او زموږ سـره بنـد یان دی د هغو په مقابل کې کومه د برمتی خبره نه وی ، خو ما ډېـر جرات وکړ او بل داچې ما پر تا باندې باور درلود چې ته په صـادقانه ډول سلاح ګانی تسلیموی ، که رښتیا درته ووایم په هغه ورځ چې د تا سو له کوره موږ ببر ته را وګرځیدلو او زما دا خبره چې قومانـدان حضرت خان نوره توبه کړی او اوس یې ښو کارونو ته مخه کړی ټولو د امنییله قوماندانه نیولی ، افسرانو ، سربازانو او د سلاح د ټولولو کار کونکو ماته ګوته په غاښ نیولی وی او راته ویل یې چې په دی جګړه مار ، قاچاق بر دی څنګه باور پیدا کړ او بیا خپله دا قوماندان څنګـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر شو چې ټوله سلاح دولت ته و سپاری دا خو ډېر بد جګړه مار او قاچاق وړونکې وو حتی تر دی پوری چې دوی ویل چې دا د نـړی والی ما فیا سره تړلی قوماندان دی او د ما فیا ډېر بـاوری کـس دی یاره قوماندان صیب تا خپل ځان ،سیمه او ټول خلک له غمه خلاص کړل خو شمله دی زما لوړه کړه تا ته دی خدای (ج) تر دی تیرو ګنا هونو، خطاګانو در تیر شی او خدای(ج) دی جنت در کړی.

قوماندان حضرت خان وویل؟

انجنیر صیب دا خبرې دی دلته پاته وی زما دسـلاح پـه تسـلیمولو سره د کلی او سیمې خلک هم حیران کړی او وایې چـې قومانـدان حضرت خان خو ډېر خلک وژلی او ډېر ی غلا ګانی یې کړی او اوس یې سلاح هم دولت ته تسلیم کړه اوس یې والله کـه څـوک ژونـدی پریږدی خو دوی زما په پلانونو او کارونو ندی خبر داسې کارونه بـه وکړم مګر د خیر کارونه داسې د خیر کارونه چې هغه زما بد کارونـه ټول خلک هیر کړی او په خوا به دوی زما د بدو کاروپه مقابـل کـې رانه په ویره او لړزه کې وه او چا له یوی خبرې دوه راسره نـه کـولی اوس به زما د ښو کارو پـه مقابـل کـې یـوه خبـره لا ونکـوي ، اول خدای(ج) او دوهم که ته انجنیر صیب راسره مرسته وکړی .

انجنیر شمشاد وویل ،قوماندان صیب زه هر وخت تاته د خیر په کار کې حاضر یم.

قوماندان حضرت خان وویل انجنیر صیب زما زړه دی چـې اول خـو خپله هغه جومات چې ما سوځولی دی جوړ کړم ، یو ښوونځی جـوړ کړمچې تر دوولسم ټولګی پوری هلکـان او انجـونی سـبق پکښـی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ووای دا بس دی چې موږ نا پوره او بسواده لویان شولو زموږ اولادونه او د سیمې د خلکو اولادونه بې تعلیمه پاتی نشی او ټول ستا د مور شینخالی په شان ډاکټراناو ستا په ډول انجنران شی ، یو روغتون جوړوم یو داوبو بند ،او یو ښوونځی چې سپین ږیری په عمر پخی ښځې ، پیغلی.او ځوانان د سواد زده کړی وکوي .**

**دا مرسته ته راسره وکوه چې امر ممر یې راته واخلی نور د جو مات ځمکه خپله د خلکو ځمکه ده او نور د ښوونځیواو روغتون ځمکه او نورو او هم یو د اوبو بند جوړومچې زموږ کر وندګر و ته خپله ماته او زموږ ځمکوته یې اوبه راشی او ځمکې مو ابادی شی هر څومره مصرف چې کیږی هغه یې زما په غاړه.**

**انجنیر شمشاد وویل .**

**قوماندان صیب حضرت خانه دا خو داسې ښا یسته پلان او نیک کار دی چې ددولت له لوړو مقامونو نه نیولی د کلی او سیمې تر یوه کوچنی ماشوم پوری به ټول درنه خوښ او خوشحاله شی که د سیمې خلک اوس خوښ نشی او څه خفه غوندی شی چې زموږ ماشومان اوس مکتبیان کیږی خو چې کله ددوی اولادونه ډاکټران شی ، ښونکې او انجنران شی بیا به نو دوعاګانی درته کوي تر نیمو شپو قوماندان حضرت خان او انجنیر شمشاد په دی خبرو سره لګیاه وو .**

**وروسته انجنیر شمشاد ورته وویل ، کوم کارونه چې ددې سیمې په والی ، د پو هنی په ودیر ،ښاروالی او د صحت وزارت په نما ینده پوری اړه لری دابه زه در سره مرسته وکړم او په دفترونو به درسره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګرزم ، او کوم کارونه چې په اړوند وزارتو پوری اړه لری زه به لیــک هم درکړم او په تیلیفون به له خپل پلار قاضی میوند او خپلــې مــور شینخالی سره هم خبرې وکړم د هغو کارونو به دوی هلتــه در ســره مرسته وکړی .

شپه تیره شوه سهار دچای څښلو نه وروسته قوماندان حضرت خان او انجنیر شمشاد اول وار د والی دفتر ته لاړل بیا نورو اړوند څانګوته په یوه اونی کې په ولایت کــې کارونــه خــلاص شــول او قومانــدان حضرت خان له خپلو درخو استیواو وړانیزونو سره چې والی او نــورو اړوند څانګو ورسره هو کې کړی و د هېواد دمر کز پخوا روان شو .

ه ه ه ه

ه ه ه ه

کله چې د هېواد مرکز ته ورسیده د موټرو په تم ځــای کــې قاضــی میوندورته ولاړ و او قوماندان حضرت خان د قاضی میوند ســره پــه موټر کې کښنو ست او قاضی میوند د خپل میلمه قوماندان حضــرت خان سره خپل کورته لاړ، د چای او ډوډی خوړلو نه وروسته قاضــی میوند قوماندان حضرت خان ته مخ مخ راواړاوه او ورته یې وویل زما زوی انجنیر شمشاد چې ته دوه ښونځی یو جومات ، یو روغتــون،او یو داوبو بند جوړوی نمونه دی هم ورباندې ایښی چې ښونځی د چــا په نوم ، روغتون په کوم نوم دی او نور نور .

قوماندان حضرت خان وویل ؟ قاضی صیب باور دی وشه چې ان پــه خپل ولایت کې له والی نیولی بیا تر ستا قاضیانو پوری ټولــو همــدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه خبره كوله خو زما شرط همدا دی چې په دغو ټولو به نمونــه زه خپله ور باندې ږدم ولی اوس نه يوازې په هغه ورځچې دا ټول ګتــې اخيستنی ته چمتو شی.

قاضی ميوند وويل ؟ قوماندان صيب حضرت خانه باور ولره ستا څخه دومره خوشحاله شوی يم چې هيڅ حد او اندازه نلری يو خو دا چــې مورږ ته د مډالو اخيستلو مبارکې او سوغاتونه راليږليواو بــل پــه دی چې ټوله اسلحه دی دولت ته تسليم کړه او اوس دی بيــا د خيــر او ثواب دا کارونه پيل کړی د ښونځی ،روغتون ، بنــد جــوړول تــر دی چې د سواد د زده کړی ښونځی هم جوړوی ، هغه پخوا دشر، مــرګ ژوبلی او د هيرو ينو د قاچاق کار ته د ګوره او اوس ددې خير او فلاح کارونو ته حتمی د خدای توبه قبوله کړی اويا ملا يکوپه غورږ کې څه درته ويلی دی.

قوماندان حضرت خان وويل که بــاور د کيــږی او کــه نــه کيــږی او رينښتيا درته وايم دا ستا ميرمن شينخالی د انجنير صيب مور درتــه ښيم دا پر ښته ده پرښته او که پرښته نه وی نو خدای(ج) همد غــه ماته پرښته ګر ځولی او ماته يې د پرښتی په جامه کــې را ليږلــی او همدغه شينخالی وه او ددې ښه سلوک چې نور نو زه يې له بدو کارو ،غلا، سړی وژنی،او د حرامو خوړلو څخــه را و ګــر ځــولم دا خــدای (ج)ماته يوه پرښته کړه په ښو او بدو يې پوهــه کــړم، دادی خــدای نوره هم تکړه کړی او خدای د ددې ژوند نورهم اوږد کړی خــدای د زما عمر هم دی ته ورکړی هغه خو يــو زړه ســوی لــری د ناروغــانو درملنه به وکړی زه او زما په ډول سړی و ژونکې ، قا تــلان او ســړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وژونکې بېله دی چې د خلکو ژوندواخلی ، د خلکو مالونه چور او تــا لان کړی نور به څه وکړی خدای د اول ماته او بیا نورو زما پــه شــان خلکوته سمه لاره و ښیی.

شپه تیره شوه سهار قاضی میوند او قوماندان حضــرت خــان دواړه هغو اړوندوزارتونو ته لاړل چېرته چې ددوی کار ور پوری اړه درلوده ، په دی اوله ورځ ډېر کارونه خلاص شول او ما ښام نا وختــه کورتــه راغلل د ماښام ډوډی یې وخوړله قاضی میوند لاړ چــای یــې راوړی چې په دی وخت کې د قاضی میوند کو چنی لور ملالی کــوټې تــه را ننو تله قوماندان حضرت خان چې انجلی ته وکتل انجلی یې تر لاس ونیوه او قاضی میوندته یې وویل دا د کوچنی لور ده؟

قاضی میوند وویل همدا یوه لور لرم او هغه یــو زوی شمشــاد درتــه ښیم دا لور می هم

انشا الله اوس دوکلوته رسیږی .

قوماندان حضرت خان وویل ما شا الله ټنډه خــو یــې د خپلــې مــور شینخالی غوندی ده دا به هم لکه خپله مور انشــا الله ډاکتــره شــی ډاکتره، قاضی صیب خنګه به شی او که به لکه د خپل وروړ شمشاد غوندی انجنیره شی.

قاضی میوند وویل یاره قوماندان صیب زه چې فکر کوم نه په ډاکتره شی نه به قاضی شی او نه به هم انجنیره شی داسې راتــه بــر یښــی چې دا به یوه هنر منده شی هنر منده ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تما مه ورځ يې یا راديو ته غوږ نیولی وی یا تلو یزیون ته نا سته وی او یا د موسیقی له وسا یلو سره سا تیری کوي نو ځکه وایم چې هنر منده به شی.

قوماندان حضرت خان وویل هنر مند لا څه ته وايې دا تاسی د ښار خلک خو داسې خبرې کوي چې زموږ ښځه مودا خپله ژبه لا هیره کړه .

قاضی میوند وویل قوماندان صیب هنر مند هغه ته وايې چې سندری وايې ،ارمونیه غږوی، رباب وهی،ودی ته هنر مند وايې هنر مند.

ښه قاضی صیب خو سم دم ووایه چې ډمه کېږی هنر مند لا څه دی موږ هغو ته چې سندری وايې، ډولک وهی ، ارمونیه غږوی او یا رباب وهی ورته ډم وایو ډم.

قاضی میوند وویل ؟

نه قوماندان صیب اواز ویل او نور د مو سیقی الا تو غږول دا یو ډول هنر دی ،مسلک دی او بیا د هر چا خپله خوښه چې هر ډول مسلک ځان ته خوښوی او بیا د هنر مندانو د روزنی د پاره هم مکتبونه شته همداسې فا کولتی لری او نور قوماندان صیب ته خپله ووایه چې میر من پروین، مهوش، نغمه،هما،ناشناس،استاد سراهنگ،بیلتون ،خان قره باغیاو داسې نور هنر مندان څومره يې د هېواد خلک هغه خوښوی هر چېرته په راديو تلو یزیون او ټیپونو کې ددوی سندری نه اروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان حضرت خان په خنداکې وویل قاضی صـیب دا څنګـه دی اول د ښځینه هنرمندانو نومونه وا خیستل او بیا د نارینه هنر مندانو نومونه دا تاسو چې وایاستی چې د ښځو او نا رینه و حقوق مسـاوی دی نو باید اول د نارینه و بیا د ښځو نوم د اخیستس وای تا تېول اول د ښځو هنر مندانو نمونه واخیستل بیا د نارینه هنر مندانو نمو نـه د نارینه و حقوق د تر پښو لاندی کړل.
قاضی میوند که څه هم د قوماندان دی پو ښتنی حیران کړ نو یې ژر ورته وویل نه قوماندان صیب خبره خو داده چې اول خو په هر څـه کې د ښځو حق دی او بل دا چې همدا اوس زموږ په کـور کـې دوی ښځې دی چې یوه شینخالی ده او بله هم ملالـی ، ملالـی خـو هـم راتلونکې مور ده او زه یو نارینه په دی کور کې یم بیاهم رایه دوی را نه وړی چې دوی دوه دی او زه یو نو ځکه می د ښځینه هنر منـدانو نمونه اول یاد کړل .
قوماندان حضرت خان په کړس،کړس وخندل او وه یې ویـل زه هـم دلته ناست یم ما لکه چې په نـا رینـه و کـې نـه شـمیری او کـه د مساوات خبره وی نو باید دیوی ښځینه هنر مندی او بیـا د یـوه نـا رینه هنر مند نوم د ا خیسلای وای ، رښتیا دا زما غوندی نا رینه خو و لا که یا په ښځو کې حسا ببږی او نه په نارینه و کې دا زمـوږ د قـا تلانو نمونه باید په ځنا ورانو کې حساب شی په ځناورانو کې.
قاضی میوند ددې د پاره چې خبره خو ځینی تللی وه هغه یـو متـل دی چې وایې تر ورخ تیری اوبه ببرته نـه را ګـرزی نـو د قومانـدان حضرت خان د ډاډینی د پاره چې خفه نشی نو یې ورته وویل ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان صیب خدای د نکړی چې په ځناورا نو کـې حسـاب شـی خبره ما د خپل کور درته کوله چې یعنی همـدا اوس چـې زمـوږ د کورنی غړی چې حا ضر دی ښځې اکثر یت دی ځکه مـی دا خبـره ادی چا خبره تر خبرې پوری درته وکړه او بل دا چـې د نمونـو پـه یادولو کې می کمی او زیاتی ندی کړی څلـو ر مـی د ښـځېنه هنـر مندانواو څلور می د نارینه هنر مندانو نمونه یاد کړل.

قوماندان حضرت خان وویل قاضی صـیب خبـره دی بېرتـه سـره وګنډله او لاره دی ورته جوړه کړه خو یاره قاضی صیبه تـه دا راتـه وو ایه چې قاضی د ملا پلار ده او که ملا د قاضی پلار ده او که قاضـی او ملا سره ورونه دی ، په خدای چې ددې زمانی قاضیان او ملا یـان دواړه داسې دی چې سپین به درته تور او تور به درته سپین کړی او هیڅ به وربانديږ پوهه هم نشی داخبره می دا ستا د پورته ځواب پـه باره کې هم ده او د څو کلونو او اوسنیو کلونو خبره هم ده .

دا څو کاله مخکې چې دروس سره مو جګړه وه په هغه وخت کې هم کوم دښونځی هلک ،ښونکې چې به مو ونیول ملا یـانو بـه ویـل دا مکتب وایې دا کافر دی او د مرګ سزا به یې ورته ورکړه . خـو هغـه قوماندان چې لس او یا شل کاله پخوا یې همدا ښونځی ویلی وه او په همدی ښونځی کې یې د ښونکې دنـده درلـوده او نـن د قومانـدان صیب سره یو ځای

لو تماری،غلا سړی وژنه کوله هغـه پـاک مسـلمان و.اوس تـا هغـه پخوانی کړه وړه را په یاد کړل بس ده نور به د ټوکو او ټکـالو څخـه تیر شودولت پو هیـږی د ښـځو حقـوق یـې پـوهیږی قومانـدانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیږی او د بشر حقوق څنګه چې یې جوړوی هغسی دی یې جوړه کړی خوته انجنیر صیب ته یو تیلیفون وکړه چې زه ورسره کار لرم .
قاضی میوند د جیب څخه مبا ییل را وایست غو ښتل یې چې زنګ ووهی قوماندان حضرت خان وویل قاضی صیب واخله دا زما مبا یـل واخله د خپل مبا ییل څخه زنګ وه وهه ګوره چې ستا مبا ییـل بـه کارت لری او کنه او بیا تاسو څه لری یوازې یوه تنخوا لری چې هغـه هم دوه یا دری میاشتی وروسته درکوله کیږی خدای خبر چې دا څو شپی زه دلته یم تاسو دا خوراک مراک له کومی خوا په قرض او پـور راوړی او که څنګه.
قاضی میوند وویل نه قوماندان صیب داسې هم نده لکه دا تـه چـې وایې شکر دی زه هم تنخوا لرم او شینخالی هم تنخوا اخلـی ددواړو په تنخوا مو ښه ګذاره کیږی .
په دی وخت کې قاضی میوند د مبا ییل شماری ووهلی وروسته لـه روغبړ څخه یې وویل دادی قوماندان صیب حضـرت خـان درسـره خبرې کوي انجنیر شمشاد وویل زه پو هه شوم چې قوماندان صیب له تاسو سره دی ما یې د مبا ییل شمیره و پیژ ندله.
انچنیر شمشاد د قوماندان حضرت خان سره په خبرو بوخت شـواو قوماندان حضرت خان ورته وویل انجنیر صیب کارونه انشا الله په دا څو ورځوکې خلا صیږی تر څو چې زه درځم نقشی مقشییې جـوړې کړه فکر د ونیسه چې د روغتون او ښونځی ددواړو نقشـی دوه ،دوه پو ړیزه وی نور یې په تیلیفون کې دیوه او بل سرهخدای په اما نـی وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره یوه اونی قوماندان حضرت خان د قاضی میوند په کور کې وه او د ورځې لخوا په اړوند وزارتونو کې د کـارونو د خـلا صـولو د پـاره کښته پورته ګر ځیدل.

دادی وروسته له څو شپو او څو ورځو قوماندان حضرت خان کورتـه راغی دوه ورځې یې په کور کې لا نه وی تیـری کـړی چـې انجنیـر شمشاد ته ورغی او خپله ټوله کښسه یې انجنیر شمشاد ته وکـړه او انجنیر شمشاد ته یې وویل یاره انجنیر صیب ستا مور او پلار ته دی خدای خیر ورکړی زما کارونه یې داسې په چټکې سره خلاص کـړل که دوی نه وای ولا که می په یوه کال کې خلاص کړی وای ډیر خلک راغلی وه چې ډیر یې سوداګران وهغو ښتل یې چې په خپله سـیمه کې روغتون یا ښوونځی جوړ کړی میا شتی ،میاشتی یې تیری کړی وی د کارونو سر او بر یې نه وه معلومهری وزارت خانی او دفتـر تـه چې به ورغلی په خدای باور وکړه او په ما ګنهګار یې مکـوه د یـوه کوچنی کار د خلا صولو د پاره به یې د ما مو رینو او کارمندانو سـتر ګی ستا د جیب په خوا کړی وی ما ویل چې موږ وړی یواو د ډوډی د پیداکولو د پاره په تورو شپو کې ګرزو راګرزو دادولت مامور ښ خـو ولالکه وړی لیوان په روڼا ورځ یې چور او تـا لان جـوړ کـړی ووکـه داسې حال وی والله چې خلک د خپلو کومکونو څخه تیر او پښیمانه شی.

انجنیر شمشاد ورته وویـل قومانـدان صـیب پیـداکیږی هـر ډول انسانان خدای پیداکړی چې ځنګله ته ورشی هلتـه هـم ډول،ډول ونی او بوټی شته د یوه لاس ګوتی لا یو ډول ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان صیب دادی نقشی وه یې ګوره خو ښیرې دی او کنه .
قوماندان حضرت خان چې نقشی سره واړولی راواړولی هیڅ نــه پــو هیده انجنیر شمشاد ورته وویل صیب دا نقشه د ښــونځی ده دایــې اول پوړ، دایې دوهم پوړ، دا ټولګی ده دا څــه او داڅــه د قومانــدان حضرت خان خو په هیڅ سر نه خلا صیده نو یې ورته وویل انجنیــر صیب زه خو ولا که په هیڅ پو هیږم او که پو هیدای تا ته به مــی نــه ویلای یوازې دومره درته وایم چې ښه نقشه وی ،ودانی یې ښــکلی وی او ډېری خونی ولری چې د سیمې ټول هلکان پکښی ځای شی ، روغتون هم ښه ښکلی جوړ کــړه وړکتــون او نــوری ټــولی ودانــی ښایسته او ښکلی جوړې کړی نور زه نه پو هیږم ټول کارونه یې هــم ستا پر غاړه دی خو هر کله چې راځی راشه ځمکه او ځای یې درتــه وښیم یو څه پیسی به هم درکړم زه نو بیا له خیــره ســره بېــت الله شریفی ته د حج او توبې کولو د پاره ځم کله چې راغلم بیا به نــوری پیسی هم درکړم خو ته یوازې دومره راته ووایه چې په څومره وخت کې دا جو ړیږی او تر هغه چې زه له حج څخه راځم څــومره پیســی بس دی داسې نشی چې د پیسو دکموالی له کبله کار ودریــږی هــو انجنیر صیب یوی خبرې ته دی پام وی په نورو کارونو د زه کار نلرم او نه وربان‌دې پوهیږم خو داخبره می ښه واوره چــې دهــری ودانــی ددروازی ښی لاسته په دیوال کې دومره ځــای چــې بیــا دودانــی د پرانیستلو نیټه او دودانی نوم یعنــی ښــونځی،روغتون د مرمــر پــه ډبرینه ولیکو او هلته یې پکښی و دروو (ولګوو).

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ ورسته انجنیر شمشاد سره د څو نورو انجنیرانواو د ولایـت د لوړو مقاماتو د قوماندان حضرت خان کلی تــه ورغلــل قومانــدان حضرت خان ، جومات،د بند ځای د ښونځی ځای ، دروغتون،کلنیک ځای او د سواد د زده کړی ځایونه ورته په نښــه کــړل او ددې تولــو ودانیو ځمکه قوماندان حضرت خان لــه خپلــې شخصــی او پلرنــی ځمکې څخه ورکړه .

انجنیر شمشاد په څو ورځو کښېبری،شګه،او نور دودانیو دجوړولو د اړتیا وړ شیان راوړل او کار ګران یی ونیول او د ودانیو پــه جوړولــو پیل وشو .

انجنیر شمشاد د ورځې لخوا په تولو ودانیو ګر زی راګرزی او د تولو ودانیو کارونه تر څارنی لاندی نیسی چېر ته چې کومــه خرابــې پــه ودانیو کې وینی هغه کار ګرانو ته ور په ګوته کوي .

څو اونی وروسته قوماندان حضرت خان د حج د فریضی د اداکولو د پاره بېت ا لله شریفی ته لاړ.

ه ه ه ه

ه ه ه ه

کله چې قوماندان حضرت خــان بېــت الله شــریفی تــه لاړ انجنیــر شمشاد هم د نموړو ابادیو په کار داسې چټک کار کاوه چې ګوته پــه غاښ ورته نیوله کښدله په دوو دریو اونیوکې دېر ګار پر مختګ وکــړ تول خلک ورته حیران پاتی وو انجنیر شمشاد هم شپه او ورځ ورته یوه کړی وه تر څو د قوماندان حضرت خان تر راتلو پوری کار ښه پر مخ لاړ شی تر دی چې د سیمې خلکو او په تیره بیا ځوانانو هم کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله د حشر په ډول ورسره کار کاوه په څو اونیو کې د ټولو تعمیرونو سرونه وتړل شول او دسیمې خلکو به ویل وګوری د انجنیر کبصرخان لمسی شمشاد ته چې د خلکو دپاره څومره خواری او زحمت ګالی ټولو خلکو ورته افرین او شاباس ویل خو ځینو ځینو به ویل څنګه به زحمت نه باسی پوهیږی چې د چا لمسی دی اخیر د هغه چا لمسی دی چې ټول هېواد یې خپل کور باله .

دادی قوماندان حضرت خان هم د حج د فریضی دادا کولو نه راغی او خپله انجنیر شمشاد ،شاه پرو، شینخالی، او قاضی میوند ته یې له مکې معظمی څخه سوغاتونه راوړی و چې په هغو کې د هریوه د پاره جای نماز خو حتمی وه خو نور سوغاتونه یې هم ورته را وړی وو .

کله چې قوماندان حضرت خان د هغو میلمنو څخه چې ده ته د حج دمبارکې د پاره راتله خلاص شو نو یوه ورځ د ودانیو په کار و ګرځیده اول یې د هغو ډبرینو ځا یونه وکتل اندازه یې کړل او اندازه یې له ځانه سره واخیستلی او انجنمیر شمشاد ته یې وویل انجنیر صیب کارونه ډېر پر مخ تللی دی ما خو دومره نه ګڼله چې داسې ژر دی دا ودانی له ځمکې پورته شی انجنیر شمشاد ورته وویل قوماندان صیب ولسی خلکو په تیره بیا ځوانانو

ډېر د حشر کارونه پکښې وکول ټول په خپله خوښه او شوق راتله او کارونه یې کول او ویل یې دازموږ ښونځی او روغتون او دا ټول زموږ د پاره دی .

قوماندان حضرت خان وویل خدای د دوی ته برکت ورکړی او ثوابونه دی ورته ورسیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان حضرت خان د هغو مرمرینو اندازه له ځانه سره واخیستله ښار ته لاړ او د ټولو مرمرینو ډبرو اندزهاو څه باید وربانـدې ولیکـل شی د ډبرو توړلو کسب کارانو او دوکاندارانو ته فر مایش ورکړ .

د څو میاشتو په اوږدو کې د اوبو بند، کلنیک،او نوری ټـولی ودانـی ګټې اخیستو ته چمتو شوی نو انجنیر شمشـاد قومانـدان حضـرت خان ته وویل ټول کارونه سرته ورسیدل او د ګټې اخیسـتو د پـاره چمتو دی ، او قوماندان حضرت خان ته یې ټولی هغه نیمګړ تیـاوی چې هغه با ید دولت وکړی د ښونځی له میزو، چوکېو ،کتابونو،بیـا د روغتون تر درملو پوری ټول پوره لیست یې قوماندان حضرت خـان ته ورکړ قوماندان حضرت خان له ولایتــه نیـولی بیـا د هېـواد تـر پا یتخته پوری ټولو اړوند وزارتونو او دفترونو یو وار بیا و ګرځیـده او له ځانه سره یې له ډاکتره او ښونکو نیولی بیا د وړکتون او ښـونځیو تر میز او چوکېو پوری ټول یې پوره او د ولایت او له ولایته د خپلـې ولسوالی په لور روان شو او ټول شیان یې له خپل ځان سره راوړه.

او هغه ډبرینی چې یې تیاری کړی وی انجنیر شمشاد ته یــې دنــده وسپارله چې دا به په هغه ورته جوړشویو ځایونو کې و لګـوی مګـر هغه لیکنی چې په ډبرینو شویدی هغه به نه ګـوری او نــه بــه هغــه مخصوص ټوکر چې وربانډې پروت دی لیری کـوي خــو یــوازې بــه دومره کوي چې د هری ودانی ډبره چې پر ټوکر لیکل شویدی هغــه به په هغه ودانی کې ټینګوی .

انجنیر شمشاد همدا کار د قوماندان حضرت خان په غوښتنه او وینا هما غسی وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوو نورو ورځو کې پرا نستلو ته تیاری شوی .
کله چې انجنیر شمشاد قوماندان حضرت خان ته پوره ډاډ ورکړ چې ټول کارونه چمتودی اوس باید والی او نور د ولایت لوړو کسانو ته خبر ورکړو چې هغوی راشی او ودانی د ګټې اخیستنی د پاره پرانیزی .
قوماندان حضرت خان وویل انجنیر صیب نور می سر مه خوږوه هر څوک چې راغواړی هغه را وغواړه مګر پام چې ستا پلار قاضی میوند، ستا مور ډاکټرصیب شینخالی ، ستا انا شاه پرو او خپله ته باید هرو مرو حاضر واوسی او را وه یې غواړه زما دی په خپل حج قسم وی تر څو همدا کسان نه وی چې ریس جمهور هم راشی که یوه ودانی راڅخه پرانیزی .
انجنیر شمشاد هک حیران شو نو مخا مخ د والی دفتر ته ورغی او د سیمې والی ته یې د قوماندان حضرت خان خبرې یو په یوه وکړی د سیمې والی د تلیفون په سلسله یی د دولت لوړ مقام ته خبر ورکړ.
ددولت لوړ مقام پریکړه وکړه چې دنموړی ولایت والی او په ولایت کې داړوند څانګو مسو لین دی په دی پرانیزه غونډه کې بر خه واخلی .
هغه وه چې سهار په شپږو بجو قاضی میوند او ډاکټر صیب شینخالی دهغه ولایت هوایی ډګر ته ځانونه ورسول او له هوایې ډګر څخه برا بر دهغه ولایت د والی دفتر ته یې ځانونه ورسول کله چې والی او راغلو میلمنو یعنی قاضی صیب میوند او ډاکټر صیب شینخالی یوه یوه پیاله چای و خوړلی قوماندان حضرت خان هم دوالی د د فتر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه ورننوت د سلام او روغبړ کولو نه وروسته د نمـوړی ولایـت داړوند څانګومسو لین (ښاروال،د روغتیا مسول ،د پوهنی مـدیر)،او نور مسولین هم را ورسیدل ټولو دیوه اوبل سره روغبړ وکړ ، پـه دی وخت کې د قوماندان حضرت خان ستر ګی د شینخالی په لور ملالی و لګیدلی ور ولاړ شو او ملالی یې په غیږ کې ونیوله او د مخ په دواړو خوا یې ښکل کړه او ورته یې وویل ملالی جانی غټه شوی یـی هغـه څو میاشتی مخکې چې زه ستا سو کورته درغلی وم هلتـه خـودی خاپوړی کولی .

قاضی میوند وویل قوماندان صیب دا خو د ستا سو ددوعا برکت دی .

وروسته د سیمې والی وویل راځی چې ځو او خپل کارونه سره را لنډ کړو ټولو غوښتل چې ولاړ شی قوماندان حضرت خان وویل ؟ والـی صیب او راغلو میلمنو مخکې له دی چې ولاړ شو زه بـه یـوه خبـره درته وکړم خدای د وکوي چې زما دا وروستنی خبره هم ومنی .

ټولو په یوه غږ وویل قوماندان صیب حضرت خانه وایه څه وایی ستا یوه خبره نه سل خبرې د منو .

قوماندان حضرت خان وویل زما یوه هیله ده د تاسو قدر منو میلمنو څخه هغه دا چې زه خو اول دا چې لیکونکې او لوستونکې نـه یـم د تاسو په شان چې د کاغذ او یا کتاب له مخی خبرې وکړم نـو ځکـه وایم چې زما خبرې ببله د کاغذ او کتاب له مخی ومنی ، اوبـل دا زه غواړم چې زما د قومانـدانی د ورځونـه همـدا نـن ورځ وروسـتنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندانی وکوم او هغه دا څه چې زهوایم او کوم پروګــرام چــې مــا جوړ کړی تا سو یې راسره ومنی همدا زما هیله او ارزو ده .
ټولو ورته وویل همدا ستا حق دی ځکه چې موږ خو ستا میلما نه یو نو حتمی او ضروری څه چې ته وایې هغه به منو او هما هغسی به کوو نه دی دی ارویدلی چې وایې(مرده به دست زنده)نو نن موږ میلمانــه یو او ته د کور خاوند یې قوماندان حضرت خان وویل کــور مــو ودان ځی چې ځوخو شاه پرو نه ښکاری هغه چېری ده ، انجنیــر شمشــاد وویل هغه اوس رارسیږی کله چې والی ،ً قوماندان حضــرت خــان او راغلی میلمانه د ولایت له انګړ څخه راووتل شاه پرو هو د ولایــت د انګړ دروازی ته راورسیدله ،دوی ټول په ګډه په داسې حال کې چې د قوماندان حضرت خان موټر تر مخ روان واو نور وروســته پــه څــو موټرو کې ورپسی روان و.
دادی اول ښونځی ته راورسیدل ټول له موټرانو راکښــته شــول او د پرانستلو د پټی په مخ کې سره را غونډشــول، پــه دی وخــت کــې قوماندان حضرت خان وویل ، د محترمی شــاه پــرو ،ډاکټــر صــیب شینخالی ،قاضی صیب میوند او انجنیر صیب شمشاد د څلــورو واړو څخه هیله کیږی چې د مرمرینی ډبری څخه د پردی په بېرته کولــو سرهد ښونځی ودانی پرانیزی ،دوی څلور واړه ورته را دمخه شول او په یوه وار څلورو واړو د مرمرینی څخه پرده کش کړه کله چې پــرده کش شوه په ډبرینه دا جملی (د انجنیر کبصــر خــان عــالی لیســه) لیکلی وی ټول هک پک او حیرانه پاتی شول په دی وخت کې د شاه پرو،او شینخالی له ستر ګو د خوشحالی او پریشــانی اوښــکې تــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی یو وار ټولو راغلو میلمنو او دسـیمې سـپین ږیـرو قومانـدان حضرت خان ته افرین او شا باس ووایه تر دی ګړی پـوری هیڅـوک حتی انجنیر شمشاد چې دا ودانی یې جوړه کړی هم وه خبـر نـه وه چې دا ښونځی د چا په نوم دی ،په دی وخت کې قوماندان حضـرت خان دوه جلا،جلا کاغذونه له جیبه را و استل

او د پوهنی او د پوهنی مدیر ته یې وویـل پـه دی لسـت کـې زمـا دکورنی د انجونو او هلکانو نمونه دی چې باید ښونځی ته شامل شی ،او په دابله پاڼه کې زما،زما دمیر منی او زما دکورنی نور نا رینه او په عمر پخو ښځو نمونه دی چې دسواد د زده کړی په ښونځی کې باید شامل شی ،او هم یې د سیمې د سپین ږیرواو ځوانـانو څخـه هیلـه وکړه چې ټول هلکان او انجونی ښونځی تهاو په عمر پاخه نارینـه او ښځې د سواد د زده کړی ته ور وپیژنی.

ددې نه ها خواته د روغتون ودانی وه هغې خواته لاړل او هلته بیـا د روغتون په دروازه کې ټول سره را غونډ شول او قومانـدان حضـرت خان وویل و محترمی خور شاه پرو ته بلنه ورکومچې د ډبرینی څخه د پردی په استه کولو سره روغتون پرانیزی، شاه پرو وردمخه شوله او د مرمرینی څخه یې پرده کش کړه ټولو ولیدل چې پـه مرمرینـه لیکل شوی وه د شینخالی روغتون د سیمې والی راغلـو میلمنـو او دسیمې خلکو کله قوماندان حضرت خان ته کتل او کله به یـې هـم شینخالی او کله د روغتون ودانی ته، اوبیا لاړل دسـواد د زده کـړی ودانی ته هلته بیا قوماندان حضرت خان را دمخه شواو وه یـې ویـل زما میلمنو او عزیزانو د پوهنی محترم مدیر صیب ته بلنه ورکـوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ودانۍ له مرمرينې ډبرې څخه پرده پورته کړې او د سواد دزده کړې ودانۍ پرانيزې د پوهنې مدير صيب راغې او د ډبرينې څخه يې پرده پورته کړه چې په دې ډبرينه ليکل شوي و( دميرمن شاه پرو د سواد دزده کړې ښونځی).

وروسته دنوې جومات نوې ودانۍ ته راغلل قوماندان صيب حضرت خان د ولايت د جا مع جومات له ملا امام څخه غو ښتنه وکړه چې د مرمرينې څخه د پر دې په کشولو سره نوې جومات پرانيزې هغه و چې د ولايت د جامع جومات ملا امام راغې او د ډبر ينې څخه يې پرده کش کړهاو ليدل شول چې په ډبرينه ليکل شوي و د( قاضي ميوند جومات) قاضي صيب ميوند يوې اوبلې خواته وکتل ټولو راغلو ميلمنو او دسيمې خلکو قاضي صيب ميوندته مبارکې ورکړه او شينخالې هم د ګلو يو ه ګيډې د جومات په مرمرينه کېښوده.

له همدې ځايه د وړکتون د ودانۍ خواته ټول روان شول کله چې دوړکتون د انګړ دروازې ته ورسيدل نو قوماندان حضرت خان وويل ميلمنو او دوستانو وين چې د وړکتون په مرمرينه هيڅ ندې ليکل شوې چې دا وړکتون د چا په نوم يې ياد کړو نو زه د ولسوالۍ د جامع جومات له مولوې صيب او څلورو نورو ملا صاحبانو او مولوې صاحبانو څخه دچې ټول پنځه کسان کېږې دا عالمان چې په سر کې يا ددې کميسون ريس د ولسوالۍ د جامع جومات مولوې صيب دې په دې وړکتون د دوې نوم کېږدې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عالمانو ټا کل شوی کمیسون د وړکتون دیه دیوال له څنګه سـره ودریدل او ددې وړکتون د نوم په ایښودلو یوی موافقی ته ورسیدل او د کاغذ په مخ یې لا سلیک وکړ د عالمانو ټاکل شـوی کمیسـون راغی او راغلو میلمنو ته یې وویل ددې وړکتون نوم هغه وخت اعـلا نیږی چې مورږ ټول وړکتون ته ننوزو او بیا بېرتـه راووزو بیابـه اعـلا نیږی دا زمورږ د عالمانو پریکړه ده .

په دی وخت کې د پوهنی مدیر وویل راځی ددې وړکتون پرانیستل ددې کوچنی ماشومی چې د قاضی میوند لور ده دا به دا چا کلیـټ و دغو میلمنو ته په خپل لاس وویشی او اول به دا وړکتون ته ننـوزی ځکه چې دا وړکتون دی او د ماشومانو دپاره دی نو څنګه چـې بـل کوچنی ماشوم زمورږ په او تاسو سره نشته او همدا یوه ماشومه ده نو ددې ماشومی په ننوتلو سره وړکتون ته وړکتون پرا نسـتل کېـږی وروسته نو رو ټولو د پوهنی د مدیر خبره ومنله او همداسې وشول د قاضی میوند لور په ټولو خوږه وویشله او یو څه خوږه یې د وړکتـون د ننو تلو په دروازه کې و شیندله او ټول په داسې حال کـې چـې د قاضی میوند لور یی دمخه وه د وړکتون د وړکتون په دروازه ننوتل ، ټولګی،د شیدو خوړلو او د خوب خونی یې یو پر بل پسی وکتلی او د وړکتون څخه را ووتل ، دلته بیا ټول د وړکتون مخی ته ودریدل تـر څو ددېنی عالمانو د کمیسون پریکړه د وړکتون د نـوم ایښـودلو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره خلکوته واوروی ، ددپنی عالمانو د جوړ شوی کمیسون ریـس د ټولو تر مخ ودریده او دایې وویل ؟

ورونړو موږ داسې پریکړه کړی چې که هر څوک اول ددې ورکتون په دروازه ننوزی وړکتون به دهغه په نوم وی او یادیږی او دادی تـول د کمیسون غړو لاسلیک هم کړی اوبیا یې ددپنی عالمانو کمیسون ته مخ راواړاوه او وه یې ویل ملا صاحبانو همداســې پریکــړه وه او کــه څنګه هغوی ټولو وویل هوکې همداسې پریکړه وه .

نو دکمیسون ریس وویل څنګه چې تاسو ټولو ولیدله چې خوږه هــم دی ماشومی وویشله او وړکتون ته هم دا ماشومه انجلی ننو تله نــو تاسو ووایاستی چې ددې ماشومی انجلی نوم څه شی دی ؟شاه پــرو د شینخالی مور ورته وویل ددې ماشومی انجلی نوم ملالی ده ملالی .

نو مولوی صیب وویل ددې وړکتون نوم شــود(ملالی وړکتون)،ټولــو راغلو میلمنو او دسیمې خلکو لاسونه وکړپول او د وړکتون ددروازی په مرمرینی یې په توش قلم ولیکل د ملالی وړکتون .

شینخالی د ملالی مور د وړکتون هغې دروازی ته چې مرمرینه ډبــره لګیدلی وه رانژدی شوه او ددې ډ برینی یوی خواته شینخالی او بلی خواته یې خپله لور ملالی ودروله او انجنیر شمشاد د شینخالی زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلې مور او خپلې خور د هغې مرمرينى سره چــې وربانــدې پــه توش قلم ليکل شوی ود ملالی وړکتون يادګاری عکسونه واخيستل.

په دی وخت کې دسيمې والی وويل قوماندان صيب حضــرت خانــه څنګه اوس داوبو بند پرانيزو،؟

قوماندان حضرت خان په ټوکو او مسخرو کې ورته وويل والی صيب څنګه د اوبو د بند نوم دی واخيستی لکه چې تېرې شوی يې نن ټوله ورځبه زما په قومانده کارکوي ځکه چې زما د قوماندانی همــدا نــن يوه ورځ ده بيا به نه قوماندانی وی او نه بــه څــوک راتــه قومانــدان حضرت خان ووايې نو پريږده والی صيب چې نن خو زما قومانده هم وچليږی ورځ لويه ده هغه به وروسته پرانيزو اوس دډوډی وخت دی ډوډی خورو ما د ډوډی بندو بست کړيدی ډوډی تياره ده دادی اوس می زوی راغی او راته يې وويل چې ډوډی تياره ده ما لا سهار ستا په دفتر کې تاسو ټولو ته وويل چې زه دکاغذ او کتاب له مخــی خبــرې نشم کولای

زما کار ټول د صحرايانو کاردی نو اوس د ډوډی خوړلو قومانده ده د ډوډی خوړلو په وخت کې دوی ټول د قوماندان حضرت خان د کــور انګړ ته ننوتل او د ليږ ځنډ نه وروسته د ډوډی په خوړلو پيــل وشــو قوماندان حضرت خان هم داسې په خــرپ ډوډی تيــاره کــړی وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو داسې په خوند،خوند خوړله تا به ويل چې د کابل د انترکانينتل هوټل کې دا خوراکونه پا خه او تيار شويدی .

راغلو ميلمنو ټولو دی مصرف او دی خوراکونو ته ګــوتی پــه غــاښ نيولی وی او هک حيران وه چې دا بانډی وګوره او داخوراکونــه او د راغلو ميلمنو څخه يوه وويل

قوماندان صيب دومره مصرف دی کړی دی دومره مصرف تــه هــيڅ ضرورت نه وه .

قوماندان حضرت خان وويل نه بابا داخه مصرف دی بيا د تاسو قــدر منو ميلمنو د پاره دا هم کم دی ؟

د سيمې والی وويل نه قوماندان صيب هر څه ډيردی خــدای(ج)دی تاته نور هم توان او قدرت درکړی چې نور هم د خير کارونه وکړی،.

قوماندان حضرت خان په داسې حال کې چې په خوله يې ليرِ موسکا خپره شوه او په ټوکو کې يې وويل هر څه ډير دی خو هغه يــو هغــه چې تاسو او د ښار خلک ورسره ډيره مينه لری هغه نشته هغه دی د هغه په ځای می ښی تروی او شړومبې درته ايښی دی .

داوبو او بر يښنا ريس وويل ، قوماندان صــيب حضــرت خانــه خپلــه خبره خودی وکړه مورِ ټول ورباندې وپو هيدلو او دا خبــره د ببرتــه واخله ځکه مورِ د هغو کسانو له ډلی څخه نه يو کوم چــې تــه فکــر کوي او بيا زمورِ سره خو پوهيږی چې قاضی ميوندهم شته او قاضی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب میوند خو ته پیژنی چې په قضا کې د هیڅ چـا طرفـداری نـه کوي او که مورږ هم بیا داسې کار وکړو او هغه چې ته یې یادوی هم نه یې خورو ځکه چې قاضی صیب په خپله وینی نو بیـا قاضـی صـیب شاهد ته اړتیا نلری ولا چې ته خبر یږی مورږ به بیـا د قاضـی صـیب میوند تر دورو تیر شوی یو.

قوماندان حضرت خان وویل ټوکه می وکوله یوه،یوه ټوکه چې نه وی خوراک هم خوند نه کوي .

ټولو په یوه ځای او په ډیره خوشحالی د غرمـی ډوډی د قومانـدان حضرت خان په کورکې وخوړله اودسـونه یـې تـازه کـړل او د مـا سپښین لمونځ هم ټولو یو ځای سره ادا کړنو قوماندان حضرت خان د سیمې والی صیب ته مخ ورواړاوه او ورته یې وویـل والـی صـیب ځنګه اوس به داوبو د بند په خوا لاړ شو.

د اوبو بند ته ټول په ګډه لاړلاو هلته بیا قوماندان حضرت خان د بند د مرمرینی له ځنګه

چې ټوکر وربانديې غوړیدلی وو ودریده او داسې یـې وویـل محتـرم والی صیب او داوبو اوبریښنا ریس صـیب تـه بلنـه ورکـووچې لـه ډیرینی ښخه د پردی په ایسته کولو سره د اوبو بند پرا نیزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبواو بریښنا ریس او وا لی صیب راغلل او د پردی په ټولولـو یـې ولیدل چې په مرمرینه ډبره لیکل شوی وودانجنیـر شمشـاد داوبـو بند.

قاضی میوند،شاه پرو او نور دسیمې او ولایت سپین ږیـرواو دولتـی چار واکو د انجنیر شمشاداو د قوماندان حضرت خان ددواړو غاړوته دومره ګلان ور واچول چې نور نو دواړو خپلې غاړی د ګلانـو څخـه هسکې نشوای نیولای او ټول انجنیر شمشاد او قومانـدان حضـرت خان ته مبارکې ویلی او د بند اوبه په ویالو او نهرونو کې پـه بهیـدو راغلی خلک هم حیران شول چې قوماندان حضرت خان ته وګوره او دومره عقل داسې نمونه یې ورباندې ایښی دی فقط لکه لـه کتـاب څخه یې را اخیستی وی..

دلته دسیمې والی او نورو راغلـو میلمنـو وویـل قومانـدان صـیب حضرت خانه نور نو موږ ته رخصت راکړه چـې ځوانشـا الله کارونـه خلاص شول .

قوماندان حضرت خان راغلو میلمنو ته وویل ما سهار لا درته وویـل چې زه همدانن د تاسو او دسیمې قوماندان یم هر امر چې کوم هغـه به منی کارونه چېری خلاص دی یو کار او وروستنی کار لا پاتـه دی راځی پر ما پسی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول په موټرو کې کېنا ستل او د قوماندان حضرت خــان پــه مــوټر پسی یو قطار موټری روانی شوی د قوماندان حضرت خان دمخــه او نوری موټری ور پسی روانی وی .

دادی د قوماندان حضرت خان موټر دســیمې د هــدیری لــه څنګــه ودریده د سیمې خلک او راغلی میلما نه هم لــه موټرانــو را کښــته شول او پلی له قوماندان حضرت خان سره د هدیری پــه مــنځ کــې روان شول ،خو د راغلو میلمنو له ډلی څخه یوه میلمانــه قومانــدان حضرت خان ته په ټوکوسره وویل قوماندان صیب حضرت خانه مورډ ټولوته دی قبرونه جلا جلا جوړ کړی او که دی ټولو ته د....په شان یو قبر جوړ کړی قوماندان حضرت خان وویل ځومره وار خطا یاســتوار خطا کیږی مه اخیر نه اخیرمو دا ځــای دی څــوک وروســته څــوک وراندی ، په دی وخت کې قوماندان حضرت خان دیوه لوی قبرچــې له څنګه سره ییبل یو کوچنی قبرواو دواړه په ښــو مرمرینــو ډبــرو جوړاو ښایسته شوی وودریده او ددې قبر په مرمرینه داسې لیکل شوی و(دشهید ارواح ښادانجنیر کبصرخان ارام ځای).

شهید انجنیر کبصر خان او دده وړوکې زوی شمشادچې د قوماندان حضرت خان پــه قومانــده یــې خپــل خوږژوندلــه لاســه ورکــړی خدای(ج)ددوی شهادت قبول او په جنت کې یې ددوی دواړو ځــای غواړو ، او په وروستی برخه کې یې لیکلی وددوی قبرونه د قوماندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت خان په شخصی پیسو جوړ شویدی ،ټولـو راغلـو میلمنـواو دسیمې خلکو دا لیکلی کرښی ولوستلی .

وروسته له څو دقیقو چو پتیا څخه قوماندان حضرت خان را دمخـه شواو دولاړو کسانومخی ته ودریده او داسې یې وویل؟

ګرانو میلمنو او راغلو دسیمې سپین ږیروغواړم یو څولنډی خبـرې وکړم او هغه دا چې تاسو ټو هیـرې چـې زه یـو جګـړه مار،سـړی وژونکې،غل،او قاچاق وړونکـې وم او دا دوه قبرونـه چـې وینـی دا دانجنیر کېصر خان او دده د ماشوم زوی شمشاد قبرونـه دی چـې دوی دواړه زما په امر او قومانده شهیدان شویدی نو زه په خپلو تیرو ټولو عملونو او کارونو پیښمانه یم نو ځکه دا قبرون ما جـوړ کـړه او ښکلی می کړل د ملایانو څخه می اروېدلی چې که هر څوک د خپلو خپلوانو زاړه قبرونه جوړوی نو باید خیرات وکړی نو ما هم دا قبرونه جوړ کړیدی او هغه دی دوه غوایان می راوستی دی چـې دلتـه یـې ددې قبرو د جوړولو په خاطر حـلال کـړم او ددې خیـرات ثوابونـه انجنیر کېصر خان او ددې هدیری ټولو مرده ګانو ته ورسیږی نو پـه دی وخت کې یې په خپلو سړو غږ وکړ او وه یې ویـل چـې غوایـان حلال کړی ، دده سړو د غوایانو په حلالولواو د غوښو په ټوټـه کولـو پیل وکړ .

قوماندان حضرت خان خپلې خبرې داسې پسی اوږدی کړی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو میلمنو او قدرمنو عالمانو بله خبره داده چې مـا مخکــې هــم وویل او تاسوهم خبر یاستی چې انجنیر کېصر خــان او دده وړوکــې زوی زما په امر او قوماندہ مړه شویدی.

نو د انجنیر کېصر خان له مېرمنې شاه پرو ، دهغه د لور شینخالی ، د قاضی صیب میوند ښځه چې د شینخالی مېړه ده هیله کوم چې ماته تر دی ګناه راتیر شی او ماته که څه هم

د بښلو وړ نه یم راته عفوه وکړی او ما وبښی تر څو می زړه په امــان او ډاډه شی.

په دی وخت کې شاه پرو ،شینخالی ،قاضی میونــد،او شمشــاد ددې ځای ښځه لیږ بېرته لاړل او هلته سره کښینا ستل او څه یــې ســره ویل.

او قوماندان حضرت خان خپلې خبرې داسې پســی اوږدی کــړی او داسې یې وویل ، بله خبره داده چې دا دولایت نــه راغلــی میلمانــه ،والی صیب ،دسیمې،کلی او ولسوالی خلکوته به حتمی سوال پیــدا شوی وی چې د اوبو له بنده،روغتون،ښونځی ،جومات دا ټول د یوی کورنی په نوم شول دا څنګه چل دی ؟

نو ورونو زه تاسوته دا ویلای شم چې که ددې کورنی غړی په خاصه توګه همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټر صیب شینخالی درته ښیم که نه وای او زه یې نه وای پو هولی باور وکړی چې په دی هدیره کې لا څه په نورو هدیرو کې به اوس د مړی ځای لا نه وای پیدا شوی او نه به ما د خیر کـارونو تـه لاس ور وړی وای یامی مخه ورته کړی وای.

بیا یې خپله ټوله کیسه دده د مېرمنې له ناروغی چې په اولد ناروغه وه ، بیا خپله دده ناروغی چې ټپی شـوی وه دا ټـولی کیسـی یـې وکولی نو ځکه دا ټول ځایونه ما ددوی په نوم کړل.

او بله خبره داده چې زه دا څو میاشتی کېږی چې د حج د فریضی له ادا کولو وروسته کور او کلی تـه راغلـم او هلتـه یعنـی پـه بیـت ا للهشریفه کې می په اخلاص تـو بـه ایسـتلی ده چـې بیابه،وژنـه، قتل،حرام خوری او قاچاق نکوم نو له تاسو ټولو هیلـه لـرم او هغـه څوک چې دلته نشته هغوی ته هـم تاسـو ووایاسـتی چـې لـه دی وروسته ماته قوماندان حضرت خان

ونه وایاستی له دی وروسته ماته حاجی حضرت خان ووایاستی بس همدغه نوم زما د پـاره افتخـار دی بـس همدغـه زمـا خبـرې وی خدای(ج)د وکړی چې خفه شوی نه یاستی.

په دی وخت کې شاه پرو ،د شینخالی مور را ولاړه شـوه پـه داسـې حال کې چې د خپل مېړه کیصر خان د قبر دسر خواته ودریده او وه یې ویل ګرانو ورونړاو محترمو میلمنو مخکې حاجی صـیب حضـرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان زما د خدای ښبلی مېره کېصر خان د شهادت پـه بـاره کــې د ښښنی خبره یاده کړه او تا سو ولیدل چې زموږ د کورنی ټـول غــړی هلته سره په خبرو شوو

نو زه د خپلې کورنی په نما ینده ګی موږ خپله پریکړه داسې اعلانوو څنګه چې خدای (ج)

په خپل کلام کې ویلی دی چې څومره ثوابونه چې په عفوه کــې دی په غچ اخیستنه کې نشته نو موږ ددې دپاره چــې د انجنیــر کېصــر خان شهادت ته کوم تاوان ونه رسیږی او بل دا چــې حــاجی صــیب حضرت خان په تیرو پښیمانه دی او تو به یې ایســتلی زمــوږ لخــوا ورته عفوه ده عفو.

په دی وخت کې ټولو خوښی وکړه او د ولسوالی د جا مع جومات ملا امام هم شینخالی او ددې د کورنی له غړو څخه مننه وکړه او هــم د سیمې یو سپین ږیری پورته شواو وه یې ویل موږ د ســیمې د والــی صیب څخه هیله کوو چې ډاکټر صیب شینخالی په همدغه روغتون کې قوماندانه مقرره کړی قوماندانه .

د سیمې والی صیب وویل په روغتون کې قومندانی نشته روغتــون قومندانی ته اړتیا نلری ولی ریس ته اړتیالری ریس د روغتون ته ؟

هغه سپین ږیری وویل والی صیب موږ ریس نه پیژنو موږ اوس یوازې او یوازې قوماندان پیژنو قوماندان بیــا چــې تاســو وایاســتی چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان  ته اړتیا نشته نــو بیــا همدغــه ډاکټــره صــیبه دی ددې روغتون ریسه مقرره کړی.

دلته حاجی حضرت خان ولاړ شواو وه یې ویــل وروڼــو او د ســیمې سپین ږیرو ډاکټره صیبه شینخالی چې ددې روغتون ریسه مقــرره شی دومره خدمت نشی کولای په دی وختو کــې ولســی جرګــی او ولایتی شوراګانی جوړیږی ولی ولسی جرګی ته یې نه انتخــابو چــې ټول ولایت ته خدمت وکړی.

د سیمې والی او راغلو میلمنو وویل دادوروسته کار دی بیا بــه ســره کښینو چې ولسی جرګی ته یې کاندید کړو او که دلته پــه روغتــون کې دا کار مشوری ته اړتیا لری .

نور نو دسیمې والی او راغلو میلمنو له حاجی حضرت خان څخه دده د خدمتونو په اړوند مننه وکړه او ددولت د ریس جمهور له خواهغــه ستا ینلیک چې حاجی حضرت خان ته یې رالیږلی وه د والی صــیب لخوا حاجی حضرت خان ته ورکړل شو.

په درنښت

یارمحمد سهار

25. 5. 1384 کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هیواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (نجیب احمدزي او ملګرو ) څخه یې د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هیوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ليکوال لنډه پېژندنه:

انجنير يار محمد سهار د ملا امير محمد سليمانخيل زوی او د اميرخان بابا لمسی په (۱۳۳۳) لمريز کـال د پکتيکا ولايت د جانيخېلو ولسـوالۍ د (هستي ممي) نومي کـلي په يوه منوره او مذهبي کورنۍ کې يــې دنــيا ته سترګې غړولي او د شاتورو د برنس په کلی کې يې خاپوړې کړې دي، پلرنی ټاټوبی يــې د امنو شاتوری دی څنګه چې د نو موړي پلار يو دينی عالم و، کله په يوه سـيمه او کله په بله سيمه او کلي کې ا مامت کاوه او ورسـره يـي دکتـوازو پـه ډېـرو مکتبونو(ښو ونځيو) کې د ښو ونکی دنده هم سرته رسولې ده.

انجنير يارمحمد سهار تر درېيم ټولګي د هستي په د هاتي ښونځي کې زده کړې کړې دي تر نهم ټولګی پورې يې د غزني د کوچيانو په ليليه کــې او لېســه دوره يې د کټوازو د سليمان بابا په لېسه کې او لوړې زده کړې يې د پخواني شــوروي او اوسني روسي د لينينګراد په ښار کې سر ته رسولې دي، د نوموړي دا لانــدی ليکنې چاپ ته چمتو دی:

او مړوخبری کولې(د لنډو کيسو ټولګه)

سو ځېدلی بڼ (د لنډو کيسوټولګه)

د وزی پاټک(طنزی ټو لګه)

نا مطلوب (طنزی ټولګه)

د افغانستان ملي تحريک

www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۷

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library